# مختصر

# نبوي سيرت

## الموجز في السيرة النبوية

النسخة البشتو


ليکوال:

ډاکټر خالد بن حامد بن مبارک الحازمي

د مديني منورې د اسلامي پوهنتون پخوانی ښوونکی

ژباړن:

سعيدالرحمن كل أحمد

د مديني منورې د اسلامي پوهنتون محصل

# مختصر

# نبوي سيرت


**ليکوال:**

**ډاکټر خالد بن حامد بن مبارک الحازمي**

**د مدينې منورې د اسلامي پوهنتون پخوانى ښوونکى**

**ژباړن:**

**سعيدالرحمن كل أحمد**

**د مدينې منورې د اسلامي پوهنتون محصل**

بسم الله الرحمن الرحيم

**قَالَ تَعَالَىٰ:**

﴿لَّقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ ٱللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُوا۟ ٱللَّهَ وَٱلْيَوْمَ ٱلْـَٔاخِرَ
وَذَكَرَ ٱللَّهَ كَثِيرًا ﴿٢١﴾﴾ الأحزاب: ٢١

**يقينًا يقينًا تاسو لپاره په (كار د) رسول الله كې ډېره ښه اقتدا ده، د هغه چا لپاره چې د الله او د وروستنۍ ورځې امېد لري او الله ډېر زيات يادوي.**

# سرليک

الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على نبينا محمد، وعلى آله وصحابته أجمعين.

نبوي سيرت د اسلامي شريعت يوه مهمه عملي سرچينه ګڼل کېږي، ځکه چې پيغمبر ﷺ په هره برخه او هر حالت کې د دې سيرت په عملي کولو کې د الله حکم پوره کړی دی. سيرت د الله د مراد يو ژوندی تفسير دی.

مسلمانې کورنۍ او ماشومان په خپل ماشومتوب کې د تل لپآره سيرت ته اړتيا لري، او دا اړتيا به تر هغه وخته پورې وي ترڅو چې بشريت پر ځمکه ژوند کوي، له همدې امله، دا اړينه ده چې سيرت د ماشومانو د فکري ودې، عمر او پوهې سره سم په يوه مناسبه بڼه او طريقې سره وړاندې شي.

همدارنګه، ماشومان اړتيا لري چې د داسې روزنيزې طريقې له لارې وروزل شي چې هغوی د پيغمبر ﷺ سره د مينې او د هغه د پيروۍ لپاره هڅه وکړي، دا د هغوی د تربيت يوه اساسي اړتيا ده، د نبوي سيرت د مطالعې او تدريس موخه هم دا ده چې ماشومان د دې سيرت له لارې اغېزمن شي او د سيرت مفاهيم په خپل ژوند کې پلي کړي.

په همدې اساس دا کتاب هڅه کوي چې د سيرت د وړاندې کولو او بيانولو له لارې دوه مهم اهداف ترلاسه کړي:

لومړی، د ماشومانو په ذهن کې د صحيح عقيدې او عبادتونو د سموالي اساسات مضبوط کړي؛ او دويم، د هغوی په زړونو کې د الله او د هغه د رسول ﷺ سره ژوره مينه پيدا کړي او د پيغمبرې اخلاقو غوره صفات په ځان کې راپيدا کړي.

دا کتاب والدينو، ښوونکو او نورو روزونکو ته زمينه برابروي چې په خپلو ماشومانو کې د ارزښتونو د پياوړتيا او عملي کولو لپاره فعاله برخه واخلي، لکه څنګه چې د کتاب په حاشيو کې تشريح شوي دي.

نو، ای الله! ما ته د دې نبوي سيرت د ليکلو او وړاندې کولو توان راکړه، داسې چې ستا د رضا او د بندګانو د خير غوښتنې لپاره تر ټولو غوره اهداف پوره کړي. اې الله! دا عمل ستا لپاره خالص کړه، خپلو بندګانو ته په دې سره خير ورسوه، د قيامت تر ورځې پورې يې جاريه صدقه وګرځوه، اې لوی او کريم ربه ته يې په خپل جود او کرم سره قبول کړه.

١٤٣٣/٩/٥ هـ

## لومړی څپرکی

## له پيدايښته تر بعثته

# لومړی څپرکی: له پیدایښته تر بعثته

## د رسول الله ﷺ پیدایښت

### ۱. د رسول الله ﷺ د پیدایښت ځای:

**ښــوونکی:** زموږ پیغمبر محمد ﷺ د مکې د نور ماشــومانو په څير په مکې مکرمې کې زېږېدلی و، او د هغوی په څير يې ژوند کاوه، مگر په هغې د الله ځانگړې پاملرنه وه، لکه څرنگه چې به تاسې په راتلونکې کې د ځمکې پر مخ د غوره ماشـوم په اړه نور ډېر څه په دې ښکلي او په زړه پورې سيرت کې وپيژنئ.

**زده کوونکی:** ښـوونکيه! زه يې د سـيرت ډېر ليواله يم، په بيړه يې موږ ته نور معلومات راکړئ.

**ښــوونکی:** اې زما بچيانو! زه هم ليواله يم چې تاســو ته زموږ د پيغمبر محمد ﷺ د ماشــوموالي په اړه معلومات درکړم، چې ډېرې په زړه پورې برخې لري؛ خو له دې مخکې موږ بايد مکه مکرمه وپيژنو، چېرته چې زموږ پيغمبر زېږېدلی و.

مکه مکرمه يو کوچنی او د کرنې لپاره يو نامناســب کلی و، څنگه چې ابراهيم عليه السـلام ويلي: ﴿رَّبَّنَآ إِنِّيٓ أَسۡكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيۡرِ ذِي زَرۡعٍ عِندَ بَيۡتِكَ ٱلۡمُحَرَّمِ﴾ [إبراهيم: ٣٧].

**ژباړه:** ای زمونږه ربه! ببشکه ما واوسول خپل ځینې بچي په داسې ناو (دره) کې چې د فصل والا نه دی، ستا د عزتمن کور په خوا کې.

خو د الله په فضــل د هر ځای څخه رزق ورته راتلو، خلکو يې تجارت کاوه، چې په اوړې کې به شــام ته تلل او مختلف توکي به يې له ځانه سره راوړل، په ژمي کې به يې يمن ته سـفر کاوه او له هغه ځايه به يې مختلف توکي راوړل، چې په دې ډول د مکې خلکو ژوند کاوه[1].

**زده کوونکی:** ښوونکيه! د حرم په اړه مو خبر کړه؟ آيا هغه وخت حرم موجود و؟

---

(۱) ډېره به ښه وي چې ښوونکی دا موضوع د ژمي او اوړې په سفرونو سره روښانه کړي، چې د قرآن کريم په سورت قريش کې بيان شته.

**ښوونکی:** هو، کعبه په هغه وخت کې موجوده وه، ځکه دا خو ابراهيم عليه السلام جوړه کړې وه. لکه څنګه چې الله فرمايلي دي: ﴿وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَٰهِـۧمُ ٱلْقَوَاعِدَ مِنَ ٱلْبَيْتِ وَإِسْمَٰعِيلُ رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّآ إِنَّكَ أَنتَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ﴾ [البقرة: ١٢٧]

**ژباړه:** او کله چی ابراهیم د بیت الله بنیادونه اوچتول او (ورسره) اسمٰعیل (هم) (دواړو دا دعا کوله) ای زمونږه رَبه! زمونږ نه (دا عمل) قبول کړه، ته چې يې، خاص ته، ښه اورېدونکی، ښه عالم يې.

**زده کوونکی:** آیا هغه وخت خلکو حج کولو، لکه څنګه چې یې اوس وخت کوي؟

**ښوونکی:** ډیر ښه زما بچیانو، خلکو به د کعبې طواف او حج کاوه، ځکه الله ابراهیم علیه السلام ته امر کړی و چې خلکو ته د حج اعلان وکړي، لکه څنګه چې الله فرمایلي دي: ﴿وَأَذِّن فِى ٱلنَّاسِ بِٱلْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالًا وَعَلَىٰ كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِن كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ﴾ [الحج: ٢٧]

**ژباړه:** او ته په خلقو کی د حج اعلان وکړه دوی به تا ته پیدل راشي او په هر خوار ډنګر اوښ باندې چې دغه (اوښان) به راځي له هرې لرې ژورې لارې نه.

[يَأْتُوكَ رِجَالًا] **معنا د حج سره د ډېرې مينې له امله به پلي راځي،** [وَعَلَىٰ كُلِّ ضَامِرٍ] **په او ښانو سپاره به راځي،** [مِن كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ] **د هر لرې ځای څخه به راځي.**

**زده کوونکی:** ډېر څه مو زده کړل، مکه، د هغې تير تاريخ او د ابراهيم عليه السلام، مکې او د حج ترمينځ مو اړیکه وپېژندله.

**ښوونکیه! الله دې تا ته خير نصيب کړي، ليکن زموږ د پيغمبر محمد ﷺ د ماشوموالي په اړه مو خبر کړه، موږ يې د اوريد، ډېره تلوسه لرو[1].**

**ښوونکی:** سمه ده زما بچيانو: ما تاسو ته مخکې يو څه د مکې مکرمې په اړه وويل چې تاسې د هغه ځای تصور وکړئ چېرته چې زموږ پيغمبر او لارښود محمد ﷺ زيږيدلی و.

## ٢. د پيغمبر ﷺ د زيږيدو نېټه:

**ښوونکی:** زموږ پيغمبر محمد ﷺ د فيل کال په دولسم د ربيع الاول، د دوشنبې په ورځ زيږيدلی و.

**زده کوونکی:** استاد، که موږ ته دا ووایاست چې (ربیع الاول) څه معنا لري؟

---

(١) ښوونکي ته اړينه ده چې ددې درس لپاره پوره تياری وکړي، کوم شيان چې زده کوونکي ورته اړتيا لري هغه له ځانه سره راوړي، د مکې حرم پخوانی تصوير راوړي، چې تير حالت يادونه کوي.

**ښوونکی:** ډېر ښه! اې زده کوونکو، ستاسو دا پو ښتنه راښايي چې زما خبرې په غور سره اورئ، دا ستاسو د بيدارۍ او د زده کړې د حرص نښه ده، تاسو ټولو ښه وکړل(۱).

کال دولس میا شتې لري، چې لومړۍ ته يې محرم وايي، بيا صفر، بيا ربيع الاول په کومه کې چې پيغمبر ﷺ زېږېدلی، بيا ربيع الثاني، بيا جماد الاول، بيا جماد الثاني، بيا رجب، بيا شعبان، بيا رمضان، چې د روژې مياشت ده، بيا شوال چې د اختر مياشت ده، بيا ذوالقعده، بيا ذوالحجه، چې خلک په کې حج کوي او مکې مکرمې او مقدسو ځايونو ته ورځي، لکه منی، عرفه، او مزدلفه، او دا د کال وروستۍ مياشت ده، چې هره مياشت بيا ديرش ورځې لري(۲).

**زده کوونکی:** ډېر ښه ښوونکيه! تا موږ ته ډېره فائده راکړه، مګر زما پام (د فيل کال) ته شو. دا څنګه؟ زه پوهه نه شوم.

**ښوونکی:** دا يوه لويه او جالبه کيسه ده چې زه به يې تاسو ته په لنډو ټکو کې ووايم.

د حبشې باد شاه چې (ابرهه) نوميده، په حبشه کې يو ځای درلود چې خلک به ورته لکه د حج په څير ورتلل، ليکن ډېرې خلک به د حج لپاره مکې ته تلل او حبشې ته به نه ورتلل.

نو دا ظالم بادشاه د کعبې د نړولو په فکر کې شو، ترڅو هيڅوک کعبې ته ورنشي، او پرځای يې ټول خلک حبشې ته ولاړ شي.

څنګه چې تاسو پوهېږئ: کعبه د الله تعالی په امر د ابراهيم عليه السلام لخوا جوړه شوې وه؛ نو موږ ورته د الله کور، حرم او کعبه وايو.

نو دې باد شاه يوه ډله فيلان او خلک راټول کړل چې کعبه ونړوي، کله چې دوی کعبې ته نژدې شول. د مکې خلک له دې پوځ او دې فيلانو څخه وډار شول چې په مکه کې فيلان نه وو او د ډېرو خلکو لپاره ناشنا وو، او نه په هغه وخت کې داسې رسنۍ وې چې عکسونه يې خپاره کړي(۳).

---

(۱) مسلم (۲/۸۲۰) رقم (۱۹۸-۱۱۶۲) أكرم ضياء العمري، لسيرة النبوية الصحيحة (۱/۹۶-۹۸).

(۲) ډيره به ښه وي، چې ښوونکی ددې مياشتو لازيات وضاحت وکړي، د پوښتنو په شکل ورته دا مياشت ور زده کړل شي، د کورنۍ وظيفې په شکل نه چې دا کتاب ورباندې ګران تمام نه شي.

(۳) ښوونکی بايد د هغه وخت د خلکو حالت زده کوونکی ته څرګند کړي، چې خلکو دغه د تصويرانو اخيستلو تيکنالوجي نه پيژنده، او نه يې د خپل هيواد ميوې او حيوانات پيژندل، ځکه چې د دوی د يو ځای څخه بل ته نقل کول سخت وو، او ټول دې په اوسني حالت د الله شکر ادا کړي.

زموږ د پیغمبر محمد ﷺ نیکه (عبد المطلب) چې د کعبې خدمت کوونکی و، او د مکې د خلکو مشر و، خلک یې راټول کړل او د دې کار په اړه فکرمند شول. عبدالمطلب وویل: موږ هیڅ نشو کولی، مګر دا کور خپل رب لري هغه به یې ساتنه کوي.

نو الله په خپل ځواک او قدرت سره ډېرې مرغۍ ولیږلې چې د (ابرهه) په پوځ یې کاڼي وغورځول، او دا کاڼي به چې د سري په سر ولګېدل، له شرمګاه به یې ووتل، چې الله هغوی هلاک کړل. الله پاک دا کیسه په (سورة الفیل) کې بیان کړې ده:

﴿أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصْحَٰبِ ٱلْفِيلِ ۝١ أَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ فِى تَضْلِيلٍ ۝٢ وَأَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا أَبَابِيلَ ۝٣ تَرْمِيهِم بِحِجَارَةٍ مِّن سِجِّيلٍ ۝٤ فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّأْكُولٍ﴾ [الفيل: ١-٥]

**ژباړه:** ایا ته نه یې خبر شوی چې ستا رب له فیل والاو سره څنګه کار کړی و؟ ایا د هغوی چل (او مکر) یې په ګمراهۍ او زیان کې نه و ګرځولی؟ او په دوی باندې یې ډلې ډلې مرغان راخوشې کړل، چې دغو (مرغانو) به دوی لره په داسې کاڼو ویشتل چې له خټو نه جوړ، په اور پخ شوي وو؛نو دغه (خلق) یې د خوړل شویو وښو په شان وګرځول.

**زده کوونکی:** سبحان الله العظیم، استاد د الله قدرت ډېر لوی دی.

**ښوونکی:** هو زما بچیانو، د الله قدرت ډېر لوی دی او ستاسو د تصور او فکر نه ډېر لوی دی. وګورئ چې د ظلم او ظالمانو عاقبت څنګه شو، لکه ابرهه او د هغه پوځ. د طمع عاقبت همداسې وي، ابرهه طمع وکړه چې ټول خلک حبشې ته راشي او حال دا چې ابرهه په ناحقه و.

تاسې د الله په مرسته کې غور وکړئ چې څنګه یې د مکې د خلکو سره د دښمن پر وړاندې مرسته وکړه. او عبدالمطلب څنګه د خپل رب نه مرسته وغوښته؛ نو الله یې مرسته وکړه، کله چې یې وویل (د دې کور رب شته چې ساتنه به یې کوي) په خپل رب یې څنګه قوي باور درلوده.

**زده کوونکی:** نو موږ ته پکار دي چې باید کله هم موږ د خپل رب نه دعا غواړو دا عقیده ولرو چې زموږ دعا او غوښتنه به قبلیږي.

**ښوونکی:** هو زما بچیانو، زموږ د عقیدې له مهمو کارونو څخه یو دا ده چې موږ په خپلو زړونو کې دا باور ولرو چې الله زموږ دعا قبلوي، هغه که زموږ غوښتنې پوره شي او که پوره نشي. ددې پر ځای چې موږ د خپل ځان ګټه وپېژنو؛ الله زموږ څخه ښه پوهیږي چې زموږ لپاره څه غوره او ښه دي.

**مورږ ته پکار دي چې په خلکو ظلم ونه کړو، او نه د هغه نعمت طمع وکړو چې دویو ته الله ورکړي، ځکه چې دا به مورږ فساد ته اړ کړي، الله به مورږ ته د ظلم، طغیان او طمعې له امله سزا راکړي.**

**دا دا معنی لري چې مکه او حرم قدر او حرمت لري، باید د آدابو لحاظ یې وساتو، تعظیم او احترام یې وکړو، د خپلو کورنو ښځه زیات د دې د ساتنې اهتمام وکړو[١].**

## د پیغمبر محمد ﷺ نسب:

**ښوونکی: هغه محمد بن عبدالله بن عبدالمطلب بن هاشم بن عبد مناف بن قصي- دی. او مور یې آمنه بنت وهب ده[٢].**

**مور او پلار یې دواړ قریش دي، قریش د نسب له پلوه تر ټولو اشرفه او په ټولو قبیلو کې غوره قبیله ده. په قریشو کې غوره قبیله بیا بنو ها شم دي چې پیغمبر محمد ﷺ هم له دې قبیلې څخه دی.**

**د قریشو نسب اسماعیل بن ابراهیم علیه السلام ته رسیږي، کوم چې د خپل پلار سره د کعبې په جوړولو کې مرسته کړې وه، لکه څنګه چې تاسو ته په تیر شوي درس کې د دې یادونه شوې وه.**

**زده کوونکی: دا د الله تعالی فضل دی چې زمورږ پیغمبر محمد ﷺ یې په شریفه کورنۍ کې پیدا کړی، او هغه یې د پیغمبرانو پلار ابراهیم علیه السلام سره پیوسته کړی دی.**

## د پیغمبر محمد ﷺ یتیم والی:

**ښوونکی: زمورږ پیغمبر محمد ﷺ یتیم زیږیدلی و. ځکه چې د هغه پلار عبدالله هغه وخت وفات شو کله چې هغه دې خپلې مور په ګېډه کې و، خپل پلار یې نه و لیدلی.**

**د عربو پخوانۍ عادت دا و چې خپل ماشومان به یې په باندو کې د شیدې ورکولو لپاره ورکول، ترڅو ماشوم د ښار له ناروغیو څخه لیرې وي، دا ځکه چې د باندو د ژوند د**

---

(١) ښوونکی دې د کعبې د درناوی په اړه ګڼ مثالونه زده کوونکو ته وړاندې کړي، همدارنګه د کعبې د پاک ساتلو او هلته د شته خلکو د احترام اړوند دې هم مثالونه وړاندې کړي، په شیانو اخیستو او خرڅولو کې هیڅ تن ته تکلیف ورنه کړي، او داسې نور مثالونه.

(٢) ابن حجر، فتح الباري (١٤/ ٢٣٠).

سختی له امله د دوی بدنونه پیاوړي شي، او په عملی شکل سره خپله ژبه زده کړي؛ نو حلیمه بنت أبي ذؤیب د شیدو ورکولو لپاره پیغمبر محمد ﷺ واخیست[١].

**زده کوونکی:** ښوونکیه! دا ډېر په زړه پورې ده چې د عربو پخوانی عادتونه وپیژنو، او همدارنګه هغه ځانګړتیاوې وپیژنو چې د باندېو ماشومان یې لري.

**ښوونکی:** هو، زما بچیانو! لکه څنګه چې ښاري ماشومان په ځینو ځانګړتیاو کې د باندېو له ماشومانو مختلف وي، همدارنګه د باندېو ماشومان هم په ځینو ځانګړتیاو کې د ښاري ماشومانو څخه مختلف وي، چاپیریال د انسان په شخصیت اغیز کوي، موږ باید یوازې د چاپیریال د توپیر له امله یو بل کم ونه ګڼو.

**زده کوونکی:** دا ښه خوشبخته ده چې زموږ پیغمبر محمد ﷺ ته یې شیدې ورکړې دي.

**ښوونکی:** ښه او غوره نتیجه مو ترلاسه کړه زما بچیانو! دا ستاسو د پاملرنې او پوهې نښه ده. دې ښځې ته ډېر خیر وررپه برخه شو.

**زده کوونکی:** که موږ ته دا را زده کړئ، ښوونکیه! څکه موږ په تمه یو چې پوه شو څه پیښ شول.

**ښوونکی:** سمه ده، د حلیمې خپل زوی له ډېرې لوږې څخه ژړل، په سینو کې یې دومره شیدې نه وې چې هغه ته بسنه وکړي؛ نو کله چې هغې پیغمبر محمد ﷺ د شیدو ورکولو لپاره واخیست؛ د هغې په سینو کې شیدې ډېرې شوې، چې پیغمبر ﷺ او د حلمیې ماشوم، دواړو ته به یې بسنه کوله.

هغې یو زوړ او کمزوری خر لرلو، کله یې چې پیغمبر ﷺ واخیست، دا سورلی پیاوړې شوه، ګړندی حرکت یې پیل کړ[٢].

**زده کوونکی:** زموږ د پیغمبر محمد ﷺ ماشومتوب بیا ډېر برکتناک و.

**ښوونکی:** بلکل، زما بچیانو! زموږ د پیغمبر محمد ﷺ ماشومتوب د برکتونو او د الله له خوا د ځانګړې پاملرنې څخه ډک و.

---

(١) ابن هشام، السيرة النبوية (١٦٩/١).

(٢) مهدي رزق الله، أحمد، السيرة النبوية في ضوء المصادر الأصلية، ص (١١٥-١١٦)

**نو دا برکت چې حلیمې ته ورکړل شــو، دا د الله په وړاندې د پیغمبر ﷺ دســـتر مقام او منزلت ثبوت او ښـــکاروندی کوي؛ نو باید موږ په خپلو زړونو کې د خپل پیغمبر مقام ستر او محبت یې ډېر کړو.**

**په دې کې دا ثبوت دی چې الله لطیف، خبیر او حکیم دی، چې د خپل محبوب او غوره کړي شخص پالنه کوي، نو باید موږ هغه څه وکړو چې زموږ رب یې خو ښوي، چې ترڅو الله زموږ سره محبت وکړي، ځکه که الله موږ سره محبت وکړي؛ نو هغه به موږ ته خپله ځانګړې پاملرنه او زموږ ساتنه وکړي، د نیکیو توفیق به راکړي او د سمې لارې هدایت به راته وکړي، لکه څنګه چې الله تعالی په حدیث قدسي کې فرمايي:** (ولا يزال عبدي يتقرب إلي بالنوافل حتى أحبه، فإذا أحببته كنت سمعه الذي يسمع به وبصره الذي يبصر به، ويده التي يبطش بها، ورجله التي يمشي بها. ولئن سألني لأعطينه، ولئن استعاذني لأعيذنه)[(۱)].

**ژباړه:** زما بنده تل هڅه کوي چې په نفلونو ما ته ځان رانېږدې کړي، تر دې چې زما ورسره محبت پیدا شي، کله چې زه ورسره محبت وکړم، زه بیا د هغه غوږ شـم چې په کوم هغه اوریدل کوي، زه یـې سـترګه شـم په کوم چې هغه لیدل کوي، زه یـې لاس شم په کوم چې هغه نیول کوي، زه یـې ښپه شم په کوم چې هغه مزل کوي، او که چیرته له ما یو څه وغواړي، زه به یـې ورته هرومرو ورکو. او که ما پورې پناهي ونیســـي؛ نو زه به ورته هرومرو پناهی ورکړم.

**زده کوونکی: دا ډېره په زړه پورې ده! ښـایي څنګه چې حلیمه د یتیم پیغمبر محمد ﷺ پاملرنه وکړه، نو دا برکتونه پرې نازل شول.**

**ښوونکی: ډېر ښه نتیجه موترلاسه کړه زما بچیانو! هو، هغه څوک چې د یتیم ساتنه کوي، د الله تبارک وتعالی په وړاندې لوی مقام لري، پیغمبر ﷺ فرمایلي دي:**
(أنا وكافل اليتيم في الجنة كهاتين، وأشار بأصبعيه، يعني السبابة والوسطى) [(۲)]

ژباړه: زه او دیتیم کفالت کوونکي په جنت کې د شهادت او مینځې ګوتې په څیر سره نږدې یو.

**او دا یو ستر مقام او اجر دی.**

**موږ باید د یتیم سره محبت وکړو، هغه ونازوو، او د هغه سپکاوی ونه کړو، یا یې حیثیت کم ونه ګڼو، ځکه کېدای شي هغه د الله په وړاندې تر ټولو ښه او غوره وي. بلکې باید موږ یې درناوی وکړو، محبت او مرسته ورسره وکړو، او د هغه د خوشالۍ هڅه وکړو.**

---

(۱) ښوونکی ته پکار دی چې د حدیث شرحه په فتح الباری کې وګوري، چې ټولې معناګانې او د حدیث ګټې ورته روښانه شي، چې زده کوونکي یې په اړه پوښتنه وکړي.

(۲) البخاري (۴/۹۲) رقم (۶۰۰۵)، الترمذي (۴/۲۸۳) رقم (۱۹۱۸) واللفظ له.

**زده کوونکی:** ښوونکیه! د هغه مور آمنه بنت وهب په اړه راته یو څه ووایه؟

**ښوونکی:** زموږ پیغمبر خپلې مور آمنه بنت وهب ته ډېر ګران و، ډېره پاملرنه یې ورله کوله؛ خو پیغمبر ﷺ شپږ کلن و، چې مور یې وفات شوه(١).

**زده کوونکی:** سبحان الله العظیم، پاتې ژوند یې بې موره او پلاره تیر کړ.

**ښوونکی:** هو، کله یې چې مور هم وفات شوه، ټول ژوند یې بې موره او پلاره تیر کړ.

په دې کې دلیل دی، زما بچیانو! چې الله تعالی د هر څه مالک او متصرف دی، او هغه په هر څه پوهیږي. سره له دې چې د پیغمبر محمد ﷺ مقام د خپل رب په وړاندې ډېر لوړ دی، خو الله تعالی هغه یتیم کړ د یوه حکمت له مخې چې یوازې الله پرې پوهیږي.

او په دې کې دا دلیل هم دی چې کله الله تعالی بنده ته داسې څه مقدر کړي چې هغه یې نه خوښوي او نه یې غواړي، کېدای شي په دغه کې یې خیر وي او موږ پرې نه پوهیږو، دا د الله د غضب نښه نه ده، بلکې د الله د رحمت نښه کېدای شي؛ ځکه الله تعالی په هغه څه پوهیږي چې موږ پرې نه پوهیږو، هغه پوهیږي چې د بنده لپاره څه غوره او څه ښه دي.

کېدای شي د یتیمۍ ژوند چې الله تعالی د خپل رسول ﷺ لپاره یې اراده کړې وه، په هغې کې د ډېرو کارونو روزنه وي، چې نبوت، رسالت او دعوت کې به ورسره مرسته وکړي.

**زده کوونکی:** زه احساسوم چې زموږ د پیغمبر محمد ﷺ ماشومتوب کې ډېرې عبرتونه، حکمتونه، برکات او د الله له خوا ساتنه او پاملرنه او همدارنګه ازمېښتونه شته. زه پیغمبر ﷺ ډېر زیات خوښوم ښوونکیه!

(١) ابن کثیر، تفسیر القرآن العظیم (۵۵۹/۴).

## د خپل نیکه عبدالمطلب په سرپرستي کې:

**ښوونکی:** وروسته له دې چې د هغه مور وفات شوه، د هغه سرپرستي او پاملرنه یې نیکه عبدالمطلب په غاړه واخیسته.

عبدالمطلب د خپل قوم مشر و، چې د کعبې سیورې ته به د هغه مجلس وو، هیڅ تن به د هغه په مجلس نه کیناست، خپل زامن به یې د مجلس شاوخوا کیناستل، لیکن پیغمبر ﷺ به له خپل نیکه سره په هغه مجلس کیناسته.

الله یې د نیکه عبدالمطلب په زړه کې دې کریم ماشوم محمد ﷺ مینه پیدا کړه؛ نو نیکه به یې ځانګړې پاملرنه کوله، ځان ته به یې نږدې کاوه، حال دا چې هیڅ تن اجازه نه وه چې په هغې ورننوځي[1].

**زده کوونکی:** دا یې د نیکه له اړخه یو کریم محبت دی، چې د خپلو زامنو څخه یې غوره مقام ورکولو، او د خپلو زامنو پرته پر یې په خپل بستر کینوو.

**ښوونکی:** هو همداسې وه، لکه څنګه چې تاسو وویل، خو د نیکه په زړه کې یې دا محبت چا پیدا کړ؟

**زده کوونکی:** الله پاک پیدا کړی و.

**ښوونکی:** هو، الله د هغه د نیکه عبدالمطلب په زړه کې د پیغمبر محبت واچولو، ځکه الله چې څوک خوښ کړي، هغه ته د خیر اسباب برابره وي.

موږ له دې دا زده کوو چې د پیغمبر لپاره د عبدالمطلب سرپرستي د الله په امر وه؛ ځکه الله د هر څه مالک دی، هغه د زړونو او محبت مالک دی، څنګه یې چې وغواړي چلوي یې. که موږ د الله اطاعت وکړو، هغه به موږ سره محبت وکړي، د نیکیو توفیق به راکړي، او د خلکو په زړونو کې به زموږ محبت واچوي. لکه څنګه چې په حدیث کې راغلي: کله چې الله یو بنده سره محبت وکړي، جبریل ته وایي: زه فلاني سره محبت کوم؛ نو ته هم ورسره محبت وکړه، جبریل په ملائکو کې غږ کوي: الله فلاني سره محبت کوي؛ نو تاسې هم ورسره محبت وکړئ، د آسمان اهل یې خوښ کړي، بیا په ځمکه کې خلک هم ورسره محبت وکړي[2].

**زده کوونکی:** دا یو لوی کار دی، چې موږ د الله محبت او د هغه اطاعت کولو ته هڅوي.

---

(۱) ابن هشام، السیرة النبویة (۱/۲۲۳)

(۲) البخاري (۲/۴۲۴) برقم (۳۲۰۹).

## د خپل تره ابو طالب په سرپرستۍ کې:

**ښــوونکی:** د پیغمبر ﷺ د مور له وفات دوه کاله وروســته، چې اته کلن و، نیکه یې عبدالمطلب هم وفات شو، بیا یې تره ابو طالب پالنه او ساتنه په غاړه واخیسته.

**زده کوونکی:** سبحان الله، د پیغمبرﷺ ماشومتوب هم ازمیښت وو.

**ښوونکی:** هو، دا یو ازمیښت دی، خو همدارنګه د الله لطف هم دی؛ او د امت لپاره تعلیم هم دی چې ازمیښت هر وخت کې د الله د غضب نښه نه وي، بلکې د الله له لورې رحمت او حکمت دی چې زموږ د ناپوهۍ او کم علمۍ له امله موږ پرې نه پوهیږو. بلکې د الله پراخه او عظیم علم کې هرڅه راګیر او نغښتي دي.

ښایي په دې ابتلاء کې د پیغمبر ﷺ لپاره داسې روزنه وي چې هغه د دعوت مشکلاتو ته په قوت او پیاوړتیا سره مخامخ شي، تاســو به پوهه شــئ ان شــاءالله چې څنګه د لویو مشکلات سره مخ شو.

**زده کوونکی:** ښــوونکیه! د پیغمبر ﷺ د تره پالنه څنګه وه؟ ښــایي دا به هم د هغه د نیکه عبدالمطلب په شان وه.

**ښــوونکی:** هو، پالنه یې د مینې، پاملرنې او اهتمام څخه ډکه وه، تره یې ابو طالب هغه سره زیاته مینه لرله.

ابو طالب به له محمد ﷺ پرته نه ویده کېدو او نه به بیرون وتو، نوموړي ته به یې ځانګړی خواړه ورکول، خوراک به نه کولو تر څو چې محمد ﷺ به حاضر شوی نه و، تل به یې ورله پاملرنه او ساتنه کوله[1].

**زده کوونکی:** ډیره په زړه پورې ده، دا یوه مینه ناکه او یو له بل سره مرســته کوونکې کورنۍ ده.

**ښــوونکی:** هو، دا یوه غوره کورنۍ وه، ځکه الله خپل پیغمبر د عربو د عزتمندې کورنۍ څخه غوره کړ، موږ هم باید خپلو کې هم مینه ناکې کورنۍ واوسـو، یو بل ته د مرسـتې لاس ورکړو، لکه څنګه چې زموږ ته زموږ دین ښوونه کړې ده[2].

---

(۱) ابن سعد، الطبقات الكبرى (۱/۱۱۹-۱۲۰).

(۲) دې ځای باید ښوونکی د یوبل سره د مرستې، کورنۍ همدردۍ او بیا د ټولنیزو مرستو بیان وکړي، او زده کوونکو ته دې ددې اغیز په ټولنه، کورنۍ او فرد څه دی، څرګند کړي.

## عملي ژوند:

**ښـــوونکی:** د وخت په تېرېدو، او د خپل تره ابو طالب د پلرنۍ پاملرنې لاندې يو فعال ځوان رالوی شو، د کار خوښوو ځوانانو په څېر يې کار کول خوښوول.

د مکې د خلکو د پســـونو څرولو يې پيل کړل، چې په بدل کې به يې له خلکو پيســـې اخيستې، څنګه يې چې فرمايلي دي: "الله هيڅ داسې پيغمبر نه دی رالېږلی چې هغه د شپني نه وي کړي. اصـحابو وويل: آيا تا هم شــپني کړې؟ هغه ﷺ وويل: هو، ما به د مکې خلکو ته د قراريط په بدل کې پسونه څرول[١].

**زده کوونکی:** سبحان الله! ټول پيغمبرانود پسونو شپني کړې ده.

**ښوونکی:** داسې ښکاري چې تاسې به د دې د حکمت په اړه حيران ياست؟ زه به يې ان شاء الله تاسو ته ووايم.

پسونه په طبيعت کې ښايسته ځانګړتياوې لري، مينه کوونکي او آرام څاروي دي، اړتيا لري چې يو څوک يې په حکمت سره د رهبري کړي، د څر لپاره ورته اړين ځای غوره کړي، چې هلته خوراک او څښـــاک وکړي، د داړمارو حيواناتو د خوارک او زيان رســـولو څخه يې وژغوري.

پيغمبر هم اړ دی چې څنګه د خپل وګړي د د ښمنانو څخه و ساتي، سمې او منا سبې لارې ورته وټاکي چې په دنيا او اخرت دواړو کې ګټه ورکړي، او له هغه شـــيانو يې منع کړي چې د دوی بدن، ژوند او آخرت ته زيان رســـوي، او په دې وپوهيږي چې څرنګه د خپلې ټولنې يوالی وســـاتي، لکه څرنګه چې شـــپونکی تيت شـــوې څاروي يا په خوراک اخته د خپلې رمې سره رايوځای کوي.

ددې لپاره چې هر پيغمبر له پســـونو څرولو دا ګټې او يا نورې زده کوي ترڅو خپل قوم او خلک په حکمت سره وساتي.

**زده کوونکی:** په هر څه کې د الله د حکمت کمال څرګنديږي، بلکې زموږ د ناپوهۍ له امله يې موږ نه پيژنو او نه پرې پوهيږو، ښـــوونکيه! تاســـو خو زموږ ذهنونه په نبوي سيرت روښانه کړل.

**ښوونکی:** د دې کار ترسره کول موږ ته د پيغمبر ﷺ تواضع راښايي. هغه داسې ونه وويل: "زه دا کار نه کوم، بل کار کول غواړم."

---

(١) البخاري (٢/١٣٠) برقم (٢٢٦٢).

**دا موږ ته دا رازده کوي چې عاجزي غوره کړو او کوم کار چې الله موږ ته مقدر کړی وي هغه وکړو.**

**بل کار چې زموږ پیغمبر کړی، هغه تجارت و. پیغمبر ﷺ د خلکو په مینځ کې په امانت او صداقت شهرت درلود، هیڅ وخت یې د چا سره خیانت نه کاوه، او نه به یې دروغ ویل چې هر څنګه سخت حالت به ورباندې راغی.**

**یوه میرمن وه چې خدیجه بنت خویلد نومیده، ستر تجارت یې درلود، د باروي خلکو به یې غو ښتل چې د هغه په مال کې تجارت وکړي، نوموړې پیغمبر ﷺ ته پیغام ولیږه چې د زما تجارتي مال سره سره د خپل غلامه شام ته لاړ شه، او د نورو تاجرانو په پرتله به ښه مزد درکړم، دا د پیغمبر ﷺ د امانت، اخلاص او صداقت له امله(١).**

**پیغمبر ﷺ د خدیجې رضي الله عنها غوښتنه ومنله، او د هغې غلام میسرة په ملګرتیا کې د تجارت لپاره ووتو.**

**زده کوونکی: ښوونکیه! له دې خو ما دا زده کړل چې امانت او صداقت په تجارت کې ډیر مهم دي.**

**ښوونکی: ډیر ښه زما بچیانو! خدیجه بنت خویلد چې د پیغمبر ﷺ څخه غوښتنه وکړه چې زما د تجارتي مال سره لاړ شه دا ځکه چې هغه صادق او امین و.**

**کله چې موږ هم دغه صفتونه ځان کې پیدا کړو، الله پاک او عام خلک به زموږ سره محبت کوي، په خپل ژوند کې به بریالي یو، د کار او کامیابی لارې به راته برابریږي، موږ ته پکار دي چې موږ په هرشي صادق او امین پاتې شو.**

## د پیغمبر ﷺ واده:

**ښوونکی: تاسو پوهه شوی چې پیغمبر ﷺ د خدیجې د تجارتي مال سره ولاړ، او هغه یو هغه امین او صادق انسان و. دا ددې لامل شو چې خدیجې رضی الله عنها د پیغمبر ﷺ څخه وغوښتل چې د هغې سره واده وکړي(٢).**

---

(١) ابن هشام، السيرة النبوية (١٩٩/١).

(٢) ابن حجر، فتح الباري (١٣٤/٧).

**زده کوونکی:** ښوونکیه! آیا کولی شې چې موږ ته د خدیجې رضی الله عنها صفات بیان کړئ؟ آیا د هغې اخلاق هم د پیغمبر ﷺ د اخلاقو په څیر لوړ وه؟

**ښوونکی:** دا ډیره ښه او عالی پو ښتنه ده، خدیجه رضی الله عنها یو مهربانه او کریمه ښځه وه، خپل قوم کې په طاهره په پاکې ښځې یادیده، ځکه هغه ښه صفتونه لکه وفا، صداقت او امانت درلودل، چې یې شتمنه او هوښیاره هم وه.

پیغمبر ﷺ د پنځه ویشت کلو په عمر کې وو چې واده یې ورسره وکړ، او دا یې لومړنۍ ښځه وه. او د پیغمبر ﷺ زامن او لوڼې هم له دې څخه وو:

قاسم، پیغمبر به د قاسم په کنیې سره یادیده، خلکو به ورته یا أبا القاسم ویلو.

زینب: د پیغمبر ﷺ ترټولو مشره لور وه، چې د ترور زوی ابو العاص بن الربیع سره یې واده شوی و.

رقیه: د عثمان بن عفان رضي الله عنه ښځه وه.

أم کلثوم: د رقیه د وفات څخه وروسته عثمان رضي الله عنه په نکاح کړه.

فاطمه: علي رضي الله عنه ښځه وه.

عبدالله: چې طیب او طاهر په لقب سره یادیده، په کوچني والي کې وفات شو[١].

## حلف الفضول:

**ښوونکی:** څرنګه چې ظلم د خلکو په منځ کې واقع کیږي، او بیا خاص د جاهلیت په دور کې، دا ځکه چې په خلکو کې ناپوهي عامه او خپره وه. د قریشــو ځینې قومونه په یوه تړون سره راټول شول چې حلف الفضول په نوم یې یاد کړ.

په دې کې یې دا موافقه وکړه چې په مکه کې به هیڅ مظلوم، که هغه د مکې او سیدونکی وي او که بل څوک چې مکې ته داخل شــوی وي، د ظالم په وړاندې یوازې نه پریږدي تر هغې به یې مرسته کوي چې حق ورته واخلي، او ظلم ترې ختم کړي. پیغمبر ﷺ پخپله په دې تړون کې ګډون کړی و.

**زده کوونکی:** دا خو یو ډېر ښه تړون و، چې د کمزوري سره مرسته وشي.

(١) ابن هشام، السيرة النبوية (٢٠٢/١) ابن سعد، الطبقات الكبرى (١٩/٨-٣٩).

**ښـــوونکی:** هو، دا په باطل د حق برى و، پيغمبر ﷺ به خپلو ملګرو د پيغمبر کيدو وروسته هم ياداوه، چې هغه په کې ګډون کړى و، په دغه تړون کې ګډون ورته له قيمتى سرو اوښانو څخه هم غوره و، که چيرې په اسلام کې ترې هم غوښتنه شوى وى؛ نو هغه به ورسره منلى وى، ځکه چې هغه ظلم او ظالمان نه خوښـــول، او نه يې په هيڅ تن ظلم کولو، په حديث کې دي چې پيغمبر ﷺ داسې وفرمايل:

زه هغه تړون کې د عبد الله بن جدعان په کور کې شـوى و، حاضـر شـوى وم، دغه تړون ما ته د قيمتي سـرو اوښانو د راکړي څخه خوښ و، که چيرته په اسلام کې په داسې تړون کې د ګډون غوښتنه وشي، زه به ورته حاضر شم[1].

**نو موږ بايد ظلم خوښ نه کړو، بلکې بد يې وګڼو، په هيڅ تن ظلم ونه کړو، که هغه زموږ ملګري، خپلوان او يا نور څوک وي، چې د ظلم کولو اجازه ورنکړو، د مظلوم سره ودرېږو، تر هغې ورسره مرســته وکړو، چې خپل حق ترلاســه کړي، ظلم الله حرام کړى دى، او په هغې سزا ورکوي. په قدسي حديث کې راغلي دي:**

اې زما بندګانو! ما پخپل ځان ظلم حرام کړى دى، او په تاســو مې هم حرام ګرځولى؛ نو پر يو بل ظلم مه کوئ.

**زده کوونکی:** دا لوړ اخلاق دي، بايد چې موږ پخپل ځان کې راپيدا کړو، خو په حديث کې راغلي (حمر النعم)، دا څه معنا لري؟

**ښوونکی:** حمر النعم نه مراد د اوښانو غوره او کره ډولونه دي.

## د کعبې جوړول:

**ښوونکی:** اې زما بچيانو! د کعبې د جوړيدو تاريخ پيژنئ؟

**زده کوونکی:** ښوونکيه! ډير لږ پرې پوهيږو، هغه هم چې څه مو مخکې زده کړي.

**ښوونکی:** څرنګه چې مو مخکې وويل چې د لومړي ځل لپاره کعبه د الله په امر ابراهيم عليه السلام جوړه کړه، چې زوى يې اسماعيل عليه السلام ورسره هم مرسته کوله، لکه الله چې فرمايلي دي: ﴿وَإِذۡ يَرۡفَعُ إِبۡرَٰهِـۧمُ ٱلۡقَوَاعِدَ مِنَ ٱلۡبَيۡتِ وَإِسۡمَٰعِيلُ رَبَّنَا تَقَبَّلۡ مِنَّآۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ۝١٢٧﴾ [البقرة: ۱۲۷-۱۲۸]

---

(۱) ابن هشام، السيرة النبوية (۱/۱۴۱-۱۴۲).

**ژباړه:** او کله چې ابراهيم د بيت الله بنيادونه اوچتول او (ورسره) اسمٰعيل (هم) (دواړو دا دعا کوله) ای زمونږه ربه! زمونږ نه (دا عمل) قبول کړه، ته چې يې، خاص ته، ښه اوريدونکی، ښه عالم يې.

**د کلونو او ورځو په تيريدو سره د کعبې ابادی ويجاړه شوه. قريش د کعبې د بيرته جوړولو پريکړه وکړه، په دغه وخت کې د پيغمبر ﷺ عمر ٣٥ کاله و[١].**

**کله چې دوی د حجر اسود د کيښودو ځای ته ور سيدل، په خپلو کې سره وران شول چې تيزه په خپل ځای کې څوک کيږدي، هر تن دا کوښښ کولو چې دا عزت ورته ميلاو شي.**

**زده کوونکی: دويو خو بيا د کعبې عزت کاوه او د هغې ارزښت يې پيژندلو.**

**ښوونکی: هو، دوی د کعبې عزت کاوه، د کعبې د بيا جوړول او د حجر اسود په کيښودلو خپلو کې ورانيدل، د دوی د اهتمام دليل دی، چې دوی په جاهليت کې هم د کعبې عزت ساتلو؛ نو موږ خو له هغوی ډير حقدار يو چې درناوی او عزت ورته وساتو، پيغمبر، صحابو او ټولو مسلمانان ورته درناوی لري، د الله په وړاندې يې درناوی دا دی چې د ابرهه حبشي لښکرې يې تباه کړې چې کله يې د کعبې د نړولو هوډ وکړ.**

**زده کوونکی: ښوونکيه! کله چې د حجر اسود په کيښودلو سره وران شول، بيا يې څه وکړل؟**

**ښوونکی: دوی خپلو کې وويل چې د دغه (الفج) غښې لارې څخه څوک کعبې ته لومړی داخل شو، هغه به زموږ ترمينځ پريکړه کوي، هماغه وو چې محمد ﷺ را داخل شو، ټولو وويل: امين انسان راغی، غوښتنه يې ترې وکړه چې زموږ ترمينځ پريکړه وکړه.**

**پيغمبر ﷺ حجر اسود په يو ځادر کې واچولوه، بيا يې ټول مشران راوغوښتل چې د ځادر اړخونه ونيسئ ټولو تيږه په شريکه پورته کړه، پيغمبر ﷺ بيا په خپل ځای کې کيښوده[٢].**

**زده کوونکی: ښوونکيه! د "الفج" څه معنا ده؟**

**ښوونکی: الفج پراخه او غښې لارې ته وايي.**

**زده کوونکی: ښوونکيه! پيغمبر ﷺ خورا حکيم او بريالی انسان و.**

---

(١) ابن هشام، السيرة النبوية (١/٢٤-٢٥).

(٢) أحمد، المسند (٣/٤٢٥).

**ښـوونکی:** هو، هغه حکیم او د الله لخوا بریالی و، څنگه الله ورته د ښـکلی فکر توفیق وکړو چې ټول یې سره رایوځای کړل.

**زده کوونکی:** ښوونکیه! دوی محمد ﷺ ته امین وویل چې امین راغی، ولې یې پیغمبر ته امین ویلو؟

**ښـوونکی:** ښـه پوښـتنه ده، اې بریالي زده کوونکو! دا قوي پوښـتنه په دې دلالت چې د خپل پیغمبر سیرت تعقیبوئ.

زموږ پیغمبر محمد ﷺ په خپل ټول قوم کې په امین پیژندل کیدو، او امین به یې یادوه، هغه یې په دروغو او بداخلاقی نه پیژندلو، بلکې په ټولو ښـه اخلاقو سـمبال و. موږ هم باید په اخلاقو او امانت کې د هغه په شـان شـو، چې الله او انسـانان موږ سره محبت وکړي، بېشکه الله ښه اخلاق خوښوي[1].

---

(١) ښوونکی دې په ورځني ژوند کې د امانت ځینې مثالونه زده کوونکو ته وړاندې کړي.

# دویم څپرکی

# له بعثته تر هجرته

# دويم څپرکی: له بعثته تر هجرته

## نبوي بعثت:

**زده کوونکی:** ښوونکيه! د نبوي بعثت څه معنا ده؟

**ښــوونکی:** کله چې اللهوغواړي چې په خپلو بندگانو کې يو څوک د پيغمبري لپاره غوره کړي، بيا ورته وحي کوي. د وحي معنا دا ده چې الله خپل پيغمبر ته يو فرښــته اســتوي، چې د الله حکم او امر څخه يې خبر کړي[1]. لکه زموږ پيغمبر محمد ﷺ ته به چې جبريل عليه السلام راتلو او د الله امر به يې ورته ر ساوه، او يا الله له پيغمبر سره پرته له دې چې خپل رب ووينې، خبرې کوي، لکه موسی عليه الســلام چې الله ورسره خبرې کړې وې. الله فرمايلي دي: ﴿وَرُسُلًا قَدْ قَصَصْنَاهُمْ عَلَيْكَ مِن قَبْلُ وَرُسُلًا لَّمْ نَقْصُصْهُمْ عَلَيْكَ ۚ وَكَلَّمَ اللَّهُ مُوسَىٰ تَكْلِيمًا﴾ [النساء: ۱٦٤].

**ژباړه:** او (مونږ لېږلي وو) ډېر رسـولان، چې يقينًا د هغوی احوال مونږ تا ته له دې نه مخکې بيان کړی دی او (نور) رســولان چې د هغوی احوال مونږ تا ته نه دي بيان کړي او الله له موســی ســره خبرې کړې دي، واضحې خبرې.

کله چې الله يو بنده غوره کړي او وحي ورته وکړي؛ نو هغه پيغمبر شــول. زموږ پيغمبر محمد ﷺ ته چې کله جبريل وحي راوړه؛ نو هغه رســول شـــو. دې ته نبوي بعثت ويل کيږي، يعنې الله هغه د رسـالت لپاره واسـتاوه او پيغمبر شـو. آيا تاسـو د نبوي بعثت په معنا پوهه شوئ؟

**زده کوونکی:** هو، موږ د نبوي بعثت په معنا پوهه شــو. مگر جبريل څنگه زموږ پيغمبر محمد ﷺ ته راغی؟

**ښــوونکی:** د ځواب وړاندې زه تاســو ته دا خبره کوم چې محمد ﷺ مخکې له دې چې جبريل ورته راشي، پيغمبر نه و. نبوت يې د وحي په نزول سره پيل شو. زه يې تاسـو ته تفصيل وړاندې کوم.

مخکې له دې چې وحي نازله شي، ځينې مقدمات يې وې. پيغمبر ﷺ د پيغمبر کيدو نه مخکې چې به کوم خوب وليدو هغه به يې رېښتيا کيده، بيا يې يوازېتوب سره مينه پيدا شـوه، د خلکو څخه لرې يوازې ناسـته به يې خوښـوله، د حرا غار ته به تللو او هلته به

---

(۱) که زده کوونکي زيات وضاحت ته اړتيا درلوده، ښوونکی بايد زيات وضاحت ورکړي.

يې يو څو شپې د الله عبادت کاوه، بيا به خپل کور ته راغلی، بيرته به يې توښه د ځانه سره واخيسته بيا به حرا غار ته لاړو[١].

کله چې د پيغمبر ﷺ عمر څلويښت کاله شو، وحي ورته نازله شوه، جبريل عليه السلام ورته راغی.

**زده کوونکی:** حرا غار چېرته دی؟

**ښوونکی:** د مکې مکرمې ختيځ کې يو غر دی چې حرا نوميږي؛ د غر په سر کې يو لوی غار دی چې حرا غار نوميږي. دا له مکه مکرمې څخه لرې دی، ځکه چې هغه وخت کې د خلکو شمېر ډېر لږ و؛ خو نن ورځ د خلکو د زياتوالي له امله شاوخوا کورونه دي.

**زده کوونکی:** جبريل عليه السلام زموږ پيغمبر محمد ﷺ ته څه وويل؟

**ښوونکی:** جبريل عليه السلام زموږ پيغمبر محمد ﷺ ته وويل:"ولوله." پيغمبر ﷺ وويل:"زه لوستل نشم کولی" ځکه چې پيغمبر ﷺ امي و، يعنې لوستل او يې ليکل يې نشو کولی.

پيغمبر ﷺ د دې پيښې په اړه وايي: "هغه زه راونيولم او ځان سره يې راجوښت کړم او زور يې راکړ تر دې چې زما ساه بنده شوه، بيا يې پرېښودم، بيا يې راته وويل: "ولوله." ما وويل: "زه لوستل نشم کولی." هغه زه په دويم ځل بيا ونيولم، او ځان ته يې راجوښت کړم او زور يې راکړ تر دې چې زما سابه بنده شوه، بيا يې پرېښودم. بيا يې وويل: "ولوله." ما وويل: "زه لوستل نشم کولی." هغه زه په دريم ځل بيا ونيولم، ښه زور يې راکړ، بيا يې پرېښودم، او داسې يې وويل:

﴿ٱقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلَّذِي خَلَقَ ١ خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِنۡ عَلَقٍ ٢ ٱقۡرَأۡ وَرَبُّكَ ٱلۡأَكۡرَمُ﴾ [العلق: ١-٣]

**ژباړه:** ته د خپل هغه رب په نامه سره ولوله چې پيدا کړی يی دی (ټول)، ده انسان له پرنې (ټوټې) وينې نه پيدا کړی دی، ته لله، په داسې حال کې چې ستار رب تر ټولو لوی کريم دی.

دا د وحي پيل و.

**زده کوونکی:** دا يو ا سانه حالت نه وو. آيا ر سول الله ﷺ په دغه وخت کې وويريد؟ نو بيا يې څه وکړل؟

---

(١) البخاري (١/١٤-١٥) د حديث شمېره ده (٣).

**ښوونکی:** هو، رسـول الله ﷺ وویرید، لکه څنګه چې په حدیث کې راغلي: "رسـول الله ﷺ کور ته راغی، زړه یې لړز بده. خدیجې رضي الله عنها ته ورغی، ورته یې و یل: زملونی، زملوني، ما پټ کړئ، ما پټ کړئ، هغوی هغه پټ کړ، تر هغه چې ویره یې له منځه ولاړه."

**زده کوونکی:** د "زملوني" څه معنا ده؟

**ښـوونکی:** د "زملوني" معنا دا ده چې په ما کمبل واچوئ، ما پټ کړئ. تردې چې ویره یې له منځه ولاړه. کوم څه چې ورسره پېښ شـول، هغه یې خدیجې رضـی الله عنها ته بیان کړل، ویل یې: په خپل ځان ویریږم.

دا ښـایي چې وحي او هغه کار چې الله یې خپل پیغمبر محمد ﷺ ته سـپاري، اسـانه نه دی، بلکې دا یو لوی او سـتر اجر لرونکی کار دی. ځکه کله چې الله چې موږ ته د یو کار کولو امر کوي او موږ هغه په خوښۍ سره سرته ورسوو؛ نو الله موږ ته لوی اجر او ثواب راکوي. له همدې امله باید موږ د دې لوی دین سره مینه ولرو او په ښـــه توګه یې عملي کړو.

**زده کوونکی:** جزاک الله خیر، ښـــوونکیه! خدیجې رضي الله عنها پیغمبر ﷺ ته څه وویل؟

**ښوونکی:** خدیجه رضی الله عنها یوه عقلمنده او هوښیاره ښځه وه. هغې خپل خاوند ښه پېژانده چې هغه یو کریم، صالح، صادق او امین سړی دی. څوک چې داسې خویونه ولري، الله به ورته هیڅکله شر نه راولي، بلکې الله به هغه ته لوی او ډېر خیر ورکوي. خدیجې خپل خاوند، رسـول الله ﷺ ته وویل: "نه، په الله قسـم چې الله به تا هیڅکله نه بې عزته کوي، ته د خپلوانو سره اړیکې پالې، د ضعیفانو مرسته کوې، فقیرانو ته کار پیدا کوې، د مېلمنو درناوی کوې، په خلکو د راغلې مشـــکلاتو په لرې کولو کې مرســـته کوې[1]."

**زده کوونکی:** دا د پیغمبر ﷺ ډېرې ښه صفات دي، خو په ځېنو یې زه پوهه نشوم؟

**ښوونکی:** هو، دا ښه صفتونه دي، دا د اخلاقو غوره صفات دي، څوک چې داسې صفتونه ولري، الله به خامخا ورته عزت او لوی خیر ورکوي.

(١) المرجع السابق.

د "إنك لتصـــل الرحم" معنا دا ده چې ته له خپلوانو سره خپلوي پالې، د هغو ته يو څه ورکوې، ملاقات يې کوي، او مرســـته ورسره کوي. د "وتحمل الکل" معنا دا ده چې ته هغه چا سره مر سته کوې چې د بل د مر ستې پرته کار نشې کولی. د "وتکسب المعدوم" معنا دا ده چې ته فقيرانو ته ګټه رسـوې، مرســته ورسره کوې، او خلکو ته هغه څه ورکوی چې له بل چا سره يې نه شي موندلی. د "وتقري الضـــيف" معنا دا ده چې ته د مېلمنو ښـــه درناوی کوې، خوراک ورکوي او ښه چلند ورسره کوې. د "و تعين على نوائب الحق" معنا دا ده چې ته په هر ښه کار کې او د هر اړمند سره مرسته کوې. دا يوه جمله يېې پورته ټول ذکر شوو صفاتو ته شامله ده.

**زده کوونکی:** د ام المؤمنين خديجې رضـــى الله عنها دې خبرو به پيغمبر ﷺ ته ډېره ډاډګيرنه ورکړي وي؟

**ښوونکی:** هو، بلکل، ځکه کله چې د خير ښيګڼې والا انسان ته خير ورسيږی، بيا د داسې څه سره مخ شي، چې ويره ورته پيدا شي، بيا د خير چې کوم صفتونه لري، هغه رايادوي؛ نو نفس يې مطمئن کيږي او زړه يې آراميږي. الله د ښـــه کار بدله د هغې نه په غوره او ښه سره ورکوي،

خديجې رضي الله عنها د پيغمبر ﷺ سره د خپل تره زوی ورقة بن نوفل ته لاړه، هغه يو ديندار او بوډا سړی و، چې ړوند شوی و. د پيغمبر ﷺ سره چې څه واقع شوي و، هغه يې ورته بيان کړل. ورقة بن نوفل وويل: "دا هغه ناموس دی چې الله پر موسى عليه الســـلام نازل کړی و. د ناموس معنا ده د راز ســـاتونکی." يعني دا چې تا ته راغلی، دا هغه د راز ساتونکې فرښته ده چې موسى عليه السلام ته راغلې وه.

نو پيغمبر ﷺ ته څرګنده شـــوه چې دا فرښـــته جبريل عليه الســـلام و، الله ددې لپاره راليږلې چې هغه پيغمبر او رسول وي.

**زده کوونکی:** جبريل عليه السلام بيا څه شو؟ ايا هغه د بل ځل لپاره زموږ پيغمبر محمد ﷺ ته راغی؟

**ښوونکی:** هو، له دې ورو سته په پيغمبر ﷺ پرله پسې توګه د وحې نازليدل پيل شول. ډېر وخت تير شـوی نه و، چې جبريل عليه الســـلام بيرته راغی، وحې يې ورته راوړه، د آيتونه نازل شول: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمُدَّثِّرُ ① قُمۡ فَأَنذِرۡ﴾ [المدثر: ١-٢]

**ژباړه:** ای په جامه کې نغښتونکيه! ته پورته شه، نو (خلق) وويروه.

**زده کوونکی:** ښوونکيه! پيغمبر ﷺ نه لو ستل کولی شو او نه ليکل، نو کومه وحې چې به جبريل عليه السلام راوړ هغه به يې څرنگه يادوله؟

**ښوونکی:** ډېر ښه چې تا سې د خپل گران پيغمبر ﷺ چې تا سې ورسره مينه کوي، په اړه ډېرې دقيقې پوښتنې کوئ.

**زده کوونکی:** هو، موږ هغه ډېر، ډير خوښوو، ان له خپلو ځانونو نه هم زيات خوښوو.

**ښوونکی:** کله به چې پر پيغمبر ﷺ وحی نازله شوه، خپلې شونډې به يې خوځولې، غوښتل به يې چې دا ياد کړي، دا ځکه چې د د الله کلام دی، او ژر يادولو کوښښ به يې کاوه. الله حکيم ذات دی په هر څه قادر دی، او کله چې څه وغواړي؛ نو هغسې کيږي.

الله خپل پيغمبر محمد ﷺ ته امر وکړ چې د وحې په يادولو کې ځان مه تکليفوه، بلکې الله به يې ستا په زړه کې واچوي، چې د پيغمبر ﷺ په زړه کې محفوظه شي. الله پاک فرمايلي دي: ﴿لَا تُحَرِّكۡ بِهِۦ لِسَانَكَ لِتَعۡجَلَ بِهِۦٓ ١٦ إِنَّ عَلَيۡنَا جَمۡعَهُۥ وَقُرۡءَانَهُۥ﴾ [القيامة: ١٦-١٧]

**ژباړه:** (ای نبی!) ته خيله ژبه په دی (قرآن) سره مه خوځوه، د دې لپاره چې ته دا په تُندی سره حاصل کړې، بېشکه پر موږ باندې د ده جمع کول او د ده لوستل دي.

يعني موږ به يې ستا په زړه کې راټوله کړو او ته به يې ولولې. نو پر پيغمبر ﷺ يوازې اوريدل لازم و.

الله فرمايلي دي: ﴿فَإِذَا قَرَأۡنَٰهُ فَٱتَّبِعۡ قُرۡءَانَهُۥ ١٨ ثُمَّ إِنَّ عَلَيۡنَا بَيَانَهُۥ﴾ [القيامة: ١٨-١٩]

**ژباړه:** نو کله چې موږ دی [وحې] ولولو، نو ته د ده د لوستلو پيروي کوه، بيا يقينًا زموږ په ذمه د ده بيانول دي.

يعني چپ شه او غوږ ورته ونيسه. کله به چې جبريل عليه السالم ورته راغی، هغې ته به غوږ شو. چې جبريل عليه السلام به لاړ؛ نو پيغمبر ﷺ به هغه وحې داسې لو ستله، څرنگه به چې ورته جبريل لوستې وه. او د پيغمبر ﷺ په زړه کې به محفوظه شوه.

**زده کوونکی:** الله پاک څومره لوی او د کرم والا ذات دی، جبريل عليه السلام به چې وحې ولوسته، الله پاک به د پيغمبر ﷺ په زړه کې محفوظه کړه.

**ښوونکی:** هو، الله لوی، کريم او پر هر څه قادر ذات دی. کله هم چې موږ وغواړو قرآن کريم يا بل هر علم ياد کړو، بايد له الله څخه مرسته وغواړو او دعا وکړو چې موږ سره په يادولو او پوهيدو کې مرسته وکړي، نو که الله مرسته راسره وکړه، هر څه به را باندې اسانه شي. موږ بايد په هر کار کې له الله څخه مرسته وغواړو، که هغه

برياليتوب وي، د ناروغيو څخه شفا وي، او که داسې نور څه وي، او که مور څه ته اړتيا ولرو، الله نه دعا وغواړو چې زمونږ حاجتونه پوره کړي، ځکه الله پر هر څه قادر دی.

## د دعوت لومړی پړاو (مرحله):

**ښــوونکی:** د پيغمبر ﷺ خلکو ته د دعوت ګڼ پړاوونه درلودل: لومړی يې خپلو نږدې خپلوانو ته دعوت ورکړ، بيا يې خپل قوم ته، او بيا يې ټولو خلکو ته دعوت ورکول پيل کړل.

**زده کوونکی:** ښوونکيه! ولې د پيغمبر ﷺ خلکو ته د دعوت ګڼ پړاوونه درلودل.

**ښوونکی:** ډېره ښه پو ښتنه ده! دعوت ګڼ پړاوونو ځکه درلودل چې دا کار يوازې خلکو ته په بيان کولو نه پوره کيدو. ځينې خلک ممکن د خپلې ناپوهۍ ، يا تکبر، يا حســد، يا نورو دلايلو له امله مخالفت وکړي، نو د پيغمبر ﷺ لپاره به ډېر مخالفتونه رامنځته شي. د مکې د خلکو لپاره دا کار نوی و؛ نو بايد دعوت په ګڼو پړاونو سره پېل شي: يو پړاو بيا بل، تر څو بريا ترلاسه شي.

**زده کوونکی:** ډېر ښه، کارونه بايد په ګڼو پړاوونو سره ترسره شي.

**ښوونکی:** هو! تاسو په مکتب کې د لومړي ټولګي پړاو تېروئ، بيا به دويم ټولګی، بيا به دريم، او داسې نور، بيا منځنۍ دوره، بيا ثانوي. يو څوک نه شي کولی چې دا ټول پړاوونه په يوه درسي دوره کې ترسره کړي؛ نو ځکه بايد په ګڼو پړاونو تيريدل د خپلو موخو او لاسته راوړنو لپاره يوه وسيله وګڼو.

**زده کوونکی:** جزاک الله خير، ښــوونکيه! مونږ خلکو ته د دعوت د پړاوونو اهميت وپېژندو، چې بايد د پړاوونو په ترځ کې ترسره شي تر څو بريا ترلاســه شي، ښــايي ښوونکيه چې تاسو مونږ ته د لومړي پړاو په اړه هم معلومات راکړئ؟

**ښــوونکی:** پيغمبر ﷺ د دعوت په پيل کې په پټه خپل نږدې خپلوان دعوت کړل. الله فرمايلي دي: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمُدَّثِّرُ ۝١ قُمۡ فَأَنذِرۡ﴾ [المدثر: ۱-۲]

**ژباړه:** ای په جامه کې نغښتونکيه! ته پورته شه، نو (خلق) ووېروه.

په اســلام کې لومړی د هغه میرمن خدیجه رضي الله عنها، د هغه د تره زوی علي بن ابي طالب چې کوچنی و، د هغه غلام زید بن حارثه، او د هغه ملګری ابوبکر صدیق رضی الله عنهم شامل شول.

له دې بختورې ډلې سره نورو هم اســلام راوړ، ځینو خلکو چې دا دین یې نه غوښــت او دښــمني ورسره کوله، د هغوی له امله به یې خلک په پټه دعوت کول، چې دې پړاو درې کاله دوام وکړ.

## د پیریو مسلمانیدل:

**ښوونکی:** د الله مخلوقات ډېر دي، او په هغوی کې پیریان هم شامل دي. موږ یې نه شو لیدلی، خو هغوی موږ ګوري او اوري. په هغوی کې نیکان هم شــته او فســادیان هم شــته. الله په قرآن کې د هغوی په اړه وايي: ﴿وَأَنَّا مِنَّا ٱلصَّـٰلِحُونَ وَمِنَّا دُونَ ذَٰلِكَۖ كُنَّا طَرَآئِقَ قِدَدًا﴾ [الجن: ۱۱].

**ژباړه:** او دا چې بېشــکه یو مونږ کی ځینې نېکان (او صــالحه خلق) دي او یو مونږ کې له دغو نه لاندې هم شته ـ، مونږ په مختلفو لارو روان یو.

د پیریانو یوې ډلې د پیغمبر ﷺ څخه د سهار په لمونځ کې قرآن واورېد؛ نو خپل قوم ته بیرته ولاړل، هغوی یې خبر کړل، وغوښــتل نه یې ترې وکړه چې په پیغمبر ﷺ ایمان راوړي. الله دا کیســه د پیریانو په نوم ســورت، یعني الجن ســورت کې بیان کړې ده: ﴿قُلْ أُوحِىَ إِلَىَّ أَنَّهُ ٱسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ ٱلْجِنِّ فَقَالُوٓا۟ إِنَّا سَمِعْنَا قُرْءَانًا عَجَبًا ۝١ يَهْدِىٓ إِلَى ٱلرُّشْدِ فَـَٔامَنَّا بِهِۦۖ وَلَن نُّشْرِكَ بِرَبِّنَآ أَحَدًا﴾ [الجن: ۱-۲].

**ژباړه:** ته (دوی ته) ووایه چې ما ته وحی شوی ده چې بېشکه شان دا دی چې په پیریانو کی یو ټولی (ډلی) (زما قراءت) په غور سره واورېده، (نو کله چې خپل قوم ته لاړل)، نو دوی وویل: بېشکه مونږ یو عجیبه قرآن واورېده، چې نېغی لارې ته هدایت کوي، نو مونږ په ده ایمان راوړ، او مونږ به هیڅکله له خپل رب ســره هیڅوك شریك نه کړو.

**زده کوونکی:** ښوونکیه! د "قدداً" څه معنا ده، کوم آیت تا سو ذکر کړه د هغې په آخر کې راغلې ده؟

**ښــوونکی:** "قدداً" یعني مختلفې ډلګی، لکه انســانان، نو انســانان مختلف اجناس دي، او همدارنګه پیریان هم مختلف اجناس دي. په هغوی کې شــیطانان هم شــامل دي چې الله امر کړی چې له هغوی څخه پناه وغواړو، نو وایو: اعوذ بالله من الشیطان الرجیم.

**زده کوونکی:** دا یو ناشنا عالم دی؟

**ښوونکی:** د الله مخلوقات ډېر زیات دي، ځینې یې موږ پېژندو لکه ونې، ډبرې، اوبه، او حیوا نات، او ځینې یې موږ نه پېژنو. ځینې مخلو قات چې په بحرونو کې دي موږ د انځورونو له لارې وپیژندل. د الله مخلوقات ډېر دي، چې د هغې معلومات او شــمیر یې یوازې الله ته معلوم دی.

**زده کوونکی:** ولې پیریان موږ اوري او ګوري، او موږ یې لیدلی او اوریدلی نه شو؟

**ښــوونکی:** اې زما بچیانو! په دې کې د الله حکمت دی، په دې کې زموږ لپاره خیر دی. ښایي که موږ هغوی لیدلی، د هغوی د شکلونو څخه به په تکلیف شوي وای. څه چې الله له زموږ پټ ســاتلي، هغې کې زموږ لپاره خیر دی. الله مهربانه دی، زموږ لپاره خیر غواړي؛ نو موږ ته هر ښکلی شـی راکوي، لکه د بحرونو، باغونو، د ستورو او د آسـمان د رنګ منظر او دا سې نور ښکلي منظرې، ځکه هغه زموږ لپاره خیر غواړي. نو موږ باید د هغه سره مینه ولرو، اطاعت یې وکړو او په نعمتونو یې شکر وباسو.

## د دعوت دویم پړاو (مرحله):

**ښوونکی:** لڅرنګه چې مو وپیژندل چې د دعوت لومړی پړاوړ دې کالو لپاره په پټه دوام وکړ، الله پاک خپل پیغمبر ته امر وکړ چې دعوت په ښــکاره کوه او ټولو خلکو ته یې اعلان کړه؛ نو الله خپل پیغمبر ته وفرمایل: ﴿وَأَنذِرۡ عَشِيرَتَكَ ٱلۡأَقۡرَبِينَ﴾ [الشعراء: ٢١٤]

**ژباړه:** او ته خپل ډېر نژدې خپلوان ووېروه.

بل ځای فرمایي: ﴿فَٱصۡدَعۡ بِمَا تُؤۡمَرُ وَأَعۡرِضۡ عَنِ ٱلۡمُشۡرِكِينَ﴾ [الحجر: ٩٤]

**ژباړه:** نو ته ښه ښکاره بیان کړه هغه څه چې تا ته یـې حکم کولی شي او له مشرکانو نه مخ واړوه.

د دې مطلب دا دی: تا ته د الله امر دی چې په ښــکاره خپل دعوت کوه، هغو خلکو ته مخ مه اړوه کومو چې د مشرکانو په څیر له تا مخ واړوه، چې ســتا د دعوت د ودریدو سـبب

ونه گرځي، ځکه څوک چې مشکلاتو ته گوري، د حل لارې لټولو پرته هلته ودريږي، په خپل ژوند کې به هيڅ کار ترسره نه کړي.

**زده کوونکی:** بيا پيغمبر ﷺ خپل قوم ته په څه ډول دعوت ورکړ؟

**ښوونکی:** رسول الله ﷺ د صفا غونډۍ ته وخوت، کومه چې اوس د سعي په پيل کې ده. کله چې هغه غونډۍ ته وخوت، ويې ويل: يا صباحاه. خلکو وويل: دا څوک دی؟ نو ټول هغه ته راغونډ شول. پيغمبر ﷺ هغوی ته وويل: که زه تاسو ته ووايم چې د دې غونډۍ له ويخ څخه آسونه راووتل، آيا تاسو به زما خبره رښتيا وگڼئ؟ هغوی وويل: هو، موږ له تا دروغ نه دي اوريدلي.. پيغمبر ﷺ وويل: زه تاسو خبر درکوم چې سخت عذاب راتلوونکی دی. ابو لهب وويل: تباً لک! تا يوازې موږ د دې خبرې لپاره راغوښتي و؟ بيا هغه پاڅېد او دا آيت نازل شو:

﴿تَبَّتْ يَدَآ أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ ۝١ مَآ أَغْنَىٰ عَنْهُ مَالُهُۥ وَمَا كَسَبَ ۝٢ سَيَصْلَىٰ نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ ۝٣ وَٱمْرَأَتُهُۥ حَمَّالَةَ ٱلْحَطَبِ ۝٤ فِي جِيدِهَا حَبْلٌ مِّن مَّسَدٍۭ﴾ [المسد: ١-٥]

**ژباړه:** د ابو لهب دواړه لاسونه دی هلاك شی او دی هلاك شو، د ده هېڅ په كار رانغی د ده مال او (نه) هغه څه چی ده گټلی وو، ژر ده چی دی به لمبی وهونكی اور ته داخل شی، او د ده ښځه هم، (زه د دغې) د لرگو اوچتوونكې (مذمت كوم) د دې په غاړه كې د كجورې د پټ مضبوطه رسۍ ده.

ښايي تاسو پوه شوي ياست او تاسو ته څرگنده شوې وي چې د دې دعوت پخوانۍ مرحله ولې پټه وه، او ولې د نږدې خپلوانو په دعوت سره پيل شوه، تر څو د ابو لهب په څېر پېښې رامنځته نه شي.

**زده کوونکی:** دا د پيغمبر ﷺ يوه غوره طريقه وه چې خلک يې راټول کړل او هغوی ته يې خبر ورکړ. خو مهربانه ښوونکيه! تا چې موږ ته څه وويل په دې کې زما يوه پوښتنه ده، او هغه دا ده چې پيغمبر ﷺ ياصباحاه وويل.

**ښوونکی:** د عربو په دود کې به چې کله يو مهم يا خطرناک کار و؛ نو خلکو ته به يې په ياصباحاه سره غږ کاوه.

نو فکر وکړئ چې کله هغوی د پيغمبر ﷺ شاوخوا راټول شول، او هغه ورته وويل: که زه تاسو ته خبر درکړم چې له دې غونډۍ څخه آسونه راوتلي، آيا تاسو به ما رښتيا بولئ؟ هغوی وويل: هو. دا په دې دلالت کوي چې هغوی پوهېدل چې پيغمبر محمد ﷺ هېڅکله دروغ نه وايي، لکه څنگه چې هغوی هغه امين باله. خو ځينې خلک د کبر يا حسد له

امله حق او خير نه مني. نو ځکه بايد موږ له کبر څخه پناه وغواړو او د کبر له لارو او طريقو څخه ځان وساتو.

## پيغمبر ﷺ ته د اذيت ورکولو طريقې:

**ښوونکی:** د پيغمبر ﷺ د بعثت نه مخکې خلک په شرک او ضلالت کې وو، په خپلو لاسونو به يې بوتان جوړول، بيا به يې د عبادت او دعا لپاره هغوی ته مخه کوله. کله چې پيغمبر ﷺ ښکاره دعوت پيل کړ، ځينو ته هغه شرک چې دوی ورسره عادت شوي و، پرېښودل گران شول، ځينو د پيغمبر ﷺ پر دې معزز مقام باندې حسد پيل کړو، ځينې د خپل ټولنيز مقام څخه ويريدل، ځکه چې هغوی د خپل قوم مشري کوله، که اسلام قبول کړي؛ نو د پيغمبر ﷺ تر بيرغ لاندې به ژوند تيروي. ځينې نورو بيا په خپلو گناهونو کې پاتې کيدل غوښتل.

دا ټول وجوهات د دې سبب شول چې ځينې خلک د پيغمبر ﷺ او په اسلام کې داخل شوو صحابو سره، دښمني وکړي. او په بېلابېلو طريقو ورته اذيت ورسوي.

**زده کوونکی:** ســبحان الله العظيم، ځينې خلک حق پيژني خو د خپلو گټو لپاره ورسره دښمني کوي.

**ښوونکی:** هو، دا د حق په وړاندې د خلکو حالت و، نو ځکه بايد موږ د حق پيروي وکړو او خپل هوسونه دې ته پرېنږدو چې موږ له حق څخه منع کړي.

**زده کوونکی:** آيا موږ کولای شو چې د هغه اذيت په اړه چې پيغمبر ﷺ او د هغه اصحابو ته رسېدلی، پوهه شو؟

**ښــوونکی:** پخواني پيغمبران هم د خپلو قومونو له لورې د اذيتونو، تکذيب او مســخره کولو سره مخ شـوي وو، الله فرمايلي دي: ﴿وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ فِي شِيَعِ ٱلۡأَوَّلِينَ ۝١٠ وَمَا يَأۡتِيهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ﴾ [الحجر: ١٠-١١] .

**ژباړه:** او يقينًا يقينًا مونږ له تا نه مخکې د ړومبنيو خلقو په ډلو کې (رســولان) لېږلي وو، او دوی ته به هېڅ يو رسول نه راته مگر دوی به په هغه پورې مسخرې کولې.

**پيغمبر ﷺ ته د اذيت رسـولو د طريقو څخه يوه يې د هغه تکذيب کول و. پخوا به يې امين ورته ويل، ليکن اوس ورته جادوگر، ليونی، کاهن او شـاعر وايي. الله د هغوی د درواغو ځواب داسې ورکړ، الله فرمايلي دي: ﴿وَمَا صَاحِبُكُم بِمَجْنُونٍ﴾ [التكوير: ٢٢].**

**ژباړه:** او ستاسو ملګرى (محمدﷺ) له سره لېونى نه دى.

**بل ځای فرمايي: ﴿إِنَّهُۥ لَقَوْلُ رَسُـولٍ كَرِيمٍ ۝٤٠ وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَـاعِرٍۚ قَلِيلًا مَّا تُؤْمِنُونَ ۝٤١ وَلَا بِقَوْلِ كَاهِنٍۚ قَلِيلًا مَّا تَذَكَّرُونَ ﴾ [الحاقة: ٤٠-٤٢] .**

**ژباړه:** بېشکه دا (قرآن) يقينًا د ډېر عزتمن رسول خبره ده، او دا د کوم شاعر خبره بېخي نه ده، تاسو ډېر لږ ايمان راوړئ، او نه د کاهن (ترويتي) خبره ده، تاسو ډېر لږ پند اخلئ.

**زده کوونکی: هغوی پيغمبر ﷺ ليوني، جادوگر او شـاعر ياد کړی، ليکن موږ د کاهن په معنی نه پوهيږو.**

**ښوونکی: ډېر ښـه، بارک الله فيکم، دا ښـه پوښـتنه ده، دا سـتاسـې د اهتمام کولو او د پيغمبر سره د محبت نښه ده.**

**د کاهن معنی هغه څوک دی چې د غيبو د علم دعوی کوي. د غيب علم يوازې الله ته معلوم دی، او خپل پيغمبر ﷺ ته د غيبو څخه د يو څه خبر ورکوي لکه څرنګه چې به تاسو پوه شئ ان شاء الله .**

**زده کوونکی: ولې خلکو پيغمبر ﷺ په دې صـفاتو تورن کړ؟ د دې کار څخه به څه ترلاسه کړي؟**

**ښوونکی: په دې صفاتو يې ځکه تورنوي، چې خلک د هغه په نبوت شکمن کړي او دين کې داخل نه شي، او له خپل دعوت څخه يې منع کړي او ويې ځنډوي.**

**زده کوونکی: پيغمبر ﷺ د هغوی سره مقابله څنګه وکړه؟ يا د خپل ځان د دفاع لپاره يې جګړه ورسره وکړه؟**

**ښوونکی: زمونږ پيغمبر محمد ﷺ به د خلکو لپاره خير خو ښوو، غو ښتل يې چې خلک له کفر څخه اسـلام ته راوباسي، او په سـلامتيا سره جنت ته داخل شي. هغه هېڅکله د ځان د انتقام په فکر کې نه و. دا لامل و، چې په تکليفونو به يې صـبر کاوه، چې خلک اسـلام قبول کړي. که چېرته پيغمبر ورسره جګړه کړې وای، يا تيری ورباندې کړی وای، ښـکنځلي وای؛ نو د هغوی دښـمني به نوره هم ډېره شـوې وای. پيغمبر ﷺ په خلکو**

مهربانه و، نرمي به يې كوله، د هغوی په كفر باندې وېرېده چې پايله يې اور او بد ځای دی.

**زده کوونکی:** په الله قسم زموږ پيغمبر محمد ﷺ به د خپلو دښمنانو سره هم نرمي كوله او په هغوی مهربانه هم و.

**ښوونکی:** هو، پيغمبر ﷺ مهربانه او نرمي كوونكی و، حتی د خپلو دښمنانو هم مهربانه او نرمي كوونكی و. الله د هغې صفت په دې توگه كړی دی: ﴿وَلَوۡ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ ٱلۡقَلۡبِ لَٱنفَضُّواْ مِنۡ حَوۡلِكَۖ﴾ [آل عمران: ١٥٩].

**ژباړه:** او كه چېرې ته بدخويه، سخت زړی وَی (، نو) خامخا دوی به ستا له چاپېره نه خواره شوي وو.

يعنې كه ته په تعامل كې سخت وای، نو هغوی به ته پرېښودلی وې او اسلام ته به داخل شوي نه وای. ليكن د پيغمبر ﷺ د صبر له امله ځينې خلک د خپلې دښمنۍ څخه راوگرځېدل او د الله دين ته داخل شول.

همدارنگه بايد موږ د خپل پيغمبر محمد ﷺ په څير د صبر څخه كار واخلو، خپل مخالف سره سختي ونه كړو، چې هغه به بيا له موږ څخه نفرت كوي، او ځان به لرې ساتي، موږ په هغې تاثير نشو كولی، چې د لاس څخه يې ونيسو او د خير لارې ته يې راولو.

**زده کوونکی:** ښوونكيه! دا خو ښكلي او غوره اخلاق دي، او ستاسو له لوري موږ ته يو قيمتي نصيحت دی.

**ښوونکی:** مشركانو پيغمبر ﷺ ته تر دې حده اذيت وركړ چې په پيغمبر ﷺ به زياتی او حمله كوله، كله به چې پيغمبر ﷺ د كعبې په خوا كې لمونځ كاوه، د سجدې په حالت كې به هغوی پرې وينې او فرث (غايطه) شيان اچول[1]. فرث هغه شيانو ته وايي چې په معده كې وي. او خاندل به يې او د خپل دې بد عمل څخه به يې خوند اخيستو.

**زده کوونکی:** پيغمبر ﷺ بيا څه وكړل؟

**ښوونکی:** دا خبر يې لور فاطمه رضي الله عنها ته ورسيده، هغه دغه وخت كې كوچنۍ وه؛ نو راغله او دغه شيان يې له خپل پلار څخه لرې كړل، د دې كار له امله يې په هغوی

---

(١) البخاری (١/١٨٠-١٨١) د حديث شمېره ده (٥٢٠).

**لعنت ووايو، کوم کسانو چې دا کار کړی و، پيغمبر ﷺ هغويو ته ښيرې وکړې، چې الله هغوی ټول په بدر غزا کې هلاک کړل[١].**

**د اذيت يوه بله بڼه يې دا وه چې پيغمبر ﷺ په کعبه کې لمونځ کاوه، يو سړی چې عقبه بن ابی معيط نومېده، راغی، رسول الله ﷺ يې د څادر څخه وينو، او په غاړه کې يې ورته تاو کړ، ساه يې ورته سخته بنده کړه، ابوبکر رضي الله عنه راغی د اوګې څه يې وينو، څادر يې لرې کړ او رسول الله ﷺ يې خلاص کړ.**

**زده کوونکی: په رښتيا چې پيغمبر محمد ﷺ د دعوت په لار کې ستر اذيتونه ورسيدل، چې په صبر او تحمل سره يې زغمل.**

**ښوونکی: هو، همداسې و، څرنګه چې تاسو وويل. يو ځل مشرکانو پريکړه وکړه چې رايوځای شي، چې کله پيغمبر ﷺ ووينې، ويې وژني. فاطمه رضي الله عنها په دې خبره پوه شوه په خپل پلار وېريدله؛ نو خپل پلار ته راغله ژړل يې، د مشرکانو پلان څخه يې خبر کړ، پيغمبر ﷺ اودس وکړ، او بيا مسجد الحرام ته لاړ.**

**زده کوونکی: آيا پيغمبر ﷺ د هغوی څخه نه وېرېده، هغوی خو ډير وو؟**

**ښوونکی: نه، د هغوی څخه نه ويريده، پيغمبر ﷺ زړه ور و، په الله يې توکل درلود، او په دې پوهيده چې الله به يې د خلکو له شر او زيان څخه ساتي. کله چې پيغمبر ﷺ ورغی او مشرکانو وليد؛ نو مشرکانو خپلې سترګې ټيټې کړې، هيڅ يو يې له خپل ځايه پورته نشو. رسول الله ﷺ ورنژدې شو او د هغوی د سرونو سره ودرېد. يوه موټې خاوره يې راواخيسته او ويې ويل: شاهت الوجوه، او په هغوی يې واچوله. چې هر چا ته د هغه د خاورې څه برخه ورسيده، هغوی په بدر کې د کفر په حالت کې ووژل شو.**

**زده کوونکی:** ښوونکيه! دا د ډار او ويرې حالت و.

**ښوونکی: هو، دا ډېر د ډار او ويرې حالت و، ښايې تاسې په د الله قدرت ته فکر کړی وي، څنګه يې په خپل چل کې ذليله او خوار کړل، او په زړه کې يې ورته ويره واچوله، پيغمبر ﷺ وتوانيد چې په هغوی خاوره وغورځوي.**

**فکر وکړئ چې الله په هر څه قادر دی، هغه لويه ډله خلک وه، د الله په امر بې قوته او بې ځواکه شول، هيڅ تن نشو کولی چې يا حرکت وکړي او يا يوه خبره وکړي يا پيغمبر**

---

(١) المرجع السابق.

ﷺ ته وګوري. الله پاک چې د يو کار اراده وکړي؛ نو هغه کيږي. الله فرمايلي دي: ﴿إِنَّمَآ أَمۡرُهُۥٓ إِذَآ أَرَادَ شَيۡـًٔا أَن يَقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ﴾ [يس: ٨٢].

**ژباړه:** بېشکه د هغه امر (حکم) هم دا وي چې کله د يو شي اراده وکړي، دا چې هغه ته ووايي چې پيدا شه، نو هغه پيدا شي. **هيڅ شی د الله لپاره نا ممکن نه دی.**

**تا سې د پيغمبر ﷺ په خپل رب باندې باور ته فکر وکړئ، چې د هغوی د چلونو څخه به يې ژغوري، اودس يې وکړ او مسجد الحرام ته لاړ.**

**زده کوونکی:** **فاطمې رضي الله عنها چې د الله لخوا د خپل پلار بريا ليدلی وي، ډيره به خوشاله شوي وي.**

**ښوونکی:** **بېشکه زما بچيانو! هغه زياته خوشاله شوه چې الله پاک يې د دښمنانو په وړاندې د پلار مرسته وکړه، ژړا يې په خوشالۍ بدله شوه.**

**مونږ د الله شکر کوو چې خپل پيغمبر ته يې عزت ورکړ، مرسته يې وکړه او د دښمنانو څخه يې وژغورو.**

## هغه صحابو ته د اذيت ورکولو طريقې چې اسلام يې قبول کړی و:

**ښوونکی:** **صحابه د قريشو لخوا له سخت اذيت سره مخ شول، اوسپنيزې زغرې به يې ورته اغوستلې، او د لمر سوزونکو وړانګو ته به يې اچول، د مکې په لارو او کلو کې به د بلال بن رباح شاوخوا ماشومان راتاو و، او هغې به د "احد، احد" ويل. کله به چې غرمه ښه توده شو اميه بن خلف به بلال د کور څخه راوويست او د مکې په خوړ کې به لمر ته واچاوه، بيا به يې لويه ډبره د هغه په سينې کيښوده، بيا به يې ورته وويل: "ته د محمد څه انکار وکړه، او د لات او عزی عبادت پيل کړه، کنه همداسې به پورت يې تر څو ته مړ شې، بلال به ويل: "احد، احد"** (١).

**زده کوونکی:** **د بلال رضي الله عنه د "احد، احد" ويلو څه مطلب دی؟**

**ښوونکی:** **د بلال رضي الله عنه د "احد، احد" د وينا مقصد، يعنې الله يو دی، هيڅوک شريک نه لري.**

---

(١) أحمد، المسند (١/٤٠٤).

**زده کوونکی:** ســبحان الله العظيم، بلال رضي الله عنه د ســختو عذابونو سره مخ شــو. ښوونکيه! اميه له دې عظيم صحابي سره څه اړيکه لرله ؟

**ښـوونکی:** په جاهليت کې به خلکو غلامان نيول، اخيســتل او خرڅول به يې لکه څنګه چې ســودا اخلي او خرڅوي يې، بلال بن رباح رضي الله عنه د اميه غلام و، خو چې کله اسلام راغی، د غلامانو نيول يې ختم کړل.

**زده کوونکی:** اسلام ډير ښکلی دی چې انسان يې آزاد کړی او دا بد صفت يې ختم کړ، يوه پو ښتنه لرم ښوونکيه! بلال رضي الله عنه تر کومه په دې سختيو صبر کاوه، او په ين کلک او ثابت و؟

**ښوونکی:** ښـه پوښـتنه دې وکړه! بلال به همداسې "احد، احد" ويلو، تر دې چې ابوبکر صديق رضي الله عنه د اميه څخه واخيست او د نورو انسانانو په څير يې آزاد کړ.

**زده کوونکی:** الله پاک دې ابو بکر صـديق رضي الله عنه ته ددې ســتر کار د کولو، لوی اجر ورکړي، چې بلال رضي الله عنه يې د عذاب، درد او ذلت څخه د آزادۍ نعمت ته راوويست.

**ښوونکی:** د هغو کسانو څخه چې دا عذابونه يې وزغمل، د ياسر خاندان و. مخزوم قبيلې به عمار بن ياسر، د هغه پلار او مور ټول په توده ځمکه د لمر سوزونکو وړانګو ته اچول.

**زده کوونکی:** ښوونکيه! رمضاء څه شی دی؟

**ښوونکی:** ځمکه چې کله ښه توده شي، هغې ته رمضاء وايي، خلک وايي: په يعنې کله چې ځمکه د لمر له تودوخې څخه ګرمه شي، کله څرنګه چې خلک وايي په رمضـــاء کې مه ګرځه، يعنې په توده ځمکه باندې بې له بوټانو مه ګرځه.

رســول الله ﷺ به د آل ياسر(ياسر خاندان) په خوا کې تيريدو چې هغوی ته به عذاب ورکول کيده، ورته ويل به يې: "د ياسر خاندانه! صــبر وکړئ، ســتاســو ځای جنت دی". پيغمبر ﷺ به دوی ته د جنت زېری ورکاوه چې د دوی د صــبر په بدل کې به دوی ته جنت ورکړل شي، د عمار بن ياسر مور د عذاب په حالت کې ووژل شــوه، او په خپل دين کلکه پاتې شوه، ترڅو چې د الله سره مخامخ شي، او جنت ته ورته ورکړل شي، چې د کوم زيرې پيغمبر ﷺ ورکړی و.

**ښوونکی:** خباب بن الأرت رضي الله عنه هم له سختو تعذيبونو سره مخ شو، تر دې چې د هغه په شا کې د تعذيب نښې پاتې شوې. همدارنګه ډير صحابه د خپل قوم لخوا سخت

عذاب سره مخ شول، مګر هغه صحابه چې د هغوي قوم نه غوښتل چې تعذیب شي، د تعذیبونو خوندې پاتې شول، او د اسلام د دښمنانو له برید څخه یې ساتلي وو.

**زده کوونکی:** الله دې د رسول الله ﷺ اصحابو څخه راضي شي، ډېر اذیتونه او تعذیبونو سره مخ شول.

**ښــوونکی:** هو، همداســې ده. په صــبر او د الله په توفیق سره دوی د دین اســلام لپاره تعذیبونه وزغمل، او همدارنګه د پیغمبر ﷺ په دعا او د جنت په زېری سره دوی په اسلام ثابت شول، تر دې چې الله اسلام بریالی کړ؛ او موږ ته یې راور سید، او الحمد لله موږ له هیچا څخه اذیت نه وینو. نو موږ الله ته شــکر باســو، او صــحابه کرامو ته دعا کوو، او هر ځل په پیغمبر باندې درود وایو دې هم یاد وو، د الله څخه غوښتنه کوم، چې موږ په جنت الفردوس کې له دوی سره یوځای کړي.

## د پیغمبر ﷺ د رسالت د بندولو لپاره مذاکرات (مفاوضات)

**ښوونکی:** کله چې د قریشو مشرکانو ولیدل چې صحابو ته د مختلفو اذیتونو ورکولو سره بیا هم خلک د پیغمبر ﷺ دعوت قبولوي، نو د مذاکراتو لار یې غوره کړه، دا په دې باور چې شاید خپل مطلب په دې توګه ترلاسه کړي او د پیغمبر دعوت بند کړي.

**زده کوونکی:** ښوونکیه! بخښنه غواړم، مفاوضات څه معنی لري؟

**ښــوونکی:** د مـذاکراتو معنی ده: خبرې اترې، او د دواړو غـاړو تر منځ د وړانـدیزونو وړاندې کول ترڅو یوې موافقې ته ورسیږي.

**زده کوونکی:** دا خو دین دی! الله پرې د منلو امر کړی، آیا دا د مذاکراتو وړ دی؟

**ښوونکی:** ښه پوښتنه مو وکړه زده کوونکو! دوی دا فکر درلود چې پیغمبر شاید دا ومني، تاسو له ماسره اوسئ، په دې اړه ډېر معلومات ترلاسه کړئ.

## د پيغمبر ﷺ د تره ابو طالب سره مذاکرات

**ښوونکی:** د قريشو مشران د پيغمبر ﷺ تره ابو طالب ته راغلل، چې پيغمبر ﷺ د نيکه له وفات وروسته يې، تره ابوطالب پالنه او تربيت کړی و، لکه څرنګه چې مو مخکې وويل.

د قريشو مشرانو ورته وويل: ستا وراره زموږ په مجلسونو کې موږ ته تکليف رسوي، له دې څخه يې را وګرځوه.

**زده کوونکی:** پيغمبر ﷺ خو هغوی ته اذيت نه ورکاوه، نو دوی څنګه داسې وايي؟

**ښوونکی:** ښه پوښتنه ده! خلک د الله دين ته رابلل، دا يې اذيت ګڼلو.

**زده کوونکی:** د هغوی په مطلب وپوهيدو. ابو طالب د هغويو سره څه وکړل؟

**ښــوونکی:** کله چې ابو طالب د هغوی خبرې واورېدې، خپل وراره، د الله پيغمبر محمد ﷺ يې راوغوښــت، او ورته يې وويل: ســتا د تره زامن دا ګمان کوي، چې ته په خپلو مجلسونو کې هغوی ته اذيت ر سوې. پيغمبر ﷺ ورته وويل: په الله قسم که دوی لمر زما په ښــي لاس کې او ســپوږمۍ په کيڼ لاس کې کېږدي چې زه به له دې کار څخه لاس واخلم، زه به يې هيڅ وخت پرېنږدم[1].

پيغمبر ﷺ پوهيده چې هيڅوک نشي کولی چې لمر په خپل ښي لاس کې او سپوږمۍ په کيڼ لاس کې کېږدي. لکه څرنګه چې دا د دوی لپاره ناممکن دی چې لمر او سپوږمۍ په خپل لاس کې ونيسي، همداسې دا ناممکنه ده چې پيغمبر د خلکو ته د الله دين تبليغ بند کړي.

**زده کوونکی:** ډېر ښــکلی او غوره خبرې! زه د پيغمبر ﷺ خبرې ډېرې خوښــوم. خو ابو طالب بيا څه وويل؟

**ښوونکی:** ابو طالب د قريشو مشرانو ته ووی: زما وراره موږ ته هېڅکله دروغ نه دي ويلي، د ابوطالب ددې خبرې مطلب دا چې کوم څه چې تاسې غواړئ، هغه له هغې نه راګرځي، څه مو چې ترې اوريدلي دي، د هغې هماغه خبره ده.

---

(۱) الحاكم، المستدرك (۳/۵۷۷).

## د عتبه بن ربيعة سره مذاكرات

**ښوونکی:** بل وخت عتبه د قریشو مشرانو ته یوه نظر وړاندې کړ چې محمد ﷺ ته یې وړاندې کړي، مشرانو وسره ومنله. عتبه پیغمبر ﷺ ته ورغی، ورته یې وویل: ای زما وراره، که خبره چې ته کوې، که په هغې سره مال غواړې، موږ به خپل مالونه درته درکړو، تر څو ته په موږ ټولو کې شتمن شې.

او که شرف غواړې، موږ به دې مشر وټاکو، یعنې ته به زموږ مشر شې، هیڅ یو کار به ستا له پریکړې پرته نه کوو.

او که ته پادشاهي غواړې، موږ به دې پادشاه کړو.

کوم څه (وحې) چې تا ته په خوب کې راځي او ته ترې ځان نشې خلاصولې، ډاکټران به ستا د درملنې لپاره راوغواړو(١)، یعنې که دا وحې درته په خوب کې راځي او درته وایي چې دا کار وکړه او دا کار وکړه، ډاکټران به دې تداوي وکړي.

**زده کوونکی:** دا لویې وړاندیزونه دي، نو پیغمبر ﷺ څه ځواب ورکړ؟

**ښوونکی:** اول: پیغمبر ﷺ هغه پرېښوده چې خبرې وکړي، خبرې یې ورپرې نه کړې، دا د پیغمبر ﷺ ادب و. که څه هم چې پیغمبر هیڅکله دا شـیان نه شي منلی، ځکه دا وړاندیزونه د دنیا مقصـد دي، او هغه د الله پیغام خلکو ته لیږدوي، کوم چې د دنیا او څه چې پکې دي، د هغه څخه غوره دی.

عتبه چې خپلې خبرې ختمې کړې، پیغمبر ﷺ هغه واوریدو، نو پیغمبر ﷺ ورته وویل: ابو الولیده! آیا تا خپلې خبرې ختمې کړې؟ هغه وویل: هو.

پیغمبر ﷺ ورته وویل: ما واوره، پیغمبر ﷺ ورته سورت فصلت تلاوت کړ. ﴿حمٓ ١ تَنزِيلٌ مِّنَ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ٢ كِتَٰبٌ فُصِّلَتۡ ءَايَٰتُهُۥ قُرۡءَانًا عَرَبِيًّا لِّقَوۡمٍ يَعۡلَمُونَ ٣ بَشِيرًا وَنَذِيرًا فَأَعۡرَضَ أَكۡثَرُهُمۡ فَهُمۡ لَا يَسۡمَعُونَ ٤ وَقَالُواْ قُلُوبُنَا فِيٓ أَكِنَّةٍ مِّمَّا تَدۡعُونَآ إِلَيۡهِ وَفِيٓ ءَاذَانِنَا وَقۡرٌ وَمِنۢ بَيۡنِنَا وَبَيۡنِكَ حِجَابٌ فَٱعۡمَلۡ إِنَّنَا عَٰمِلُونَ﴾ [فصلت: ١-٥].

**ژباړه:** حا، میم، (دغه) نازلول دمهربان، بحده رحم کونکی له بجانب دی، داسی کتاب چی د ده ایتونه په تفصیل سره بیان شوی دی، په داسی حال کی چی عربی قرآن دی، د هغه قومی لپاره چی پوهېږی، زیری ورکونکی او وېرونکی دی، نو د دوی زیاترو مخ وګرځاوه، پس دوی (حق) لا اوري، أو دوي وويل: زمون په

(١) المرجع السابق.

يرده هو له څه لا ما هو عليه الآن بل زمونږ يه غوږونو كې كونوالي دی أوزمونږ له ما هو بادده، نو ته (خبل) عمل كوه، بشكه مون ږ هم (خپل ) عمل كونكي يو.

**پيغمبر ﷺ تلاوت ته همدا سې دوام ورکړ، کله چې عتبه دا آیاتونه واورېدل، لا سونه يې خپلې شا شاته لورې ته ونیول، او د پیغمبر څه يې دا آیاتونه اوریدل، کله چې پیغمبر ﷺ د سجدې آیت ته ورسېد، سجده يې وکړه. بیا يې وویل: اې ابو الولیده! څه چې تا واوریدل هغه دې واوریدل، اوس ته او دا آیاتونه، فیصله ته وکړه.**

**زده کوونکی:** دېر ښه، چې پیغمبر ﷺ ورته دا سورت تلاوت کړ، په دې سورت کې دي چې قرآن بشیر او نذیر کتاب دی؟

**ښوونکی:** دېر ښه زده کوونکو! چې د سورت آیتونو ته مو پام دی.

**زده کوونکی:** بیا عتبه څه وکړل، ښايي هغه به د دې سورت د آیتونو او معنی څخه اغیزمن شوی وي؟

**ښوونکی:** هو، عتبه د الله د کلام څخه اغیزمن شو، او کله چې هغه خپلو خلکو ته ورغی، هغوی پرې پوهه شول. هغویو وویل: ابو الولید چې د څه لپاره تللی و، په بل مخې راغی.

هغوی ترې پوښتنه وکړه: څه پېښ شول اې ابو الولید؟ یعنې تاسو کوم خبر د ځان سره راوړ؟ هغه وویل: په الله قسم، ما داسې خبرې واورېدې چې ما هیڅکله نه دي اوریدلي. په الله قسم چې دا خبرې نه شعر دی، نه جادو دی او نه کهانت. بیا يې د مشرانو څخه وغوښتل چې پیغمبر ﷺ او کار پریږدئ. هغوی ورته وویل: هغه په تا جادو کړی دی.

**زده کوونکی:** یعنې هغوی د عتبه مشوره ونه منله.

**ښوونکی:** هو، د هغه مشوره يې ونه منله، حتی عتبه چې د قرآن کریم څخه اغیزمن شوی و، هم اسلام قبول نه کړ، ځکه چې هغه د خپل قوم نظر ته تابع و.

**زده کوونکی:** دا خو بیا د عتبه او د هغه د قوم غرور دی.

**ښوونکی:** هو، دا غرور دی، ځکه چې حق يې وپیژندو، قرآن کریم يې واوریدو، عتبه ورته دا قران داسې نه دې څرنګه چې تاسو يې په اړه وایئ چې دا شعر دی، کله وایئ چې جادو دی او کله کله وايي چې دا کاهن دی، دايې ورته څرګنده کړه څه چې تاسې وایئ هغسې نه دی.

**نو زده کوونکو! له الله څخه د غرور کولو نه پناه وغواړئ، د هدايت او په حق د ثابت پاتې کيدو دعا وکړئ لکه څرنګه چې الله په دې مبارک آيت کې موږ ته ښوونه کړې ده.**
﴿رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوبَنَا بَعْدَ إِذْ هَدَيْتَنَا وَهَبْ لَنَا مِن لَّدُنكَ رَحْمَةً ۚ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْوَهَّابُ﴾ [آل عمران: ٨].

**ژباړه:** (او وايي) اى زمونږه ربه! زمونږ زړونه مه کږوه وروسته له دې چې تا مونږ ته سمه لار وښودله او مونږ ته له خپلې خوا نه رحمت راکړه، يقيناً هم ته، (د نعمت او رحمت) بې حده عطا کوونکى يې.

**غرور يو خطرناک شى دى، کله چې انسان حق نه مني، بيا يې هيڅ دليل هم نه مني.**

## د معجزاتو غوښتنه:

**ښوونکی:** کله چې قريش په مذاکراتو کې پاتې راغلل چې پيغمبر ﷺ له خپل رسالت څخه را وګرځوي، نو د پيغمبر څخه يې د معجزو غوښتنه وکړه.

**زده کوونکی:** معجزې څه معنى لري؟

**ښوونکی:** معجزې هغه شيان دي چې انسان يې خپله نشي کولى؛ نو هغوى د پيغمبر ﷺ څخه يې غوښتنه وکړه چې د صفا غر د سروزرو وګرځوي؛ نو بيا به ايمان راوړي، پيغمبر ﷺ د الله څخه دعا وکړه، جبرائيل عليه السلام ورته راغى او ويې ويل: الله درته سلام وايي. او وايي: که ته وغواړې، صفا غر به سره زر وګرځوم، کله دې وروسته بيا څوک کافر شو، داسې عذاب به ورکړم چې هېچا ته مې نه وي ورکړى. او که غواړې چې زه دويو ته د توبې او رحمت دروازې پرانيزم. پيغمبر ﷺ وويل: د توبې او رحمت دروازه غواړم[1].

**زده کوونکی:** سبحان الله العظيم! ولې پيغمبر ﷺ د دوى لپاره د توبې او رحمت دروازه غوره کړه، او هغه څه يې غوره نه کړل کوم چې دوى غوښتل؛ ترڅو ايمان راوړي؟

**ښوونکی:** ډېره ښه پوښتنه مو وکړه، زما بچيانو! لومړى: تاسو پوهيږئ چې قريش د عربو تر ټولو فصيح خلک وو، او د عربي ژبې په اړه ډېر دقيق پوهېدل. کله چې يې قرآن کريم واورېد، پوه شول چې دا د انسان خبرې نه دي، بلکې دا د رب العالمين کلام دى، ځکه چې انسان ته هر څومره هم چې د عربي ژبې په اړه پوهه ورکړل شي، نشي کولى چې د قرآن يوه آيه راوړي، نو يو سورت به څرنګه راوړي؟ سره له دې هم ځينو يې ايمان را نه وړ.

(١) ښوونکی بايد زده کوونکو ته د کبر زيانونه، ډولونه او د هغې ځينې مثالونه بيان کړي.

پيغمبر ﷺ د قريشتو د تعامل څخه پوهيده كه صفا غر سره زر وگرځوي هم؛ نو بيا به وايي چې زموږ په سترگو دې جادو كړى دى. كه دوى داسې وويل، الله به ورته سخت عذاب وركړي. پيغمبر ﷺ به پر دوى بريالى شي، خو زموږ پيغمبر محمد ﷺ پر دوى رحم وكړ، صبر يې غوره كړ او هڅه يې وكړه چې شايد ځينې به يې مسلمانان شي، چې ورسره به د هغود ماشومان او كورنۍ هم مسلمانان شي؛ پر ځاى د دې چې عذاب وركړل شي.

**زده كوونكى:** غوره انتخاب يې وكړ، دا ښيي چې زموږ پيغمبر ﷺ مهربانه او نرمي كوونكى و، سخت او توند نه و. صبرناک و، نو ځكه يې د دوى لپاره د عذاب پر ځاى د الله رحمت غوره كړ، او د دوى اذيتونه يې وزغمل.

**ښوونكى:** هو، پيغمبر ﷺ حليم او صبرناک و، د خلكو لپاره خير غوښتونكى و، حتد د خپلو د ښمنانو لپاره هم د خير غوښتونكى و.

نو موږ هم بايد په اخلاقو كې د هغې په شان شو، صبر وكړو، رحم وكړو ترڅو د مهربانۍ والا خلک شو، نه د سختۍ او توندۍ خلک شو، الله به په موږ رحم وكړي او زموږ په چارو كې به بركت واچوي.

**زده كوونكى:** محترم ښوونكيه! آيا دوى نورې معجزې هم غوښتې وې؟

**ښوونكى:** هو، د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دى چې د مكې خلكو له رسول الله ﷺ څخه وغوښتل چې يوه معجزه ورته وښايي. سپوږمۍ يې ورته په دوه برخو ووېشله، حتى د حراء غر يې د سپوږمۍ دواړو ټوټو ترمنځ وليد.

**زده كوونكى:** ښوونكيه! دا څنگه؟ كه مهرباني وكړئ وضاحت يې راكړئ.

**ښوونكى:** كله چې د مكې خلكو له پيغمبر ﷺ څخه وغوښتل چې يوه معجزه ورته وښايي، نو الله پاک په آسمان كې سپوږمۍ دوه ټوټې كړه، له يو بل څخه يې جلا كړې، دوى دا هر څه په خپلو سترگو وليدل، آن د حراء غر يې د سپوږمۍ د دواړو ټوټو تر منځ وليد. چې ښه باوري شي چې سپوږمۍ دوه ټوټې شوه، الله پاک په دې اړه يو سورت نازل كړ چې د قمر سورت نوميږي. ﴿ٱقْتَرَبَتِ ٱلسَّاعَةُ وَٱنشَقَّ ٱلْقَمَرُ ۝١ وَإِن يَرَوْاْ ءَايَةً يُعْرِضُواْ وَيَقُولُواْ سِحْرٌ مُّسْتَمِرٌّ﴾ [القمر: ١-٢].

**ژباړه:** قيامت ډېر رانژدې شو او سپوږمۍ وچاودله، او كه چېرې دوى كوم دليل ووينې (نو) اعراض كوي او وايي: دا خو راروان (قوي) جادو دى.

**زده کوونکی:** آیا دوی ایمان راوړ کله یې دغه ستره معجزه چې د سپوږمۍ ټوټې کیدل و؛ ولیدل؟

**ښوونکی:** لکه څرنګه چې مو په مخکښني آیت کې واورېدل، په قمر سورت کې ﴿وَإِن يَرَوۡاْ ءَايَةً يُعۡرِضُواْ وَيَقُولُواْ سِحۡرٌ مُّسۡتَمِرٌّ﴾ یعنې دوی وویل: دا دوامداره سحر دی. او دلته به پوه شئ چې ولې پیغمبر ﷺ د دوی لپاره د توبې او رحمت دروازه غوره کړه او د صفا غر سره زر ونه ګرځاوه. ځکه چې دوی په خپلو سترګو د سپوږمۍ وېشل ولیدل؛ خو وویل یې: دا دوامداره سحر دی. که د صفا غر سره زر ګرځول شوی وای؛ او ایمان یې نه وای راوړی؛ نو عذاب به پرې نازل شوې وای.

**زده کوونکی:** هو، دا بالکل څرګنده شوه، که یې د الله څخه غوښتنه کړې وای چې صفا غر سره زر وګرځوي، نو به یې ویلي وای دا زموږ په سترګو سحر شوی، بیا به الله هغوی ته عذاب ورکړی وای. دا ښايي چې زموږ پیغمبر محمد ﷺ خپل قوم ښه پیژنده.

## حبشې ته هجرت:

**ښوونکی:** کله چې رسول الله ﷺ ولیدل چې د هغه صحابه کرام رضي الله عنهم د خپل دین لپاره له زیاتې سختۍ او عذاب سره مخ دي، ورته یې وویل: "که تاسو حبشې ته ولاړ شئ، هلته یو پاچا دی چې د هغې په وړاندې د هیچا سره ظلم نه کیږي، هغه د صداقت ځای دی، تر هغې هلته پاتې شې چې الله پاک تاسو ته له دې حالته خلاصون ورکړي[1]".

د مکې څخه حبشې ته دې تللو ته د هجرت نوم ورکړل شو، ځکه چې صحابه کرام هغه ځای پرېښود چې په کې تعذیب شوي وو او د خپل ځان او دین لپاره یوه امن ځای ته لاړل.

**زده کوونکی:** دا حبشه چېرته ده؟ آیا صحابه کرامو رضي الله عنهم په هجرت کولو سره یوه خوله شول؟

**ښوونکی:** حبشې ته نن ورځ ایتوپیا وایي، چې د سوډان په جنوب کې واقع دی، د سرې بحیرې له لارې له موږ څخه جلا کیږي.

صحابه کرام په هجرت کولو رضا شول، ځکه چې حبشې ته هجرت به دوی د خپل قوم د اذیت او تعذیب څخه لرې کړي. په ځانګړې توګه لکه څنګه چې رسول الله ﷺ وویل،

---

(۱) ابن هشام، السيرة النبوية (۱/۳۴۴).

"هيڅوک په کې ظلم نه کوي." مسلمانان دوه ځله د مکې څخه حبشې ته هجرت وکړ: لومړنۍ هجرت يې د رجب په مياشت کې د رسول الله ﷺ د بعثت پنځم کال کې وکړ(۱).

**زده کوونکی:** آيا هغه مسلمانان چې هجرت يې وکړ، شمير يې ډير وو؟

**ښوونکی:** لومړني هجرت کې يوولس سړي او څلور ښځې شاملې وې. دوی د مکې مکرمې څخه په پښو روان شول شاوخوا اتيا کيلو متره مزل کولو وروسته سمندر ته ورسېدل، کښتۍ يې کرايه کړه، ترڅو حبشې ته ولاړ شي.

کله چې په مکه کې پاتې مسلمانانو باندې اذيت ډير شو، رسول الله ﷺ ورته د دوهم هجرت اجازه ورکړه. چې په دې هجرت کې درې اتيا سړي حبشې ته ولاړل(۲).

**زده کوونکی:** هغوی په حبشه کې څنګه ژوند درلود؟

**ښوونکی:** کله چې مسلمانان حبشې ته داخل شول، د رسول الله ﷺ د وينا برابر چې ويلي يې وو: "په هيڅ تن ظلم نه کوي." وموند، چې نوم يې نجاشي و.

صحابو ته يې امان ورکړ، چې هيڅوک به دوی نه آزاروي؛ نو دوی په حبشه کې د الله په امان کې وو.

**زده کوونکی:** لومړني مسلمانانو د خپل دين لپاره ډير تکليفونه وزغمل.

**ښوونکی:** ډېر ښه زده کوونکو! تاسو د صحابو په تعذيبونو او اذيتونو ښه وپوهيدی، موږ بايد د دوی د مشکلاتو څخه زده کړه وکړو چې د دين په لاره کې هيڅکله تنبلې ونه کړو. په کومو عباداتو يې چې موږ ته امر کړی په هغې کې تنبلي ونه کړو، حال دا چې موږ په امن او آراميتيا کې ژوند کوو، موږ بايد په زده کړه کې، او په ځانګړې توګه د دين په چارو کې کوښښ وکړو، د دين خدمت لپاره چې کوم کار کوو، په هغې کې هم کوښښ وکړو.

## د هجرت په ځای کې د مسلمانانو تنګول:

**ښوونکی:** کله چې قريش پوه شول چې مسلمانانو ته د خپل دين لپاره امان ترلاسه شوی دی؛ د دوی پر ضد يې اقدام وکړ، يعنې په حبشه کې يې د هغوی پر وړاندې هڅې وکړې. هغوی يې په خپل حال پرېښښودل.

---

(۱) ابن حجر، فتح الباري (۱۸۸/۷).

(۲) المرجع السابق.

**زده کوونکی:** قریش څه وکړل چې د رسول الله ﷺ صحابه له دوی څخه لرې و؟

**ښوونکی:** کله چې قریش پوه شو چې مسلمانان په خپل دین باندې په امن سره ژوند کوي، راټول شول او مشوره یې وکړه، او موافقه یې وکړه چې نجاشي او هغه کسانو ته چې ورسره کار کوي، ډېرې ډالۍ واستوي، او دوه هوښیار کسان ور ولېږي ترڅو پر نجاشي اغېز وکړي. دا دوه کسان عبدالله بن ابی ربیعة او عمرو بن العاص وو[1].

**زده کوونکی:** نجاشي له مسلمانانو سره څه وکړل؟

**ښوونکی:** نجاشي هوښیار او عادل سړی و او ظلم یې نه خوښاوه. کله چې قریش راغلل، نجاشي ته یې وویل: "ستا قوم ته ځینې ناپوه خلک راغلي دي، د خپل قوم دین یې پرېښی او ستا دین ته هم نه دي داخل شوي، او یو نوی دین یې راوړی چې نه یې موږ او نه یې ته پیژنې".

**زده کوونکی:** آیا نجاشي د دوی خبرې ومنلې؟

**ښوونکی:** نجاشي هوښیار سړی و، نو هغه پرېکړه نشوه کولای پرته له دې چې د صحابه کرام خبرې هم واوري لکه څنگه چې یې د قریش خبرې واورېدې. انسان باید همداسې وکړي چې کله ورته یو څوک راشي او د یو څه شي ادعا وکړي، هغه باید د بل اړخ خبرې هم واوري ترڅو د عدل او امانت خاوند شي. آیا داسې سمه نه ده زما بچیانو؟

**زده کوونکی:** هو، دا سمه خبره ده. نجاشي ته پکار دي چې صحابه کرام راوغواړي او ترې پوښتنې وکړي.

**ښوونکی:** هو، هغه صحابه کرام راوغوښتل او ترې یې وپوښتل. خو صحابه کرام مخکې له دې چې ورشي، سره راټول شول او مشوره یې وکړه.

**زده کوونکی:** د صحابو دا ښه کار دی، مخکې له دې چې ورشي، مشوره وکړي.

**ښوونکی:** هو، هره ډله باید په هر هغه کار کې چې دود پورې اړه لري، سره راټوله شي او په یوه نظر پرېکړه وکړي. ځکه چې په مشوره کې ډېرې گټې شته، لکه فکر کول، بحث کول، او د نظرونه تبادله کول، ترڅو یو د بل د غلطیو اصلاح وکړي، بیا په یو نظر باندې موافقه وکړي، په گډ نظر کې برکت وي، ځکه د الله مرسته له ډلې سره وي.

---

(١) ابن هشام، السیرة النبویة (١/٣٥٨-٣٦٢).

**زده کوونکی:** د صحابو غونډه به څنګه وه، هغه به ډيره ښکلې وه؟

**ښوونکی:** هو، ډېره ښکلې وه: هغوی وويل: "موږ به يواځې حقيقت وايو، قسم په الله هغه څه به وايو چې موږ ته زموږ پيغمبر ﷺ ښوولي دي، که څه هم موږ ته پکې خير وي يا زيان."

**زده کوونکی:** دا ډېر ښه ده چې نجاشي ته حقيقت ووايي، لکه څنګه چې زموږ پيغمبر محمد ﷺ موږ ته ښوونه کړې ده.

**ښوونکی:** هو، حقيقت (صداقت) غوره وي، زموږ دين موږ ته په صداقت ويلو امر کوي او له دروغو نه مو منع کوي.

**زده کوونکی:** ښوونکيه! بيا څه وشول؟ موږ تږي يو چې نور هم پوهه شو.

**ښوونکی:** صحابه کرامو موافقه وکړه چې جعفر بن ابی طالب رضي الله عنه به خبرې وکړي؛ نو جعفر رضي الله عنه وويل: ای پادشاه! موږ په جاهليت کې وو، بتانو بندګي به مو کولې، مردارې به مو خوړلې، بدکارۍ به مو کولې، خپلوۍ به مو پرې کولې، ګاونډيانو سره به مو بدی کولې، قوي او پياوړي کس به کمزوری خوړلو، موږ په دې حالت کې وو چې الله زموږ څخه يو رسول موږ ته راوليږه چې موږ يې نسب، صداقت او امانت پېژنو، هغه موږ الله ته راوبللو، امر يې وکړو چې يوازې د الله عبادت کوئ، کوم کارونه به چې زموږ پلرونو کول، د تيږو او بوتانو د بندګۍ د پريښودو امر يې راته وکړو، موږ ته يې د صداقت، امانت، خپلوي پاللو، او ښه ګاونډيتوب امر وکړ، موږ يې د حرامو او د خلکو د وژلو، د بدکارۍ، درواغو او د يتيم د مال د خوړولو څخه منع کړو، موږ ته يې د لمونځ، زکات او روژې امر وکړ. زموږ قوم پر موږ بريد وکړ، موږ ته يې اذيتونه راکړل او د خپل دين نه يې منع کړو ... کله يې چې موږ وزورولو، موږ ته غوره کړې او ستا هېواد ته راغلو[1].

**زده کوونکی:** والله، دا ډېر ښکلې خبرې دي، ښوونکيه! د جاهليت د زمانې بدو اخلاقو ته دې زموږ پام راواړو، لکه د بتانو بندګي کول، خپلوي پرې کول، او بد ګاونډيتوب. او داسې نورې صفتونه چې موږ يې په معنا نه پوهېږو، ښايې ښوونکيه! چې موږ ته يې بيان کړې، لکه "مردار" او "بدکارۍ".

---

(١) المرجع السابق

**ښوونکی:** ډېر ښه زما بچیانو ستاسو د پاملرنې او دلچسپۍ نه. مردار هغه ځاروی دی چې پرته له دې چې حلال شي او د الله نوم پرې یاد شي، مړ شي، لکه کوم ځاروی چې د لوړ ځای نه راپریوځي یا ناروغ شي او مړ شي. او بدکاري ټول هغه بد کارونه دي چې انسان یې نه قبلوي، لکه ظلم او بربنډتوب. او قول زور د خلکو په اړه دروغ ویلو ته وایي.

**زده کوونکی:** مننه ښوونکیه! جزاک الله خیر. ښوونکیه! زموږ پام بل شي ته واوښت، د الله د دین صفات چې زموږ پیغمبر محمد ﷺ ته یې نازل کړی دي، د جاهلیت د اخلاقو ضد دي، لکه څنګه چې جعفر بن ابی طالب رضي الله عنه وویل، موږ ته یې یوازې د یو الله په بندګۍ، په صداقت، امانت، خپلوي پاللو، ښه ګاونډیتوب او د حرامو او خلکو وژلو څخه منع کړي یو، زه داسې پوهه شوم، ښوونکیه! آیا داسې سمه ده؟

**ښوونکی:** هو، تاسو ښه پوهه شوي یاست. د حرامو او وینو تویولو څخه د منعې مطلب دا دی چې موږ له حرامو کارونو او وژلو څخه ځان وساتو، او بیا هېڅکله دې کارونو ته ورنشو.

**زده کوونکی:** خو نجاشي څه وویل کله یې چې د صحابه کرامو خبرې واورېدې؟

**ښوونکی:** نجاشي جعفر رضي الله عنه ته وویل: "آیا له تا سره څه(وحي) شته چې الله نازل کړي وي؟" جعفر وویل: "هو." او بیا یې د سورة مریم تلاوت پیل کړ، کله چې نجاشي د جعفر تلاوت واورېدو، نو ډېره یې لمده شوه، د الله د کلام د ویرې څخه وژړل، کومو اساقفو چې قران واورېدو هغوی هم وژړل، اساقفه د هغه وزیران وو. نجاشي وویل: "بېشکه دا او هغه څه چې عیسی علیه السلام راوړی دي، دواړه له یوې مشکاة څخه راوتلي دي. د قریشو راغلي مشرانو ته یې وویل: والله، زه به تاسو ته داخلک تسلیم نه کړم، ، او نه به څوک دوی ته زیان ورسوي"[١].

**زده کوونکی:** دا یوه غوره پریکړه او خورا اغېزمن دریځ دی، ښوونکیه! دا موږ ته یو پوښتنه راپورته کوي، هغه د نجاشي وینا ده چې د الله د کلام په اړه یې وویل"بېشکه دا او هغه چې عیسی علیه السلام راوړی دی، دواړه له یوې مشکاة څخه راوتلي دي."

**ښوونکی:** ډېره ښه پوښتنه مو وکړه، لومړی: نجاشي په هغه وخت کې د عیسی بن مریم علیه السلام په دین و. کله چې یې د جعفر رضي الله عنه څخه د قرآن کریم تلاوت واورېد، نو یې وویل: "بېشکه دا چې تاسو تلاوت کړ او هغه چې عیسی علیه السلام راوړی دی، دواړه د الله کلام څخه دي، او له یوې مشکاة څخه راوتلي دي." مشکاة هغه ډیوې ته وایي

---

(١) المرجع السابق

چې په داخل کې رڼا ولري، يعنې دا دواړه له يوې ځای څخه راوتلي دي، او هغه ته يې مشکاة وويلو، ځکه مشکا يو نور او رڼا ده، او د الله کلام د خلکو لپاره يو نور دی.

کله چې د الله دين زموږ پيغمبر محمد ﷺ ته نازل شو، نو ټولو پخوانيو دينونو ته يې خاتمه ورکړه، الله د هغه پرته چې زموږ پيغمبر ﷺ محمد ته نازل شوي دي، د انسانانو څخه بل هيڅ دين نه مني: ﴿وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ ٱلْإِسْلَٰمِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِى ٱلْأَٰخِرَةِ مِنَ ٱلْخَٰسِرِينَ﴾ [آل عمران: ٨٥].

**ژباړه:** اوڅوك چې له اسلام نه غير (بل) دين غواړي، نو هيڅكله به له ده نه قبول نه كړى شي او دغه كس په اخرت كې له تاوانيانو څخه دی.

زموږ پيغمبر محمد ﷺ وروستی پيغمبر او خاتم النبيين دی، او تر هغې وروسته بل هيڅ پيغمبر نشته.

## د حمزه رضي الله عنه مسلمانيدل:

**ښوونکی:** حمزه د نبې ﷺ تره و او د خپل قوم په دين و، خو د نبي ﷺ په اړه يې يوه پيښه کې دفاع وکړه چې دا يې د اسلام راوړلو سبب شو.

**زده کوونکی:** ښوونکيه! دا څه پيښه وه؟

**ښوونکی:** مخکې له دې چې زه هغه پيښه بيان کړم، زه به تاسو ته د عربو په اړه يو څه معلومات درکړم چې په هغه وخت کې څنګه وو. عربانو ښکار کول ډېر خوښول، او ځينې به د ښکار لپاره صحرا ته تلل، چېرته به چې ډېر مرغان وو، نيول به يې، پخول به يې او خوړل به يې.

حمزه، د نبي ﷺ تره، د ښکار لپاره تللی و. کله چې له ښکار نه راستون شو؛ نو مېرمنې يې ورته وويل چې ابو جهل د نبې ﷺ سره په صفا کې جګړه کړې او هغه يې ځورولی دی. حمزه رضي الله عنه غوسه شو، خپل کور ته داخل نه شو، بلکې مسجد الحرام ته ولاړ، چېرته به چې د قريشو مجلسونه د کعبې ترڅنګ وو.

**زده کوونکی:** دا ښايي چې حمزه د نبې محمد ﷺ سره ډېره مينه لرله؟

**ښوونکی:** هو، دا ښايي چې حمزه د خپل وراره سره ډېره مينه درلوده، او نه يې غوښتل چې څوک هغه ته کوم ډول زيان ورسوي. همدارنګه، د ابو جهل د نبي ﷺ ته زيان رسول ښايي چې د نبي ﷺ قوم لا هم په مکه ځورول کيږي او هغه پرې صبر کوي.

**زده کوونکی:** آيا حمزه رضی الله عنه بيا ابو جهل پيدا کړو؟

**ښوونکی:** هو، هغه يې په يو مجلس کې پيدا کړ. حمزه ورغی او په خپلې ليندۍ سره يې هغه په سر وواهه. يو سړی له قريشو څخه پاڅېده او حمزه يې ونيوه ترڅو حالت خراب نه شي. حمزه وويل: "زما دين د محمد دين دی. زه شاهدي ورکوم چې هغه د الله رسول دی. زه به هېڅکله له دې خبرې وانه وړم." بيا يې وويل: "نو که تاسو ريښتيني ياست؛ نو ما له دې څخه منع کړئ." په دې توګه حمزه رضي الله عنه مسلمان شو.

**زده کوونکی:** سبحان الله العظيم، الله پاک دا پېښه د نبي ﷺ د تره د اسلام راوړلو سبب وګرځوله، ترڅو نبي ﷺ ته خوشحالي شي.

**ښوونکی:** هو! د حمزه اسلام مسلمانانو ته عزت او ځواک ورکړ، او د نبي ﷺ مرسته يې وکړه. قريشو وېره وکړه او پوه شول چې حمزه به هغوی ته د رسول الله ﷺ د ځورولو اجازه ورنه کړي.

تاسو فکر وکړئ چې نبي ﷺ د خپل قوم د پاره څومره صبر وکړ، ترڅو يو په بل پسې په اسلام کې داخل شي؛ نو د صبر بدله بيا بريا وي.

## د عمر بن الخطاب رضي الله عنه مسلمانيدل:

**ښوونکی:** عمر بن الخطاب رضي الله عنه د جاهليت په وخت کې د قريشو د نور خلکو په څير د اسلام سره ډېره دښمني درلودله، خو الله په خپل حکمت سره چاته چې وغواړي هدايت کوي.

**زده کوونکی:** هغه چې د اسلام سر سخته دښمن و؛ نو څنګه يې نظر بدل شو؟

**ښوونکی:** بچيانو! توفيق د الله په لاس کې دی، هغه زړونه بدلوي او اصلاح کوي، نو موږ بايد الله ته دعا وکړو چې زموږ زړونه اصلاح کړي او موږ په خپل دين ثابت وساتي.

ام عبدالله بنت ابي حثمه رضي الله عنها وايي: قسم په الله موږ حبشې ته د تګ لپاره تياری نيوه، لکه څنګه چې مخکې مو تاسې ته ويلي وو. نو وايي: عمر رضي الله عنه راغی

او زموږ په وړاندې ودرېد، په داسې حال کې چې هغه لا په شرک کې و، او موږ له هغه نه ډېر تکلیف لیدلی و[۱].

**زده کوونکی:** دا خو دا معنا لري چې خلک به د حبشې هغو مسلمانانو پسې تلل چې مخکې تللي وو.

**ښوونکی:** هو، هر هغه څوک چې د خپلې قبیلې له اذیت او شکنجې ویره درلوده، حبشې ته به تلل، مګر د هغه چا سره په چې د الله په توفیق د خپل قوم مرسته او دفاع وه، هغوی به نه تلل، لکه؛ لکه حمزه رضي الله عنه.

**زده کوونکی:** دا د هغو صحابه وو لپاره ازمیښت دی چې اسلام یې قبول کړی و. خو عمر بن الخطاب رضي الله عنه څنګه مسلمان شو؟

**ښوونکی:** عمر د نبي ﷺ د دعا په برکت مسلمان شو. کله چې نبي ﷺ ولیدل چې مسلمانانو ته څه مشکلات ورپیښېږي، خپل رب ته یې دعا وکړه، وې ویل: (اللهم أعز الإسلام بأبي جهل بن هشام، أو بعمر.) نو په سبا ورځ عمر رسول الله ﷺ ته راغی او مسلمان شو.

**زده کوونکی:** سبحان الله العظیم الکریم، الله د خپل نبيﷺ دعا ته په عجیب سرعت سره جواب ورکړ.

**ښوونکی:** هو، الله خپل نبي ﷺ سره مینه لري او د هغه دعا قبلوي، دا هم د دې ښکارندويي کوي چې عمر رضي الله عنه په خپل قوم کې ځای او مقام درلود، ځکه نبي ﷺ خپل رب ته دعا وکړه چې اسلام د عمر یا ابو جهل په واسطه قوي کړي؛ نو بیا عمر رضي الله عنه مسلمان شو.

**زده کوونکی:** ګران ښوونکیه! آیا یقیناً د عمر رضي الله عنه په مسلمانیدو سره مسلمانان قوي شول.

**ښوونکی:** هو، مسلمانان قوي شول، حتی عبدالله بن مسعود رضي الله عنه، وویل: (ما زلنا أعزة منذ أسلم عمر)[۲].

---

(۱) أحمد بن حنبل، فضائل الصحابة (۲۷۹/۱)

(۲) البخاري، (۵۷/۳) د حدیث شمېره ده (۳۸۶۳).

**نو وګورئ څنګه د مسلمانانو حالت په ښه کېدو شو، د دوو قويو کسانو د اسلام راوړلو په واسطه، چې حمزه او عمر رضی الله عنهما دي. لکه څرنګه چې الله فرمايلي دی:** ﴿إِنَّ مَعَ ٱلۡعُسۡرِ يُسۡرٗا﴾ [الشرح: ٦] .**ژباړه:** بېشکه له سختۍ سره اساني شته.

**لکه څنګه چې موږ بايد د خپلو مشکلاتو په وړاندې صبر وکړو، لکه څرنګه چې الله فرمايلي دي:** ﴿إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ﴾ [البقرة: ١٥٣]. **ژباړه:** يقينًا الله د صبر کوونکو ملګری دی.

**ځکه الله له صبر کوونکو سره دی؛ او همدارنګه بايد هېڅکله ناهيلې نه شو، ځکه زموږ پيغمبر محمدﷺ د خپلو خلکو د مشکلاتو او اذيتونو سره سره هېڅکله ناهيلې نه شو.**

**هيڅکله به ناهيلې نه شو ځکه الله د هر شي مالک دی، نو موږ څنګه ناهيلې کېدای شو، الله زموږ په اړه په هر څه پوهيږي.**

**زده کوونکی: هو! هېڅکله به ناهيلې نه شو او بايد د صبر کولو زده کړه وکړو. لکه څنګه چې زموږ پيغمبر محمد ﷺ صبر وکړو.**

## د شعب ابي طالب محاصره:

**ښوونکی: کله چې قريش پوهه شول چې اسلام په قبيلو کې خپريږي، او صحابه چې حبشې ته هجرت کړي وو د الله په امان کې دي او بيا د حبشې پاچا په امان کې دي. حمزه، د نبي ﷺ تره مسلمان شو، همدارنګه عمر بن الخطاب هم مسلمان شو، قريش وپوهيدل چې اسلام قوي کېږي؛ نو د قريش کفارو پرېکړه وکړه چې پيغمبر محمد ﷺ ووژني**[1].

**زده کوونکی: دا يوه لويه او خطرناکه پرېکړه ده.**

**ښوونکی: هو، دا لويه او خطرناکه پرېکړه ده لکه څنګه چې تاسو وويل، خو الله ساتونکی او مرسته کوونکی دی، او د ممانعت اسباب چمتو کوي.**

**زده کوونکی: ما شاء الله ولا قوة إلا بالله، د پيغمبر محمد ﷺ د خپل قوم په تکليفونو صبر کول ددې لامل شول چې اسلام په خلکو کې خپور شو، ځينې قوي کسان د قريش له ډلې د الله په دين کې داخل شول. خو اې ښوونکيه! موږ د محاصره کولو په معنی پوهه نشو.**

---

(١) ابن هشام، السيرة النبوية (١/٣٧٥-٣٨٠) (٣/١٤-٢٢) ابن حجر، فتح الباري (٧/١٩٢-١٩٣).

**ښوونکی:** الشعب معناه هغه ځای چې د دوو غرونو ترمنځ وي، او زیاتره مکه د ډېرو غرونو له امله د شعابو څخه تشکیل شوې. او محاصره کولو معنی دا ده چې خلک د داخلېدو یا وتلو څخه منع کول، یا څه شی ورته نه پرېښودل لکه خواړه او نور.

**زده کوونکی:** زموږ پیغمبر محمد ﷺ څه وکړل کله چې پوه شو چې کفار غواړي هغه ووژني؟

**ښوونکی:** کله چې د هغه کاکا ابو طالب په دې پوهه شو؛ نو بنو هاشم او بنو مطلب یې راټول کړل او د دې موضوع په اړه یې مشوره وکړه. د ابوطالب د غوښتنې په ځواب کې ټولو د پیغمبر د حمایت او ساتنې لار غوره کړه، حتی کافرانو هم د خپلوانو لپاره دا حمایت وکړ، مګر ابو لهب د قریشو سره و؛ نو نبي ﷺ یې په خپل شعب کې واچاوه، چې دا کار د بعثت په اووم کال د محرم د میاشتې په لومړۍ ورځ وشو[١].

**زده کوونکی:** تاسو وویل چې د هغه کاکا ابو طالب غوښتنه یې ومنله، حتی کافران هم د خپلوانو لپاره دا کار وکړ. حمیه څه ته وایي.

**ښوونکی:** الحمیه معنی دا ده چې د هرې قبیلې خلکو د خپلې قبیلې او یا د خپلې قبیلې د افرادو حمایت کولو، دا یوازې د قبیلې لپاره مرسته او کومک و؛ نه د حق لپاره مرسته وه. دا حمیه د جاهلیت په وخت کې دود وه. خو اسلام وروسته دا لغوه کړ، او د حق پرته حکایت یې منع کړ، او د جاهلیت ملاتړ یې لغوه کړ، چې په هغه کې به یې حتی ظالم د مظلوم په وړاندې د قبیلې له امله حمایت کاوه[٢].

**زده کوونکی:** دا اسلام ښکلی دی، خلکو ته اخلاق زده کوي.

**ښوونکی:** کله چې مشرکانو په دې محاصره توافق وکړ، نو په دې اړه یې یو صحیفه یعنې یو کتاب ولیکو، او په کعبه یې وځړاوه، ترڅو له دې توافق څخه په شا نه شي.

**زده کوونکی:** مسلمانانو په دې محاصره کې څه وکړل؟

**ښوونکی:** دا محاصره دوه یا درې کاله دوام وکړ، مسلمانانو او هغو چې ورسره وو په دې ظالمانه محاصره صبر وکړ، خواړه او روزي ورته نه راپرېښودل کېده، تر دې چې دوی د ونو پاڼې خوړلې.

---

(١) المرجعان السابقان.

(٢) ښوونکی باید دا وخت په ګټې اخیستنې سره زده کوونکو ته د حمایت ناوړه مثالونه یې ورته وړاندې کړي، او د حمایت ورته ښه مثالونه وړاندې کړي، په ژوند کې دې ورته مثالونه ورکړي کوم چې خوښوي، او چې د کوم څخه منع شوې ده.

**زده کوونکی:** ښوونکیه! دا ډېره اوږده موده وه.

**ښوونکی:** هو، دا د محاصرې او صبر اوږده موده وه، ترڅو چې د قریش یو کس، چې نوم یې هشام بن عمرو بن الحارث العامري و، د دې صحیفې څخه کرکه وکړه، او په پټه یې دې شعب ته خواړه لېږل، نو دا سړی په پټه یو په یو د قریش ځینو کسانو ته لاړ، او هغوی سره یې خبرې وکړې، نو ټول سره راټول شول او په دې ظالمانه صحیفه پرېکړه یې وکړه چې وشلوي، او یادونه کېږي چې ځمکې د صحیفې ټول څه وخوړل پرته د الله نوم څخه[۱].

**زده کوونکی:** دا یو سخت حالت دی، خو الله د دې سړي هشام بن عمرو په زړه کې رحمت واچاوه چې د صحیفې په شلولو کې یې مرسته وکړه.

**ښوونکی:** الله د هر څه مالک دی، چې دا صحیفه شلول یې آسانه کړل، په صحیفه کې د ظلم ټولې خبرې یې خوړلې وې یوازې د الله نوم پاتې شوی و.

دا موږ ته د ازمېښت په وړاندې د صبر اهمیت ښایي، مسلمانانو باندې الله امتحان راولي، ازمېښت په مسلمان باندې کله د الله غضب نه وي، بلکې دا ددې لپاره وي چې د قیامتپ په ورځ د هغې درجې لوړې شي، او هغې ته د سخت نه وروسته اساني راځي[۲].

## د ابو طالب او خدیجې رضي الله عنها وفات:

**ښوونکی:** کله چې مسلمانان د شعب ابو طالب څخه په لږه موده کې راووتل، ابو طالب وفات شو، او د پیغمبر ﷺ ښځه خدیجه رضي الله عنها هم وفات شوه[۳].

**زده کوونکی:** د پیغمبر ﷺ د پاره دا یو بل ازمېښت او امتحان دی.

**ښوونکی:** هو! مصیبتونه ازمېښت وي، او د پیغمبر ﷺ کاکا او ښځې وفات یو ازمېښت و، په ځانګړې توګه د ابوطالب مړینه ځکه چې هغه په قریشو کې لوی مقام درلود، او د پیغمبر ﷺ دفاع یې کوله، او همدارنګه خدیجه بنت خویلد رضي الله عنها به پیغمبر ﷺ

---

(۱) المرجعان السابقان.

(۲) ښوونکی باید ځینې ازمېښتونه چې انسان ته په خپل ژوند کې پېښېږي بیان کړي، او دا هم څرګند کړي چې په داسې حالتونو کې باید څه وکړي.

(۳) ابن هشام، السیرة النبویة (۲/۵۷-۵۸).

**ته تسلي ورکوله او صبر کولو ته يې هڅوو؛ نو هغه یوه ښه ښځه وه، الله دې ترې راضي شي، لیکن دا د الله تقدیرونه دي، او موږ باید په دې صبر وکړو.**

**پیغمبر ﷺ په خپل کاکا او د ښځې له لاسه ورکولو باندې غمجن شو، تر دې چې هغه کال د غم کال په نوم یاد شو. ځکه چې د هغه کاکا اسلام قبول نه کړ، سره له دې چې هغه د پیغمبر ﷺ مرسته کوله، هغه ورته ګران و، دفاع يې ورڅخه کوله، او پیغمبر ﷺ هڅه او کوښښ کاوه چې هغه مسلمان شي، حتی په وروستۍ شېبه کې يې هم هڅه وکړه، خو د کفار هغه ته تشویق ورکولو چې د پلرونو او نیکونو په دین کې پاتې شي.**

**زده کوونکی:** **سبحان الله العظیم، هغه د پیغمبر ﷺ مرسته کوله، دفاع يې کوله او مسلمان نه شو.**

**ښوونکی:** **هو، هغه د قریشو مشرکانو له امله مسلمان نه شو، چې هغه ته يې تشویق ورکاوه چې په خپل شرک پاتې شي، نو له دې امله باید له بدو ملګرو څخه ډډه وکړو، چې انسان د الله نافرمانۍ ته تشویقوي.**

**موږ باید د الله شکر ادا کوو چې موږ يې مسلمانان کړي یو، دا یو لوی نعمت دی، ځکه چې هدایت د الله کرم او مهرباني ده، لکه څنګه چې الله خپل پیغمبر ﷺ ته وویل چې د خپل کاکا د هدایت هڅه يې کوله:** ﴿إِنَّكَ لَا تَهۡدِي مَنۡ أَحۡبَبۡتَ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَهۡدِي مَن يَشَآءُۚ وَهُوَ أَعۡلَمُ بِٱلۡمُهۡتَدِينَ﴾ [القصص: ٥٦].

**ژباړه:** بېشکه ته هدایت نشې کولی هغه چا ته چې ته يې خوښوې، او لېکن الله هدایت ورکوي چا ته چې وغواړي او هغه ښه عالم دی په هدایت موندونکو باندې.

## د رسول الله ﷺ طائف ته تلل:

**ښوونکی:** **د پیغمبر ﷺ د کاکا ابو طالب د وفات وروسته، قریشو د پیغمبر ﷺ د اذیت زیاتولو هڅه پیل کړه، دومره يې زوروه چې د هغه د کاکا په ژوند کې يې هغومره نه زوروه؛ نو رسول الله ﷺ طایف ته ولاړ، په دې هیله چې د ثقیف قبیله به د الله دین ومني او د هغې مرسته به وکړي.**

**زده کوونکی:** **آیا پیغمبر ﷺ د خپلو اصحابو سره ولاړ؟**

**ښوونکی:** نه، بلکې هغه یوازې طایف ته ولاړ ترڅو هیڅوک پوه نه شي، او ثقیف ته د تللو څخه یې منع نه کړي، او یا یو څوک ثقیف قبیلې ته ولاړ شي، او هغوی د پیغمبر ﷺ د مرستې مخنیوی وکړي.

**زده کوونکی:** دا یو مهم تدبیر دی چې رسول الله ﷺ نیولی دی. مګر ایا د ثقیف قبیله زموږ پیغمبر محمد ﷺ مرسته وکړه؟

**ښوونکی:** کله چې پیغمبر ﷺ طایف ته ورسید، د هغه مشران او سرداران درې ورونه وو: عبد یالیل بن عمر بن عمیر، مسعود او حبیب.

رسول الله ﷺ د هغوی سره کېناست او هغوی ته یې د الله دین ته بلنه ورکړه، او د دې دین لپاره یې د هغوی مرسته وغوښته. خو هغوی د هغه بلنه او مرسته ونه منله، پیغمبر ﷺ ترې غوښتنه وکړه چې د هغه طائف ته د سفر خبر پټ وساتي، چې د مکې خلک د هغه په اړه پوهه نه شي، چې د هغې په وړاندې تدابیر جوړ نه کړي.

**زده کوونکی:** قسم په دالله چې دا خو ډېر سخت حالت دی. پیغمبر ﷺ په صبر سره دا حالتونه تېرول.

**ښوونکی:** هو، دا ډېر سخت حالت دی چې یو چا ته ورشې او هغه دې رد کړي. په ځانګړې ډول چې هغه څوک چې پیغمبر وي او د الله پیغام یې راوړی وي، داسې نه چې دې دنیا کوم یو څیز درنه غواړي.

الله دا درسونه موږ ته راکوي چې زده کړه وکړو، صبر وکړو او مایوسه نشو، کنه الله کولای شو چې د پیغمبر محمد ﷺ نبوت ډېر آسانه کړي. لیکن الله موږ ته ښایي چې پیغمبر ﷺ څه ډول حالتونه په ځان تېر کړل، څنګه یې صبر وکړ او وروسته د صبر او کوښښ له امله بریالی شو، هېڅکله ستونزو ته تسلیم نه شو.

نو موږ باید د ستونزو او مشکلاتو په وړاندې تسلیم نشو، بلکه کوښښ وکړو، چې په ټولو کارونو کې صبر وکړو، عمل وکړو، له الله څخه مرسته وغواړو او په هغه توکل وکړو.

**زده کوونکی:** او پیغمبر ﷺ څه وکړل وروسته له هغې چې د هغه بلنه او مرسته یې رد کړه؟

**ښوونکی:** هغوی یوازې د پیغمبر ﷺ بلنه او مرسته رد نه کړه، بلکې خپلو ماشومانو او غلامانو ته یې وویل چې هغه په کاڼو وولي، بد رد ورته ووایي او چغې یې ورپسې وهلې. خلک پرې راټول شول، یوې چاردیوالۍ په لورې لاړ چې په مینځ کې یې باغ و، هلته تر هغې پورې کېناست چې ماشومان او ناپوهه خلک ترې ورګرځیدل، نو پیغمبر ﷺ د انګور

د څپر (عريش) لاندې کېناست، عريش د لرګي جوړه شوي خیمه وي، چې د انګورو څانګې او پاڼې پرې خپرې شوې وي.

**زده کوونکی:** والله، دا ډېر زړه دردونکی حالت دی چې زموږ پيغمبر ﷺ داسې حالاتو سره مخ شوی.

**ښوونکی:** هو، لکه څرنګه چې تاسو وويل، دا يو ډېر خواشينونکی حالت و، خو دا دين له موږ څخه غواړي چې د الله (جل جلاله) په اطاعت صبر وکړو او په هر هغه سختۍ باندې هم صبر وکړو چې موږ ورسره مخامخ کېږو، موږ بايد د لمونځ په ادا کولو صبر وکړو، او پرې يې نږدو يا د هغې په وړاندې سستي ونه کړو، په رېښتيا ويلو صبر وکړو او له دروغو ويلو څخه ځان وساتو. موږ صبر وکړو چې خپل دين زده کړو او مسايل يې په ياد وساتو، د قرآن کريم او د رسول الله ﷺ احاديثو په حفظ کې کوښښ وکړو. همدارنګه د والدينو اطاعت او د الله (جل جلاله) د امرونو پر ځای کولو باندې صبر وکړو، او د ژوند له ستونزو سره په صبر، کوښښ، سخت کار او هڅونې سره مقابله وکړو.

**زده کوونکی:** هو ښوونکی! که زموږ پيغمبر ﷺ په اذيت او سختيو صبر کړی وي، نو موږ بايد هغه څه وکړو چې هغه د الله څخه راوړی او په طاعت کې صبر وکړو.

**ښوونکی:** دا سمه ده. کله چې پيغمبر ﷺ د عتبه بن ربيعه او د هغه د وروس شيبه د انګورو د څپر لاندې کېناست؛ رسول الله ﷺ هلته ډاډه شو، او الله نه يې دعا وکړه، او په دې دعا کې يې وويل: (اللهم اشكو إليك ضعف قوتي، وقلة حيلتي، وهواني على الناس يا أرحم الراحمين، أنت رب المستضعفين، وأنت ربي.....)[1].

د رسول الله ﷺ په شکايت کې فکر وکړئ چې رب ته يې کوي، څنګه يې د خپلې کمزورۍ او بې وسۍ يادونه وکړه، الله ډېر رحم کونکی او د بې وسو رب دی.

**زده کوونکی:** دا ډېره ښه ده ښوونکيه! موږ له دې څخه زده کوو چې کله موږ په مصيبتونو کې يو، يا کوم څه ته اړتيا لرو، نو الله ته راوګرځو، لکه څنګه چې زموږ رسول محمد ﷺ ورته راوګرځيدو او له الله څخه يې وغوارو.

**ښوونکی:** ډېر ښه، زده کوونکو! دعا يو لوی عبادت دی، موږ بايد په هره اړتيا کې چې موږ يې لرو، الله نه دعا وغواړو.

**زده کوونکی:** بيا پيغمبر ﷺ په هغه باغ کې څه وکړل؟

---

(١) ابن هشام، السيرة النبوية (٦٢/٢)

**ښوونکی:** کله چې پيغمبر ﷺ د انگورو د خپر لاندې کېناست، عتبة بن ربيعه او د هغه ورور شيبه خپل غلام عداس ته وويل، چې هغه نصراني و: د دې انگورو يو گيډۍ راواخله، او په دې قاب کې يې دې سړي ته يوسه.

عداس انگور په قاب کې واچول، او پيغمبر ﷺ ته يې راوړل او ورته يې وويل: دا وخوره. کله چې پيغمبر ﷺ لاس په قاب کې ښکته کړ؛ نو يې وويل: بسم الله. عداس وويل: د دې ځای خلک خو داسې نه وايي. پيغمبر ﷺ ورته وويل: ته د کوم ځای يې، اې عداسه؟ او په کوم دين يې؟ عداس وويل: زه نصراني يم. او زه د نينوی اوسيدونکی يم. پيغمبر ﷺ ورته وويل: ته د هغه نيک سړي، يونس بن متی کلی يادوې؟ عداس وويل: ته څنگه يونس بن متی پيژنې؟ پيغمبر ﷺ ورته وويل: هغه زما ورور دی، هغه پيغمبر و، او زه هم پيغمبر يم. عداس د پيغمبر ﷺ سر، لاسونه او پښې ښکل کړل.

د ربيعه زامنو چې عداس وليد چې پيغمبر ﷺ ښکلوي؛ يو بل ته وويل: غلام دې درته خراب کړ. عداس چې کله راغی، هغوی ورته وويل: واعداسه! تا د دې سړي سر، لاسونه او پښې ولې ښکل کړې؟ عداس ورته وويل: ښاغليه! په ځمکه کې هيڅ شی له دې نه غوره نشته. هغه راته داسې خبره وکړه چې يواځې يو پيغمبر يې پوهېږي. هغوی ورته وويل: واعداسه، پام کوه چې د خپل دين څخه وانه وړې، ستا دين د دې له دين څخه ښه دی[1].

**زده کوونکی:** هغود ولې عداس ته وويل چې ستا دين له هغه د دين څخه ښه دی؟

**ښوونکی:** ځکه چې هغوی په هغه څه نه پوهېدل کوم چې پيغمبر ﷺ درلود، بې له پوهې او علمه يې دا خبرې وکړې.

پيغمبر ﷺ له دې اذيتونو سره له طائف څخه غمجن لاړ، او ويې فرمايل: "زه په ځان نه پوهېدم تر څو چې د قرن الثعالب په سيمه کې وم." دا سيمه د طائف او مکې ترمنځ ده. پيغمبر ﷺ وفرمايل: "ما سر پورته کړ، او يوه وريځ مې وليده چې زه يې تېول سوری کړی وم، په دې وريځ کې جبرائيل عليه السلام و، ماته يې غږ وکړ: ستا قوم چې تا ته کومې خبرې وکړې هغه الله واوريدې، الله تا ته د غرونو پرښتې راولېږله، څه کول چې غواړې ته ورته امر وکړه، د غرونو پرښتې ماته سلام وکړ او ويې ويل: يا محمد! ته څه غواړې؟ که ته وغواړې، زه به پر هغوی دغه دوه غرونه (أخشبين نوميږي)د پاسه راوغورځوم[2].

تاسو څه فکر کوئ چې پيغمبر ﷺ به د هغو خلکو په اړه چې هغه يې ووهلو او آزار يې کړ؛ څه ويلي وي؟ آيا هغه به ورته ويلي وي: هو، په هغوی دغه دوه غرونه(أخشبين)

---

(١) المرجع السابق.

(٢) البخاري (٢/٤٢٨-٤٢٩) د حديث شمېره ده (٣٢٣١).

د پاسه راوغورځوه، دا دواړه غرونه د مکې په څنګ دي؟ کنه پيغمبر به هغوی ته ښېنه وکړي، د هغوی په کړو کارونو به صبر وکړي او هڅه به کوي، ترڅو هغوی په اسلام کې داخل شي؟

پيغمبر ﷺ د غرونو پرښتې ته وویل: "بلکه زه هيله لرم چې الله به د هغوی له نسل څخه داسې خلک پيدا کړي چې يوازې د الله عبادت به کوي او هېڅ شی به الله سره نه شريکوي. " يعني هغوی پرېږده، غرونه پرې مه راغورځوه، الله به د هغوی په نسل کې الله عبادت کوونکی خلک پيدا کړي، که الله هغوی تباه کړي، نو د هغوی نسل به ختم شي؛ خو زموږ پيغمبر محمد ﷺ يوازې د ځان لپاره بريا نه غواړي، بلکې په اسلام کې د خلکو په داخليدو سره يې د اور څخه وژغوري.

تاسو دا رایاد کړئ چې پيغمبر ﷺ خپل رب نه دعا وغوښته، الله څنګه د هغه دعا قبوله کړه، چې جبرائيل عليه السلام يې ورته راواستوه.

**زده کوونکی:** هو، دا يو لوی او د عزت څخه ډک موقف دی.

**ښوونکی:** پيغمبر ﷺ چې کله د طائف څخه راستنېده، په نيمه شپه کې د نخلې په سيمه کې يې لمونځ کولو. د پيريانو يو ګروپ پر دغه ځای تيريدو، چې د پيغمبر ﷺ د قرآن لوستو ته غوږ ونيولو، او ايمان يې راوړو. کله چې پيغمبر ﷺ له خپل لمونځ خلاص کړ، دغه پيريان خپل قوم ته ويره ورکونکي لاړل، الله فرمايلي دي: ﴿وَإِذۡ صَرَفۡنَآ إِلَيۡكَ نَفَرٗا مِّنَ ٱلۡجِنِّ يَسۡتَمِعُونَ ٱلۡقُرۡءَانَ فَلَمَّا حَضَرُوهُ قَالُوٓاْ أَنصِتُواْۖ فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوۡاْ إِلَىٰ قَوۡمِهِم مُّنذِرِينَ﴾ [الأحقاف: ۲۹].

**ژباړه:** او هغه وخت (ياد کړه) چې مونږ تا ته د پيريانو يوه ډله راوګرځوله، چې قرآن به اوري، نو کله چې دوی ده (قرآن) ته حاضر شول، نو ويې ويل: چوپ شئ! نو کله چې (د قرآن تلاوت) تمام کړی شو (نو) دوی خپل قوم ته بېرته وګرځېدل، په داسې حال کې چې وېروونکي وو.

وګورئ! کله چې خپل قوم يې دعوت رد کړ، الله پيريان ورته تابع کړل، هغوی قران واوريده، او د پيغمبر ﷺ رسالت يې ومنو.

**زده کوونکی:** دا د دين لپاره لويه قرباني ده، ليکن د الله مرسته د پيغمبر سره وي.

## اسراء او معراج:

**ښوونکی:** د طائف له سفر وروسته، چې مشران يې د اسلام قبلولو ته چمتو نه و، او د رسول الله ﷺ سره يې ناوړه چلند وکړ، د اسراء او معراج سفر راځي.

**زده کوونکی:** ښېنه غواړم، محترم ښوونکيه! د اسراء او معراج معنی څه ده؟

**ښوونکی:** د اسراء کلمه له (يسري) څخه راخيستل شوې، معنی يې ده: په شپه کې تلل يا سفر کول. او معراج کلمه له (عروج) څخه راخيستل شوې، معنی يې ده: پورته تلل.

معنی يې دا شوه چې پيغمبر ﷺ د دوه پيښو سره مخ شو: لومړی: اسراء، چې په شپه کې له مکې څخه بيت المقدس ته تلل وو. او دويم: هغه وخت چې پيغمبر ﷺ آسمان ته پورته کړل شو، لکه څنګه چې الله پاک فرمايلي دي: ﴿سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِيٓ أَسۡرَىٰ بِعَبۡدِهِۦ لَيۡلٗا مِّنَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ إِلَى ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡأَقۡصَا ٱلَّذِي بَٰرَكۡنَا حَوۡلَهُۥ لِنُرِيَهُۥ مِنۡ ءَايَٰتِنَآۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ﴾ [الإسراء: ١].

**ژباړه:** هغه ذات لره پاکی ده چی خپل بنده یی د شپی په یوه لږه برخه کی له مسجد حرام نه مسجد اقصٰی ته بوتلو، هغه (مسجد اقصٰی) چی مونږ د هغه ګېرچاپېره برکت اچولی دی، د دی لپاره چی مونږ هغه ته له خپلو نښو څخه ځينې وښيو، بېشکه هم هغه ښه اورېدونکی، ښه لیدونکی دی.

**زده کوونکی:** پيغمبر ﷺ د دوه پيښو سره مخ شو چې لومړی: هغه په شپه کې له مسجد الحرام څخه مسجد الاقصی ته بوتلل شو. دويم: هغه آسمان ته پورته کړل شو. خو دا څنګه وشول، ښوونکيه؟ که تاسو دا لويه پيښه موږ ته روښانه کړئ.

**ښوونکی:** انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: "زه په براق راوړل شوم. براق سپين اوږده حيوان و، چې په قد کې د خره نه لوړ او د قچر نه ټيټ وه.[1]" د حديث دا برخه موږ ته د براق په اړه معلومات راکوي چې پيغمبر ﷺ پرې سفر وکړ، چې براق نوميږي، رنګ يې سپين و، اوږده وه، او د خره څخه لوی او د قچر څخه کوچنی وه.

---

(١) مسلم (١٤٥/١) د حديث شمېره ده (٢٥٩-١٦٢).

پیغمبر ﷺ د براق بیان داسې کړی دی: "هغه به خپل قدم په هغه ځای کیښودو چې کوم ځای به يې نظر رسیدو"[١].

دا معنا چې ډېر تېز مزل يې کوو، لکه د تیزې بریښنا په څیر، د ډېرې تیزۍ له امله به يې چې خپله پښه پورته کړه؛ نو هغه ځای به يې کیښوده چې نظر به يې ورته رسیدو، بیا پیغمبر ﷺ وویل: " زه ورباندې سپور وم تر څو بیت المقدس ته ورسېدم، هلته مې په هغه کړۍ پورې وتړلو په کوم پورې چې نورو انبیاء تړلي وو." پیغمبر ﷺ وویل: "مسجد ته داخل شوم او دوه رکعته لمونځ مې وکړ." بیا جبرائیل هغه آسمان ته پورته کړ.

**زده کوونکی:** دا یوه حیرانوونکې سفر ده، ښوونکیه؟

**ښوونکی:** هو، دا یو ښکلی سفر و، چې رسول الله ﷺ ته د الله په فضل ورکړل شو، وروسته له هغې چې خپل قوم به ورته ویل: جادوګر دی، لیونی او کاهن دی، د ځارو په ګندګیو به يې ویشتو، د هغه ملګرو ته يې سخت تعذیبونه ورکړل. بیا حبشې ته لاړل، په شعب ابوطالب کې محاصره شو، کاکا ابو طالب، او ښځه يې خدیجه رضي الله عنها وفات شول، د طائف څخه خلکو وشړلو. پیغمبر ﷺ دا ټول محنتونه او مشکلات وزغمل تر څو د الله له خوا ورته دا لویه بدله (مکافاة) ترلاسه شوه.

**زده کوونکی:** ښوونکیه! آیا تاسو موږ ته د معراج د سفر په اړه هم څه ویلی شئ؟

**ښوونکی:** الله موږ ته ویلي چې آسمانونه اووه دي، لکه څنګه چې الله فرمایلي دي: ﴿فَقَضَىٰهُنَّ سَبۡعَ سَمَٰوَاتٖ﴾ [فصلت: ١٢]. ژباړه: نو دغه يې په دوه ورځو کې اوه اسمانونه جوړ کړل.

پیغمبر ﷺ لومړی آسمان ته پورته کړل شو، جبرائیل د آسمان ساتونکي ملائکې ته وویل: پرانیزه. ملائکې وویل: څوک يې؟ جبرائیل وویل: زه جبریل یم. ملائکې وویل: آیا له تا سره څوک شته؟ جبرائیل وویل: هو، له ماسره محمد ﷺ دی. ملائکې وویل: آیا هغه ته، ته لیږل شوی وې؟ جبرائیل وویل: هو. کله چې يې پرانیست، موږ لومړي آسمان ته ورپورته شو، هلته مو آدم علیه السلام ولید[٢]، چې د انسانانو پلار دی، الله د هغه ښځه حوا پیدا کړه، اولادونه يې وزیږول چې نسل يې ډېر شو، د ټولو انسانانو نسب آدم او حوا ته رسیږي.

**زده کوونکی:** ښوونکیه! آیا د هر آسمان د ساتونکو ملائکو لخوا ساتل کیږي؟

---

(١) المرجع السابق.

(٢) البخاري (١٣٢/١) د حدیث شمېره ده (٣٤٩).

**ښوونکی:** هو. الله دا کائنات په ښکلي او منظم ډول جوړ کړی، او هر آسمان ته يې ملائکې ټاکلي چې هغه وساتي. الله ډېر حکيم او لوی دی.

**زده کوونکی:** بيا څه وشول؟

**ښوونکی:** بيا پيغمبر ﷺ دويم آسمان ته پورته کړل شو، او د دويم آسمان ساتونکي جبرائيل ته همداسې وويل لکه د لومړي آسمان ساتونکي چې ورته ويلي و. جبرائيل ورته وويل چې ما سره محمد ﷺ دی، او هغه ورته ته ليږل شوی و، پيغمبر ﷺ په آسمانونو کې آدم، ادريس، موسی، عيسی، او ابراهيم عليهم السلام وليدل[١].

الله پاک په دې سفر کې زموږ پيغمبر محمد ﷺ او د هغه په امت باندې پنځه وخته لمونځ کول، فرض وګرځول. دا کار د پنځه وخته لمونځونو عظمت ښايي چې په آسمان کې په پيغمبر ﷺ باندې فرض شول.

په دې سفر کې رسول الله ﷺ جنت وليده او هغې ته داخل شو. او دا سفر موږ ته د الله په وړاندې د پيغمبر ﷺ لوړ مقام ښايي، چې په بيت المقدس کې يې لمونځ وکړ، آسمان ته پورته کړل شو، پيغمبران يې وليدل، جنت يې وليده او هغې ته داخل شو، او په دې سفر کې پنځه وخته لمونځونه پرې فرض شول.

نو وګورئ چې الله هغه صابر او اطاعت کوونکی پيغمبر ته څه بدله ورکړه، چې د اوچتو اخلاقو څښتن و، د خپل قوم په تکليفونو يې صبر وکړ، که چيرته موږ د خپل رب اطاعت وکړو او د هغه اوامر ومنو، الله به موږ ته په دنيا او آخرت کې خير راکړي، او د نيکو کارونو توفيق به راکړي، او په هغې کې به برکت واچوي؛ نو اطاعت زموږ په ژوند کې يو مهم امر دی[٢].

## ټولو قبايلو ته د دعوت منلو وړاندېز يا غوښتنه:

**ښوونکی:** رسول الله ﷺ د طائف خلکو له چلند څخه ناهيلی نه شو، بلکې هغه خپل دعوت مکې ته د حج لپاره راغلو خلکو ته او د عربو بازارونو ته راغلو قبايلو ته وړاندې کاوه.

---

(١) المرجع السابق.

(٢) ښوونکی دې د الله د اطاعت دګټو او د هغې د بدلو بيان وکړي، بلکې د مورو پلار سره د نيکی، د عبادت د ترسره کولو، ويره او اميد د الله څخه ساتل، د اخلاقو فضايل، او د بدو اخلاقو څخه د ځان ساتنې، مثالونه وړاندې کړي.

**زده کوونکی:** آیا په هغه وخت کې عربانو لوی بازارونه درلودل؟

**ښوونکی:** هو، عربانو ډېر لوی لوی بازارونه درلودل، چې د شاوخوا قبایلو تجاران به له مکې او نورو ځایونو څخه ورته راتلل، ځینو به مالونه راوړل، ځینې نورو به راتلل چې مالونه واخلي، او ځینو به اخیستل او خرڅول دواړه کول. له مشهورو بازارونو څخه د عکاظ بازار، د ذي المجاز بازار، او مجنة بازار یادولی شو. او حتی ځینې شاعران به خپل شعرونه په دې بازارونو کې ویل تر څو خلک یې واوري او په قبایلو کې خپاره شي.

**زده کوونکی:** پیغمبر ﷺ به څنګه خپل دعوت قبایلو ته وړاندې کاوه؟

**ښوونکی:** رسول الله ﷺ به د هر قبیلې مخې ورتلو، او ورته ویل: "یا بني فلان، زه د الله رسول یم، تاسو ته امر کوم چې یوازې د الله عبادت وکړئ او د هغه سره هېڅ شی شریک مه جوړوئ، زما تصدیق وکړئ تر څو هغه څه پوره کړم چې الله رالېږلی یم(1). " او همدارنګه یې ویل: "اې خلکو، ووایئ لا اله الا الله، بریالي به شئ(2)." او ویل به یې: "څوک چې ما ته پناه راکړي تر څو د خپل رب پیغام ورسوم، د هغه بدله به جنت وي(3)."

تاسو فکر وکړئ، ربیعة بن عباد دا حالت داسې بیانوي، هغه وایي: "ما رسول الله ﷺ په ذي المجاز کې ولید، چې خلکو ته یې دعوت کو، د شا لخوا ورنه یو سړي ولاړ و چې ویل یې: دا مه پرېږدئ چې تاسو د خپلو خدایانو دین څخه وباسي. ما پوښتنه وکړه: دا څوک دی؟ هغوی وویل: دا د هغه کاکا ابو لهب دی(4)."

له دې بیان څخه ښکاري چې پیغمبر ﷺ به خلکو ته ورتلو، او دا به یې ورته ویل چې زه د الله رسول یم، د هغه پیغام مې راوړی دی. د هغه کاکا ابو لهب به د هغه شاته ولاړ و او خلکو ته به یې ویل چې خپل دین چې د بتانو عبادت مه پرېږدئ. ابو لهب یو چپ سترګې سړي و چې د سترګو یې کوږ لید درلود.

**زده کوونکی:** نو د هغه کاکا ابو لهب به پیغمبر ﷺ ته په دعوت کې تکلیف ورکاوه؟

**ښوونکی:** هو، د هغه کاکا او نور خلکو به هغه ته په دعوت کې تکلیف ورکاوه، او خلکو ته به یې ویل چې د هغه خبره مه منئ.

---

(١) أحمد، المسند (٣/٤٩٢).

(٢) أحمد، المسند (٣/٤٩٢).

(٣) أحمد، المسند (٣/٢٢٣-٣٢٤).

(٤) أحمد، المسند (٣/٤٩٢).

**زده کوونکی:** رسول الله ﷺ به څه کول کله چې هغوی دا تکلیف ورکاوه؟

**ښوونکی:** رسول الله ﷺ د قوي ایمان څښتن و، په خپل دعوت کې هم قوي و، د دې مشکلاتو پر وړاندې به یې دعوت نه درېده، بلکې له دې مشکلاتو به تېریدو، نورو قبایلو ته به یې دعوت کاوه، چا به چې ورسره بد وکړل، هغې ته به یې مخ نه اړولو.

موږ هم باید همداسې وکړو، هغو کسانو ته توجه ونه کړو چې موږ سره ناوړه چلند کوي، ترې تېرشو؛ خپل وخت پرې ضایع نه کړو، او د ښه کارونو په لور روان پاتې شو.

**زده کوونکی:** دا ښه خبره ده، چې هغو کسانو ته توجه ونه کړو چې موږ له کارونو او ښه فعالیتونو څخه لرې کوي، بلکې خپل ښه کارونه ته دوام ورکړو.

**ښوونکی:** هو، موږ باید خپل ښه کارونو ته دوام ورکړو، او پوه شو چې یو شمېر خلک شته چې نورو خلکو ته خیر نه غواړي، بلکې فساد او ناوړه اخلاق غواړي؛ نو موږ باید له هغوی سره ونه دریږو، بلکې د ښه اخلاقو په لور تېز شو، څنګه چې به رسول الله ﷺ په خپل دعوت کې نه ودرېده، او هغو کسانو ته به یې پام نه کاوه کومو به چې د هغه دعوت خرابول غوښتل.

**زده کوونکی:** آیا کوم چا زموږ د ګران پیغمبر ﷺ دعوت ته لبیک وواېه؟

**ښوونکی:** لکه څنګه چې تاسو پوهیږئ، پیغمبر ﷺ به له دعوته نه کیناسته، بلکې له یوې قبیلې څخه به بلې قبیلې ته تلو، له یو شخص څخه بل شخص ته ورتلو. په دې کې یوه ډله خلک چې د مدینې منورې څخه راغلي وه؛ ورغی، چې وروسته یې بیا نوم انصارو ته بدل شو؛ څکه چې دوی د رسول الله ﷺ مرسته وکړه.

سوید بن صامت انصاري مکې ته د حج لپاره راغلی و، هغه ته یې د اسلام دعوت ورکړ. سوید وویل: دا خو ډیرې ښې خبرې دي، کله چې سوید مدینې ته لاړ، هلته ووژل شو[١].

**زده کوونکی:** آیا هغه مسلمان و؟

**ښوونکی:** د هغه د قوم ځینې خلک وایي: موږ فکر کوو چې هغه مسلمان وژل شو[٢]. له دې وروسته د اوس قبیلې یو وفد مکې ته راغی، دوی د بنو اشهل قبیلې څخه وو. پیغمبر ﷺ

---

(١) ابن هشام، السیرة النبویة (٢/٦٧-٦٩).

(٢) المرجع السابق.

يې اړه خبر شو؛ نو هغوی ته ورغلی او د اسلام دعوت يې ورکړ، او هغوی ته يې قرآن واوروه[1].

**زده کوونکی:** آيا هغوی اسلام قبول کړ؟

**ښوونکی:** ويل شوي چې په مدينه کې د اوس او خزرج تر منځ جګړه وشوه، په هغې کې اياس بن معاذ ووژل شو، او د هغه قوم به هغه ته تهليل[2] ويلو، يعنې: لا اله الا الله به يې ويل، او اوريدل به يې چې تکبير، تحميد، او تسبيح به يې ويله تر څو چې هغه مړ شو. يعنې: الله اکبر، الحمد لله، او سبحان الله به يې ويل.

دا د دې دليل دی چې د پيغمبر ﷺ دعوت په مدينه کې لږ منوونکي پيدا کړي و. بيا د عقبې لومړنی او بيا دويم بيعت د مدينې د خلکو سره وشوه، چې وروسته به يې بيان کړو ان شاء الله.

## د لومړنی عقبې بيعت:

**ښوونکی:** په کوم کال کې چې پيغمبر ﷺ د مدينې خلکو سره وليدل، يعنې د بعثت په دولسم کال کې، دولس سړي د اوس او خزرج څخه راغلل. پيغمبر ﷺ د عقبه په ځای کې له هغوی سره وليدل. عقبه په غر کې سخت لار وه. له دې امله ورته د عقبې بيعت ويل کيږي. او هغوی ته يې اسلام وړاندې کړ. عباده بن الصامت رضي الله عنه دا ملاقات داسې بيانوي: "موږ د رسول الله ﷺ سره په مجلس کې وو. هغه وويل: آيا تاسو له ما سره بيعت کوئ چې د الله سره به هېڅ شی نه شريکوئ، زنا به نه کوئ، غلا به نه کوئ، او په ناحقه به څوک نه وژنئ، چا چې په دې بيعت وفا وکړه، اجر به الله ورکوي، او که چا ته څه تکليف ورسيږي، دا به د هغه کفاره وي، الله پرې پرده واچوي، نور کار يې د الله سره دی، که هغه وغواړي ببښنه به ورته وکړي، او که وغواړي سزا به ورکړي[3].

**زده کوونکی:** سبحان الله العظيم، ټولې خبرې چې رسول الله ﷺ وفد ته ووېلي دي، ښکلي او نيک عملونه وو. په دې کې هېڅ تکليف او مشقت نشته.

**ښوونکی:** تاسو ښه وويل، زما بچيانو! زموږ دين د اخلاقو او ادابو دين دی، تکليف او مشکلات پکې نشته، بلکې اساني پکې ده، هر کار يې ښکلی دی، خلکو ته اخلاق ورزده کوي،

---

(١) المرجع السابق.

(٢) مسلم (٣/١٣٣٣) د حديث شمېره ده (١٧٠٩).

(٣) ابن هشام، السيرة النبوية (٢/٧٦-٧٧).

محبت ورزده کوي، او د وژنو او غلا کولو څخه يې منع کوي، تر څو خلک په امن او آرامۍ کې ژوند وکړي.

**زده کوونکی:** آيا هغه وفد بيرته مدينې ته لاړ؟

**ښوونکی:** هو، هغوی مدينې ته ولاړل، او پيغمبر ﷺ له هغوی سره مصعب بن عمير رضي الله عنه ولېږه، هغه ته يې امر وکړ چې قرآن ورته ولولي او اسلام ورزده کړي. او د هغوی امام يې جوړ کړو.

**زده کوونکی:** دا خو ښکلې خبره ده، او د الله لخوا د مدينې په خلکو د الله فضل دی چې د مدينې خلکو د پيغمبر دعوت ومنلو.

**ښوونکی:** هو، زما بچيانو! دا د الله فضل دی، او وګورئ چې اساني ورځ په ورځ راځي، په مدينه کې د اسلام د صحابو په لاس خپريدل پيل شول، تر دې چې په انصارو هيڅ داسې کور پاتې نه شو چې په هغه کې د دريو څخه زيات او له لسو څخه کم مسلمانان موجود نه وي، د دې معنی دا ده چې د انصارو په کورونو کې هر يو کې د دريو څخه زيات او له لسو څخه کم مسلمانان موجود وو.

## د دويمې عقبې بيعت:

**ښوونکی:** د حج په راتلونکي موسم کې، چې د بعثت دیارلسم کال وو، د دويمې عقبې بيعت وشو. انصار مکې ته د روانيدو مخکې سره راټول شول او ويې ويل: تر څو پورې به موږ رسول الله ﷺ د مکې کې په غرونو کې په تکليف کې پرېږدو؟ له دوی څخه اويا سړي مکې ته لاړل، د حج په موسم کې پيغمبر ﷺ ته راغلل، او د عقبه په ځای کې يې وعده ورسره وکړه. هر يو به په تنهايي سره راځي، تر څو ټول د پيغمبر ﷺ سره يوځای شول.

**زده کوونکی:** ښوونکيه! تاسو وويل هر يو به په تنهايي سره راتلو، آيا ټول يو ځای رانه غلل؟

**ښوونکی:** ډېر مهمه پوښتنه ده، زما بچيانو! ستاسو د پيغمبر ﷺ سيرت ته ښه متوجه ياست، هر يو به په تنهايي سره راتلو، تر څو قريش له دې مجلس څخه خبر نه شي، که ټول په يو ځای راغلي وای، قريش به پرې پوهه شوي وای، مخنيوی به يې کړی وی. اوس يې په حکمت پوهه شوئ؟

**زده کوونکی:** دا ښه کار دی، نو د دې مطلب دا دی چې موږ باید په خپلو کارونو کې له حکمت څخه کار واخلو.

**ښوونکی:** هو، موږ باید موږ د حکمت خلک واوسو، مخکې له دې چې څه وکړو، په خپلو کارونو کې ښه فکر وکړو، چې په ژوند کې بریالي شو، تر څنګ به یې الله څخه مرسته هم غواړو، ځکه چې ټولو کارونو توفیق د الله په لاس کې دی.

**زده کوونکی:** په دې مجلس کې یې د پیغمبر ﷺ سره څه وکړل؟

**ښوونکی:** هغوی پیغمبر ﷺ ته وویل: موږ به په څه باندې له تا سره بیعت کوو؟

پیغمبر ﷺ وویل: "تاسو له ما سره په دې بیعت وکړئ چې په هر حالت کې به زما اطاعت کوئ، د سختۍ او اساني پر وخت به خرچه کوې، په نیکیو به امر کوئ، د منکر څخه به منع کوئ، د الله په لار کې به د هیڅ یو ملامتونکي پروا نه کوئ، زما مرسته به کوئ، زما به داسې ساتنه کوئ، څنګه چې د خپل ځان، ښځو او اولادونو ساتنه کوې، او ستاسو ځای او بدله به جنت وي[1]."

وفد پاڅېد او له رسول الله ﷺ سره یې په ټول هغه څه بیعت وکړه چې پیغمبر ﷺ وویل.

**زده کوونکی:** نو بیعت د پیغمبر ﷺ د مرستې منلو مطلب لري.

**ښوونکی:** هو، دې بیعت وښوده چې انصارو پیغمبر ﷺ او د هغه دین ته ښه راغلاست وویل، او د پیغمبر ملګري دي، پیغمبر به مدینې ته هجرت کوي، چیرې چې هغه ته ملاتړ او مرسته پیدا شوه، فکر وکړئ، چې دا توفیق ورته د الله لخوا څنګه له اوږدو مشکلاتو ګاللو چې دریارلس کاله وشول؛ وروسته راغی، همدا شان مسلمان باید د الله په اطاعت کې صبرناک وي لکه څنګه چې رسول الله ﷺ په دې اوږد صبر وکړو، چې په دې لوی بیعت پای ته ورسېد.

(١) أحمد، المسند (٣/٣٢٢-٣٢٤).

# درېم څپرکی

# مدينې ته هجرت

# دریم څپرکی: مدینې ته هجرت

## مدینې ته هجرت:

**ښوونکی:** هجرت یوازې د پیغمبر ﷺ هیله نه وه چې سامانونه وتړي او مدینې ته دې لاړ شي، بلکې دا یو پلان شوی فکري حرکت و، چې د مختلفو پېښو او حالاتو د واقع کیدو څخه بچ شول، بېشکه په دې مختلف حالتونه مخې ته راغلل چې مختلف درسونه ترې زده کړې او لویې ګټې ترې ترلاسه کولی شو، لکه څنګه چې له مقدماتو او مرحلو څخه ښکاري، چې موږ به یې د هجرت له مقدماتو پیل کړو.

**زده کوونکی:** آیا دا معنی لري چې موږ به د پیغمبر ﷺ په هجرت کې ډیری شیان وپیژنو؟

**ښوونکی:** هو، موږ به ډیری مهم شیان وپیژنو، ان شاء الله تعالی.

## د هجرت مقدمات:

**ښوونکی:** په مکه کې چې رسول الله ﷺ او صحابه کرام چې د کومو سختیو او ستونزو سره د قریشو قبیلې د کفارو له امله مخ شول، له هغې وروسته پیغمبر ﷺ یو خوب ولیده، او د انبیاوو خوبونه ریښتني وي؛ نو پیغمبر ﷺ صحابه کرامو ته وویل: " خوب مې ولید چې له مکې څخه داسې ځای ته هجرت کوم چې د خرما پکې ونې وي، نو زما په ګمان چې یمامه او یا هجر به وي؛ خو هغه دا مدینه، یثرب دی"[1].

**زده کوونکی:** ښوونکیه! د ځینو کلمو په معنی زه پوهه نشوم؟

**ښوونکی:** ښه! زه به تاسو ته دا روښانه کړم ان شاء الله.

مدینه له هغه وخت څخه تر اوسه د خرما په ونو مشهوره ده، همدارنګه یمامه هم، چې نجد ورته وایي، او همداشان هجر هم په خرما مشهور دی، چې اوس ورته الأحساء وایي، مدینې ته په هغه وخت کې یثرب ویل کیده.

د غه درې واړه ځایونو د خرما په ونو سره مشهور و؛ نو پیغمبر ﷺ ګومان وکړ چې دا به یمامه یا هجر وي؛ خو دا مدینه وه، څرنګه چې د عقبې لومړی او دویم بیعت د الله په توفیق سره د دې هجرت لپاره د پیل په توګه ترسره شوه.

---

(١) البخاری (٣/٦٦) باب هجرة النبی ﷺ وأصحابه رضي الله عنهم إلى المدنية.

**زده کوونکی:** آیا ټول مسلمانان یوځای له رسول الله ﷺ سره هجرت وکړ، که بېل بېل لاړل تر څو قریش پرې پوه نه شي، لکه څنګه چې انصارو د عقبه دویم بیعت په وخت کې وکړل؟

**ښوونکی:** تاسو ښه پوهه شوې زما بچیانو! دا ښايي چې تاسو د پیغمبر ﷺ د سیرت له کیسو ګټه اخیستې او ښه شیان مو زده کړي دي.

صحابه کرامو مدينې ته په فردي او ډله ییز ډول تلل، په هر وخت کې یو یا دوه یا ډیر کسان تلل. مصعب بن عمیر، ابن ام مکتوم تللی و، بیا عمار بن یاسر، سعد او بلال لاړل، بیا عمر بن الخطاب د شل صحابه کرامو سره لاړ[1]، همدارنګه څوک چې حبشې ته تللی و، هغوی هم مدينې ته هجرت وکړ.

**زده کوونکی:** ښوونکیه! آیا قریش پوهه شوه چې دغه مسلمانان مدينې ته ځي؟

**ښوونکی:** هو، قریش پوه شول، د هغوی د هجرت څخه منع کول، بلکې د مسلمانانو لپاره یې د هجرت کولو پر وړاندې خنډونه جوړول، لکه ام سلمه رضي الله عنها چې هغې ته یې د خپل میړه ابو سلمه سره د هجرت کولو څخه منع کړه؛ نو ابو سلمه بیا یوازې مدينې ته ولاړ، او خپله ښځه یې پرېښوده؛ ترڅو په مناسب وخت کې به راشي[2].

## د هجرت لپاره چمتووالی:

**زده کوونکی:** رسول الله ﷺ په ډول سره هجرت وکړ؟

**ښوونکی:** ابوبکر صدیق رضي الله عنه چې د رسول الله ﷺ ملګری و، د هجرت په اړه فکر کاوه او غوښتل یې چې مدينې ته هجرت وکړي؛ نو پیغمبر ﷺ ورته وویل چې انتظار وکړه، چې الله د هجرت اجازه وکړي.

**زده کوونکی:** یعنې رسول الله ﷺ تر هغې پورې هجرت ونه کړ تر څو چې الله ورته اجازه وکړه؟

**ښوونکی:** هو، کله چې الله د هجرت اجازه ورکړه، ځکه دا یو لوی او مهم کار و، الله د پیغمبر لپاره په مناسب وخت ښه پوهېږي.

---

(١) البخاری (٣/٧٥-٧٦) د حدیث شمیره ده (٣٩٢٤-٣٩٢٥).

(٢) ابن هشام، السيرة النبوية (٢/١١٢-١١٣).

ابوبکر صديق (رضي الله عنه) دوه سورلۍ تيارې کړې، يو د پيغمبر ﷺ لپاره او بل يې د خپل ځان لپاره. سورلۍ هغه حيوان ته وايي چې انسان پرې سفر کوي يا پرې بار باروي، لکه اوښ، خر، او آس.

يوه ورځ غرمه کې رسول الله ﷺ د ابوبکر صديق (رضي الله عنه) کور ته ورغی او ورته يې وويل: (ماته د وتلو (هجرت) اجازه وشوه). ابوبکر (رضي الله عنه) وويل: "زما مور او پلار دې له تا قربان شي، زه درسره ملګری يم، اې د الله پيغمبره. رسول الله ﷺ ورته وويل: "هو، ته به راسره يې"[1].

دا موږ ته راښايي چې د ځان لپاره ښه او وفادار ملګری غوره کړو، څنګه چې ابوبکر صديق رضي الله عنه وويل: "بأبی أنت وأمی يا رسول الله"، يعنې زما مور او پلار دې له تا قربان شي، ستا له امله هغوی د لاسه ورکولی شم. بايد زموږ مينه د خپل پيغمبر سره د خپل ځان او بچيانو څخه زياته وي.

**زده کوونکی:** دا ډېر ښکلی خبره ده، موږ هم د پيغمبر ﷺ سره، د خپل ځان او بچيانو څخه زياته مينه لرو.

**ښوونکی:** کله چې دواړو د هجرت کولو هوډ وکړ، ابوبکر (رضي الله عنه) دوه سورلۍ تيارې کړې، خپل ټول مال، چې پنځه زره يا شپږ زره درهمه به و[2]، د ځان سره راواخيستل چې يې د رسول الله ﷺ په خدمت کې يې خرچ کړي.

دا حالت موږ ته دا درس راکوي چې د سفر لپاره چمتووالی او لازمي توکي اخيستل څومره مهم دي. د ابوبکر صديق کورنۍ يوه خوراکي بوجۍ جوړه کړه، اسماء بنت ابي بکر د خپل کمربند يوه ټوټه پرې کړه او د بوجۍ خوله يې وتړله، نو هغه بيا له دې امله په "ذات النطاق" ياديده،نطاق د ټوټې هغه برخه ده چې ښځې پرې سر تړي.

د ابوبکر صديق رضي الله عنه کورنۍ د رسول الله ﷺ د سفر لپاره ټول څه يې چې درلودل خدمت ته وړاندې کړل. موږ هم بايد د ابوبکر صديق رضي الله عنه د کورنۍ څخه زده کړه وکړو او د دين په خدمت کې څه چې کولی شو وړاندې کړو، او هيڅ شی ونه سپموو.

**زده کوونکی:** دا د سفر لپاره چمتووالی و، خو شايد قريش به د رسول الله ﷺ ددې کار څخه خبر شوي نه وي؟

---

(١) البخاری (٣/٣٩٦٨) د حديث شميره ده (٣٩٠٥)

(٢) الحاکم، المستدرک (٣/٥)

**ښوونکی:** رسول الله ﷺ دا راز پټ ساتلی و، یوازې ابوبکر او د هغه کورنۍ پرې پوهیدل، چې ددې کار پټ ساتل څومره مهم دي، قریشو چې مدینې ته د ډېرو مسلمانانو هجرت کولو، ولیدل، هغوی وېرېدل چې صحابه به مدینه کې سره یوځای شي، بیا بیرته مکې ته ځواکمن راستانه شي.

کله چې د قریشو مشرکانو دا خبره محسوسه کړه، مشوره یې وکړه، ځینې مختلفې پریکړې یې وکړې، ځینو وویل: کله چې سهار شي، نو په رسو به یې وتړو، ځینو ویل: هغوی به ووژنو، ځینو ویل: د مکې څخه یې وباسئ. الله خپل پیغمبر د قریشو د پلان په اړه خبر کړ؛ نو پیغمبر ﷺ پوه شو چې دوی ورسره څه کول غواړي.

**زده کوونکی:** ښوونکیه! دا ډېره وېروونکې خبره ده چې هغوی غواړي رسول الله ﷺ ته زیان ورسوي، کله چې پیغمبر ﷺ د قریشو له دې پلان څخه خبر شو؛نو څه یې وکړل؟

**ښوونکی:** پیغمبر ﷺ چې له دې پلان څخه خبر شو، د هجرت تیاری یې نیوه، نو له علي بن ابي طالب رضي الله عنه سره یې موافقه وکړه چې د پیغمبر ﷺ په بستر کې به ویده شي.

**زده کوونکی:** علي رضي الله عنه ولې د پیغمبر ﷺ په بستر کې ویده شو؟

**ښوونکی:** ځکه چې پیغمبر ﷺ له ابوبکر صدیق رضي الله عنه سره غار ثور ته لاړ. علي رضي الله عنه د پیغمبر ﷺ په ځای ویده شو، ترڅو قریش فکر وکړي چې پیغمبر ﷺ په خپل کور کې ویده دی، او د هغې لټون ونه کړي، ترڅو غار ته په امن ورسیږي.

**زده کوونکی:** دا ډېره قوي فکر دي، ښوونکیه!

**ښوونکی:** هو، دا یو پیاوړی او هوښیاره پلان و، چې د مشکلاتو د حل لپاره وکارول شي، همدارنګه بل د علي رضي الله عنه د پیغمبر ﷺ سره محبت راښایي، چې د هغه په ځای کې ویده شو، حال دا چې د قریشو له خوا په خطر کې و.

**زده کوونکی:** الله د علي بن ابي طالب څخه خوښ او راضي شي، ډېر زړور او د پیغمبر ﷺ سره مینه لرونکی و.

**ښوونکی:** هو، علي رضي الله عنه تل زړور، قوي او د پیغمبر ﷺ سره مینه لرونکی و. هغه د پیغمبر ﷺ د تره زوی و.

**زده کوونکی:** بیا څه وشول ښوونکیه؟

**ښوونکی:** د قریشو مشرکانو ټوله شپه د علي رضي الله عنه څارنه کوله، فکر یې کاوه چې هغه پیغمبر ﷺ دی؛ کله چې سهار شو، دوی پرې رایوځای شول، ګوري چې علي رضي الله عنه دي، پوښتنه یې ترې وکړه: ملګری (پیغمبر ﷺ) چېرته دی؟ هغه ورته وویل: زه نه پوهېږم؛ نو په دې طریقه الله د هغوی دسیسه ناکامه وګرځوله.

دا موږ ته د اسبابو استعمال او د لازم تدابیرو نیولو اهمیت څرګندونه کوي، لکه څنګه چې پیغمبر ﷺ د په الله توکل سره بیا هم تدابیر ونیول، باید موږ هم په خپلو ټولو چارو کې تدابیر ونیسو، او د توکل سره سره کوښښ هم وکړو.

**زده کوونکی:** ښوونکیه! دا یو لویه فائده ده. له دې وروسته بیا قریشو څه وکړل؟

**ښوونکی:** له دې وروسته قریشو د پیغمبر ﷺ لټون پیل کړ، د هغوی د قدمونو تعقیب یې پیل کړ، په پخوا زمانو کې به عربو د قدمونو تعقیب باندې ډېر اهتمام کولو، یو بل ته به یې ددې زده کړه ورکوله، چې څنګه د قدمونو څار وکړي.

قریشو د قدمونو په تعقیبولو کې غار ثور ته ورسېدل، خو هلته یې د پیغمبر ﷺ قدمونه ونه موندل. کله چې د غار مخې ته ورسېدل، د غار په دروازه کې یې د غنې جال ولید؛ نو ویې ویل: که چېرې دلته داخل شوی وای، نو د غنې جال به دلته نه و. پیغمبر ﷺ درې شپې هلته پاتې شو[1].

**زده کوونکی:** ښوونکیه! دلته ډېرې پوښتنې دي، لومړۍ پوښتنه دا ده چې ولې یوازې درې شپې پاتې شو؟

**ښوونکی:** درې شپې پاتې شو، ترڅو قریش د پیغمبر ﷺ لټون وکړي، او پیدا یې نه کړي؛ نو د پیغمبر د موندلو څخه به نا امیده شي، د مکې شاوخوا کې لټون به بس کړي، ترڅو پیغمبر په اسانۍ سره مدینې ته لاړ شي.

**زده کوونکی:** دا یوه غوره فکره وه، بله پوښتنه د غار ثور په اړه ده، دا د غار حراء څخه جلا بل غار دی؟

**ښوونکی:** هو، غار ثور مکې ته نږدې د مکې په ختیځ کې واقع دی، او جبل ثور د مکې په جنوب کې د مدینې په خلاف لورې کې پروت دی، ځکه مدینه د مکې شمال لورې ته تقریبا واقع ده.

(١) أحمد، المسند (٣٤٨/١).

**زده کوونکی:** دا يوه بله غوره فکر ده، خو ايا پيغمبر ﷺ د هغوی په غړونو او د هغوی په قدمونه چې له غار څخه تېريدل، پوهه شو؟

**ښوونکی:** هو، غړونه يې اوريدل، او قدمونه يې ورته ليدل، په راتلونکي درس کې ښه روښانه شي ان شاء الله.

## د غار ثور حالت:

**ښوونکی:** ابو بکر صديق رضي الله عنه وايي: زه د پيغمبر ﷺ سره په غار کې وم، سر مې پورته کړ او د خلکو قدمونه مې وليدل، نو ما وويل: اې د الله پيغمبره! که يو چا ورکې خپل نظر ښکته کړ؛ نو موږ به ويني. رسول الله ﷺ وويل: خاموش اوسه، اې ابو بکر! موږ دوه يو، او دريم راسره الله دی[1]. دا يو سخت حالت و، خو د الله مرسته له هغوی سره وه. د الله مرسته وه چې غني ته يې په دومره جلتۍ سره د کور جوړولو توان ورکړ، او قريشو کافرانو ته يې اجازه ورنه کړه چې لاندې خپلو پښو ته وګوري چې پيغمبر ﷺ او د هغه ملګری ويني. الله هغوی په دغه ځای کې پټ کړل، خو د رسول الله ﷺ د الله په مرستې کلک باور، ابوبکر صديق رضي الله عنه ته اطمينان ورکړ. الله په قرآن کريم کې دا حالت داسې بيانوي: ﴿إِلَّا تَنصُرُوهُ فَقَدْ نَصَرَهُ ٱللَّهُ إِذْ أَخْرَجَهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ثَانِىَ ٱثْنَيْنِ إِذْ هُمَا فِى ٱلْغَارِ إِذْ يَقُولُ لِصَٰحِبِهِۦ لَا تَحْزَنْ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَنَا﴾ [التوبة: ٤٠].

**ژباړه:** که تاسو د دغه (رسول) مرسته ونه وکړئ، نو يقينًا الله د هغه مدد کړی دی کله چې دی کافران شويو خلقو يه داسې حال کی ووېست چی دويم د دوو و.، کله چې هغوی دواړه په غار کې وو، کله چې هغه خپل ملګري ته ويل: غم مه کوه، بېشکه الله زمونږ سره دی.

**زده کوونکی:** الحمد لله په دې نعمت چې د خپل پيغمبر ﷺ او د هغه ملګری ساتنه يې وکړه، سکينه يې پرې نازله کړه. دا يو لوی موقف و، ليکن دوی په غار کې درې ورځې څنګه تېرې کړې؟ ايا دوی سره د درې ورځو لپاره کافي خوراک او اوبه وې؟

**ښوونکی:** ښې پوښتنې دې زما بچيانو! پيغمبر ﷺ مخکې د غار د تلو نه د دې لپاره يو پلان درلود. د عبدالله بن ابي بکر صديق رضي الله عنهما سره يې موافقه وکړه چې په تياره کې به ورځي او شپه به ورسره تيروي، او د شپې په وروستۍ برخه کې به مکې ته

---

(١) البخاری (٧٥/٣) د حديث شميره ده (٤٩٢٢).

ځي، ترڅو سهار له خلکو سره وي، چې د قريشو د خبرو او پلانونه څخه باخبره وي، نوموړی په دغه وخت کې يو ځوان هلک و، خو هوښيار او پوهه و. هغه به په شپه کې راتلو، پيغمبر ﷺ ته به يې د قريشو په اړه معلومات ورکول[١].

همدارنګه عامر بن فهيره رضي الله عنه، د ابوبکر صديق مولی، به ماسخوتن کې دوی خوا ته د ګډو بيزو رمه راوسته؛ نو دوی به شيدې وڅښلې، بيا به د شپې په وروستۍ برخه کې مکې ته تلل، ترڅو د عبدالله بن ابي بکر د قدمونو نښې پاکې کړي، چې قريش ونه پوهيږي چې هغه غار ته ځي، له دې لارې د پيغمبر ﷺ ځای پيدا نه کړي.

**زده کوونکی:** دا يو قوي او حيرانونکی پلان دی.

**ښوونکی:** هو، دا يوه پياوړې او عالي پلان و، چې له دې لارې به يې خبرونه او خواړه ترلاسه کول او د غار څخه د دوی د شتون هره نښه پاکول.

له همدې امله موږ هم چې کله وغواړو خپلې موخې او هيلې ته ورسيږو، نو بايد پلان ولرو او د الله څخه مرسته وغواړو، همدارنګه موږ بايد د خپلو درسونو، بريا او پرمختګ لپاره هم پلان ولرو تر څو په غوره امت حساب شو چې خلکو ته د نيکۍ امر او له بدۍ څخه منع کوي.

**زده کوونکی:** د دريو شپو وروسته چې پيغمبر ﷺ او د هغه ملګری ابوبکر صديق په غار کې پاتې شول، بيا يې څه وکړل؟

## د غار څخه د ساحلي لارې پر خوا تلل:

**ښوونکی:** درې شپې وروسته، دوی د غار څخه ووتل. پيغمبر ﷺ او د هغه ملګری ابوبکر صديق مخکې له دې چې غار ته ولاړ شي، يو ماهر سړی کرايه کړی و چې هغوی ته د مدينې ته لار وښيي. دا سړی د قريشو په دين و. دوی هغه ته مخکې له دې چې غار ته ولاړ شي خپل دوه اوښان ورکړي و او له هغه سره يې د دريو شپو وروسته، د سهار په ورځ غار ثور کې د ليدلو وعده کړې وه[٢]. د هغه نوم عبدالله بن اُريقط و، هغود يې د ساحلي لارې پر خوا روان کړل، چې له دوی سره عامر بن فهيره هم و.

---

(١) البخاری (٣/٦٨-٦٩) د حديث شميره ده (٣٩٠٥) دلته د حديث لنډيز راخيستل شوی.

(٢) البخاری (٣/٦٨-٦٩) د حديث شميره ده (٣٩٠٥)

**زده کوونکی:** د ساحلي لارې څه معنی ده؟

**ښوونکی:** لومړی: ساحل د سمندر مانا لري، او د ساحلي لارې معنی دا ده چې د سمندر تر څنګ لار.

دويم: ما مخکې تاسو ته ويلي و چې غار ثور د مکې جنوب کې دی، او مدينه د هغې بل لورې کې ده، يعنې د مکې شمال لورې کې ده. دا پوره حکمت دی، تر څو قريش فکر ونه کړي چې پيغمبر ﷺ په هغه لوري او ځای کې دی. دا نزدې وه چې پيغمبر ﷺ دې د مکې د شمال په لورې تللې وي، او هلته يې ځان پټ کړی وي، دا عالي او ستر پلان دی چې د دښمن د فکر خلاف پلان وکړي. بيا هغوی د سره سمندر پر خوا ولاړل، چې د مشرکانو په اټکل کې هم نه و، بيا له هغې وروسته مدينې ته روان شول.

**زده کوونکی:** دا ډېر مهم او ژور فکر دی، او د الله له اړخه مرسته هم ده.

**ښوونکی:** ډېر ښه زما بچيانو! دا د الله مرسته ده چې د سليم او صحيح فکر سره وي، او موږ هم بايد په خپلو چارو کې ژور او صحيح فکر وکړو تر څو پښيمانه نه شو، او له هرې خطا څخه د الله په مرسته ځان وساتو. يو مهم شی چې بايد پوه شو: الله کولای شي چې پيغمبر ﷺ له دې ستونزو پرته په لنډ وخت کې مدينې ته ورسوي، لکه څنګه يې چې بيت المقدس ته بوتلو؛ خو د پيغمبر ﷺ پيغام او تګلاره زموږ لپاره په ټولو کارونو کې د لارښود مثال لري، پيغمبر ﷺ ته هر هغه څه ورپېښ شول چې انسان ته پېښيدای شي، له ستړيا او سختی نيولې تر دښمنانو د کينې پورې، د دې لپاره موږ په ټولو حالاتو کې د هغه پيروي وکړو.

**زده کوونکی:** سمه ده، زموږ درانه ښوونکيه! که هغه مدينې ته يو د شپې پوړل شوی وای، موږ به د هغه له ژوند څخه دا ګټې او درسونه نه وی ترلاسه کړی، الله دې زموږ لپاره حجت او لار وګرځوله.

## پيغمبر د يوې ډبرې سيورې ته:

**ښوونکی:** مبارک سفر د يو شپې او ورځې تيريدو وروسته چې کله غرمه شوه، لاره خالي شوه، يوه لويه ډبره يې وليده چې سيوری يې درلود، هغې ته کيناستل.

ابوبکر صديق په خپلو لاسونو ځای برابر کړ چې پيغمبر ﷺ د دغې ډبرې سيوري ته ويده شي؛ نو د بيزې د څرمنې يوه ټوټه چې ويښته ورباندې ولاړ و، اواره کړه، ابوبکر

صديق رضي الله عنه پیغمبر ﷺ ته وويل: اې د الله رسوله! ته ويده شه، زه به شاوخوا څارنه کوم. پیغمبر ﷺ ويده شو او ابوبکر صديق رضي الله عنه بهر ووت چې څارنه وکړي. نفض: يو څيز لکه فرش او کمبلې خوځولو ته وايي، او د يوځای څارنې او د ضررې شيانو ليرې کولو ته وايي، د ابوبکر صديق رضي الله عنه موخه ده وه چې شاوخوا که کوم ضرري شيان وي، زه يې لټنه کوو او ليرې کوم يې اې د الله رسوله.

نو د ابوبکر صديق مينه وګورئ چې څومره يې د پیغمبر ﷺ خيال ساته، ځای يې ورته پاک کړ، پوښ يې ورته اوار کړ، او ځای يې ورته څارلو.

**زده کوونکی:** ښوونکيه! زه له دې وپوهيدم چې ابوبکر صديق رضي الله عنه د پیغمبر ﷺ وفادار ملګرى و، چې د پیغمبر سره يې مينه درلوده، او احترام يې ورله کولو.

**ښوونکی:** هو، ابوبکر صديق رضي الله عنه د پیغمبر سره مينه کوونکي، او وفادار ملګرى و، موږ هم بايد همداسې شو چې د پیغمبر ﷺ په پيروي سره جنت ته ولاړ شو، ان شاء الله، د هغه د سنت سره مينه ولرو، او داسې خيال يې وساتو څرنګه چې ابوبکر صديث رضي الله عنه ساتلو.

**زده کوونکی:** له دې وروسته بيا څه وشول؟

**ښوونکی:** ابوبکر صديق د ډبرې شاوخوا څارل، يو شپون يې وليد چې خپلې وزې يې د دې ډبرې سيورې ته راوستلې. ابوبکر صديق ورته وويل: ايا په وزو کې شيدې شته؟ هغه وويل: هو. ابوبکر صديق ورته وويل: ايا زموږ لپاره شيدې لوشلى شې؟ هغه وويل: هو. ابوبکر صديق ورته وويل: د وزې تيونه له ويښتو او دوړو پاک کړه. شپون ورته په لرګين پياله کې شيدې ولوشلې. ابوبکر صديق رضي الله عنه وايي: ما پیغمبر ﷺ ته شيدې راوړې، هغه ويده و، دا مې نه خوښيده چې هغه له خوبه راويښ کړم. کله چې پیغمبر ﷺ له خوبه راويښ شو، شيدې يې وڅښلې. بيا يې وويل: د سفر وخت نه دی؟ ابوبکر صديق رضي الله عنه وويل: هو؛ نو بيا له هغه ځايه مدينې ته په خپل سفر روان شول[1].

**زده کوونکی:** دا ډېر ښکلي موقف دی.

**ښوونکی:** هو، دا د الله مرسته ده چې شپون خپله رمه دلته راوسته، بيا پیغمبر ﷺ په مناسب وخت کې راويښ شو، حال دا چې شيدې لوشل شوې وې، او ابوبکر صديق رضي الله عنه پیغمبر ﷺ ته راوړې وې.

---

(١) مسلم (٢٣٠٩/٤-٢٣١٠) د حديث شميره ده (٢٠٠٩)، دلته د حديث لنډيز راخيستل شوی.

تاسې وګورئ چې ابوبکر صدیق د پیغمبر ﷺ څومره خیال ساتې، څومره حریص دی چې پیغمبر ته پاکې شیدې راوړي. شپون ته وايي: د وزې تیونه له ویښتو او دوړو پاک کړه، چې پیغمبر پاک شیدې وڅښې، او د څښلو پر وخت د څه شي څخه پریشانه نه شي.

دا موږ ته د پاکوالي اهمیت او حرص ښايي، کله چې څوک یو څه وغواړي باید د هغې پاکوالي ته پاملرنه وکړو، ځکه نظافت د ایمان برخه ده، لکه څنګه چې زموږ پیغمبر محمد ﷺ وویلي، زموږ دین د پاکوالي دین دی، او موږ ته هم په پاکۍ امر کوي.

**زده کوونکی:** زه د ابوبکر صدیق رضي الله عنه سره د زړه نه مینه لرم، ځکه هغه زموږ د پیغمبر څومره خیال ساتي، او څومره مېنه ورسره کوي.

**ښوونکی:** ډېر ښه زما بچیانو، چې داسې ښکلي احساسات لرئ، موږ باید د ابوبکر صدیق رضي الله عنه سره مینه وکړو، ځکه هغه د مینې وړ دی، او پیغمبر به په خلکو کې د ده سره یې ډېر مینه درلوده.

**زده کوونکی:** ښوونکیه! په دې مبارک سفر چې بیا روان شول، څه وشول او څه یې وکړل؟

## سراقه بن مالک د پیغمبر ﷺ په لټون کې:

**ښوونکی:** په لاره کې یوه حیرانوونکې پېښه وشوه: د قریشو له کفارو څخه یو کس چې سراقه بن مالک نوم و، د دوی مخې ته راغی. ابوبکر صدیق رضي الله عنه وویل: موږ ته راورسید. رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: مه خپه کېږه، الله زموږ سره دی. رسول الله ﷺ دعا وکړه؛ نو د سراقه آس د خپلو پښو سره تر خېټې پورې په ځمکه کې ډوب شو[۱].

یعني د آس ټولې پښې په ځمکه کې ننوتلې چې خېټه او شا یې پورته پاتې شول. قریشو ځینې کسان لیږلي وو چې د پیغمبر ﷺ لټون وکړي. دلته وګورئ چې پیغمبر ﷺ څرنګه په الله باندې په توکل سره څنګه ددې حالت سره مخ شو، بیا د پیغمبر ﷺ د دعا اغیز ته وګورئ، څومره په سرعت او جلتۍ یې الله دعا قبوله کړه، ځمکه یې داسې نرمه کړه چې د اس پښې په کې ننوتلې.

**زده کوونکی:** په الله قسم چې د دعا قبلیدل څومره لویه خبره ده!

(۱) مسلم (۲۳۰۹/۴-۲۳۱۰) د حدیث شمیره ده (۲۰۰۹)،

**ښوونکی:** انسان چې کله د الله پاک اطاعت کوونکی وي، نو الله يې دعا قبلوي، خو الله د بندګانو د دعا په قبولولو کې حکمت وي، ممکن د چا دعا ژر قبوله کړي، د بل چا بيا وځنډوي، کله يې په بدل کې له بنده څخه شر دفع کوي، يا ورته داسې خير راوړي چې هغه بنده ته تر هغه څه غوره او ښه وي چې غوښتنه يې کړې، ځکه الله له موږ څخه زيات چې زموږ لپاره څه ښه او غوره دي، پوهيږي. الله تعالی فرمايلي دي: ﴿أَمَّن يُجِيبُ ٱلْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ ٱلسُّوٓءَ وَيَجْعَلُكُمْ خُلَفَآءَ ٱلْأَرْضِ ۗ أَءِلَٰهٌ مَّعَ ٱللَّهِ ۚ قَلِيلًا مَّا تَذَكَّرُونَ﴾ [النمل: ٦٢].

**ژباړه:** بلكی هغه ذات (غوره دی) چی د مجبور (او عاجز) سوال قبلوی، كله چی دغه (الله) وبلی او هغه تكليف (او سختی) لری کوي او تاسو د ځمكي خليفه ګان جوړوي، ايا له الله سره بل معبود شته ؟ تاسو ډېر لږ شانته نصيحت قبلوئ.

**زده کوونکی:** ښوونکيه! له دې څخه موږ ډېرې لويې او زياتې ګټې ترلاسه کړې. ښووکنيه! سراقه بيا څه وکړل؟ ضرور به هغه چې څه ورسره وشول، ويريدلی وي.

**ښوونکی:** هو، سراقه بن مالک وويريد، او ويې ويل: زه پوهيږم چې تاسو ما ته ښيرې وکړې، نو ما ته دعا وکړئ چې زما آس له دې حالته خلاص شي، که زه مو له دې حالته خلاص کړم؛ نو هغه خلک چې ستاسې لټون کوي، هغه به د لټون څخه منع کړم.

دلته بايد موږ دې معجزې ته فکر وکړو چې الله د پيغمبر ﷺ د ساتنې لپاره راښکاره کړه، ځمکه يې نرمه کړه چې د سراقه بن مالک اس پښې په کې ننوزي، کله هم چې الله څه وغواړي، هر څيز د الله فوځ دی، د الله پرځای کوي.

**زده کوونکی:** ايا سراقه وفادار و، په ريښتيا يې خلک د پيغمبر ﷺ د لټون څخه منع کړل؟

**ښوونکی:** هو، هغه وفادار و، څنګه به وفادار نه و، د الله له لورې د داسې حيرانوونکې پېښې سره مخ شو، نو هر څوک به يې چې ليدل، هغوی به يې د لټون څخه منع کول، او خلکو ته به يې ويل: دلته څوک نشته. يعني هغوی ته يې ويل چې دلته په دې لاره کې څوک نشته.

**زده کوونکی:** بيا څه وشول ښوونکيه! دا له پيښو ډک سفر وو.

**ښوونکی:** هو، دا سفر په درسونو، عبرتونو او ګټو ډک و، موږ بايد په دې ښه فکر وکړو.

## د ام معبد خیمه:

**ښوونکی:** مدينې ته په لاره رسول الله ﷺ او د هغه ملګری ابوبکر صديق د ام معبد خزاعيې خيمې ته ورسيدل، دوی غوښتل چې له هغوی غوښه او خرما په پيسو واخلي؛ خو هيڅ ورسره نه وو. رسول الله ﷺ يوې وزې ته وکتل، او هغې ته يې وويل: (ام معبد! دا وزه څنګه ولاړه ده؟) هغې وويل: دا وزه د کمزورۍ له امله له رمې پاتې شوې، يعني سترتيا له امله د نورو وزو سره نشي تلی. رسول الله ﷺ وفرمايل: (آيا په دې کې شيدې شته؟) هغې وويل: شيدې ورکې نشته، ډيرې کمزورۍ له امله شيدې نه لري. رسول الله ﷺ وفرمايل: (آيا اجازه راکوي چې دا ولوشم؟) هغې وويل: زما مور او پلار دې له تا قربان شي، که شيدې په کې وي، ويې لوشه. بيا رسول الله ﷺ دعا وکړه، د وزې په تيونو يې لاس راتېر کړ، او بسم الله يې وويله، او د وزې لپاره يې هم دعا وکړه؛ نو وزې شيدې پيل کړې، يعني شيدې يې په تيو کې راتوی شول. بيا يې يو لوښی وغوښت، په خپل مبارک لاس يې شيدې ولوشلې، په ام معبد يې شيدې وڅکول، تر دې چې هغه مړه شوه، بيا يې ملګری ته ورکړې، هغې هم وڅښل تر دې چې موړ شو، او په اخير کې رسول الله ﷺ وڅښل.

**زده کوونکی:** قسم په الله ښوونکيه! دا خو يوه لويه او حيرانوونکې پېښه وه.

**ښوونکی:** هو، دا يوه لويه معجزه وه، چيرې چې يوه ضعيفه وزه چې شيدې په کې نه وې، پيغمبر ﷺ د هغې وزې په تيونو لاس تېر کړ، بسم يې وويله، د ام معبد وزې ته يې هم دعا وکړه، څومره ژر د وزې کمزورې تيونه د شيدو ډک شو. دا يوه معجزه ده چې الله خپل پيغمبر ته راښکاره کړه.

بيا وګورئ د پيغمبر ﷺ ادب او ښه اخلاق، چې د دې کار اجازه يې واخيسته، ويې فرمايل: (آيا اجازه راکوي چې دا ولوشم؟) له اجازې پرته يې هغې ته لاس اوږد نه کړ.

**زده کوونکی:** قسم په الله چې دا د الله له لورې لوی کرم او لويه معجزه وه، موږ ته يې لوی ادب رازده کړه چې هيڅ چا شي ته له اجازې پرته لاس اوږد نه کړو، حتی که هرڅومره کوچنی شی وي.

**ښوونکی:** بيا وګورئ د پيغمبر ﷺ کرم ته چې کله يې شيدې ولوشلې؛ نو د څښلو پيل يې د وزې د مالکې چې ښځه وکړ، بيا يې خپل ملګري ته ورکړې، او اخير کې يې خپله وڅښلې.

**زده کوونکی:** بېشکه، موږ ته دا رازده کوي، چې څنګه د نورو ادب وکړو، او خلکو د حقوقو د اولويت له نګاه ترتيب کړو.

**ښوونکی:** د پیغمبر ﷺ کرم ته وګوره چې کله یې شیدې وڅښلې، بیا یې وزه ولوشله چې لوښې ډک شو، هغه یې ام معبد ته ورکړ، د رختصیدو مخکې یې د پیغمبر سره په اسلام بیعت وکړ رضي الله عنها[1].

**زده کوونکی:** دا معنا چې ام معبد بیا مسلمانه شوه؟

**ښوونکی:** هو، ام معبد چې کله د پیغمبر ﷺ دغه معجزه، اداب، ښه اخلاق او ښه چلند پخپلو سترګو ولید؛ نو مسلمانه شوه.

**زده کوونکی:** سمه ده، زموږ د پیغمبر اخلاق ښایي چې هغه لوی کریم پیغمبر و.

**ښوونکی:** کله چې پیغمبر ﷺ له دغه ځایه لاړ، د ام معبد خاوند ابو معبد راغی، شیدې یې ولیدلې؛ نو خوشاله شو، د ام معبد ښځه یې د شیدو، او د وزې پوښتنه وکړه. هغې د ټول حالته خبر کړ. ابو معبد وویل: په الله مې د قسم وي دا د قریشو کس دی. بیا وویل: هرومرو به یې ملګرتیا کوم چې که لاره مې وموندله. د ابو معبد د خبرې معنی دا وه چې دا د قریشو کس دی، یعني هغه کس چې قریش یې لټوي، او د دې معنی دا ده چې خبر تر دې ځایه پورې رسېدلی. مګر الله د خپل پیغمبر ﷺ ساتونکی دی.

**زده کوونکی:** زموږ ګرانه ښوونکیه! زه او دا نور زده کوونکي د پیغمبر ﷺ د هجرت پېښو د اوریدو شوق، او د هغې ځخه د خبریدو لپاره ډیر لیواله یو.

**ښوونکی:** هو، دا هجرت له پیښو، ستونزو او درسونو ډک سفر و؟

## هغه شپون چې مسلمان شو:

**ښوونکی:** پیغمبر ﷺ په لاره یو شپون ولید چې وزې ورسره وې، پیغمبر ﷺ ترې شیدې وغوښتې. شپون معذرت وکړ، ځکه چې د شیدو لرونکې وزه ورسره نه وه، یوازې یوه وزه وه چې شیدې یې ودریدلې وې. پیغمبر ﷺ ورته وفرمایل: (دلته یې راوله)، پیغمبر ﷺ د هغې په تیونو لاس راتېر کړ، بیا یې دعا وکړه، تر دې چې شیدې راتوی شوې، بیا یې وڅښلې. شپون وویل: "په الله قسم، ته څوک یې؟ په الله قسم، ما ستا په څېر سړی هیڅکله نه دی لیدلی." پیغمبر ﷺ وفرمایل: (که زه تا خبر کړم، آیا ته به یې پټ وساتې؟) هغه وویل: "هو." پیغمبر ﷺ وویل: (زه محمد، د الله رسول یم.) شپون وویل: "آیا ته هغه

---

(١) الحاكم، المستدرک (٣/٩-١٠)

څوک يې چې قريش يې د صابئ په نوم يادوي؟" يعني هغه څوک چې د خپلو نيکونو دين پرې ايښی. شپون وويل: "زه شاهدي ورکوم چې ته پيغمبر يې، او شاهدي ورکوم چې څه دې راوړې حق دي، څه چې تا وکړل دا يوازې پيغمبر کولی(۱)".

**زده کوونکی:** ډېر ښه، شپون داسې اسلام ومنلو څنګه چې ام معبد رضی الله تعالی عنها مسلمانه شوه.

**ښوونکی:** هو، ډېر ښه، دا مبارک پيغمبر و؛ کوم ځای به يې چې قدم کېښود، هلته به برکتونه او خيرونه نازليدل، لومړی خير يې د دوی په اسلام کې داخليدل و، کومه چې د جنت لاره ده، او د دوزخ څخه د نجات لار ده، بيا د پيغمبر ﷺ په دعا سره د هغوی وزو کې الله برکت واچولو.

**زده کوونکی:** زه چې اورم، پيغمبر ﷺ يوازې په تيونو لاس نه راتيروي، بلکې د هغې سره د الله څخه دعا هم کوي، دا موږ ته موږ د اړتياو د پوره کيدو لپاره د دعا کولو اهميت راښايي.

**ښوونکی:** دا خو ډېره ښه خبره ده چې زده کوونکې د پيغمبر ﷺ سره مينه لري، او د هغه سيرت په ډېر دقت تعقيبوي. الله مو ساتنه او حفاظت وکړه.

## په لاره کې کالي ترلاسه کول:

**زده کوونکی:** بيا څه وشول ښوونکيه؟

**ښوونکی:** پيغمبر ﷺ په لاره کې د زبير رضی الله عنه سره مخ شو، چې د شام څخه د تجارتي مالونو سره را روان و .

زبير رضی الله عنه رسول الله ﷺ او ابو بکر رضی الله عنه ته سپين کالي ورکړل(۲). دا هم د الله توفيق و چې پيغمبر ﷺ په نويو سپينو جامو کې مدينې ته ننوځي.

**زده کوونکی:** شايد دغه کې به پيغمبر ﷺ او ملګری يې رضی الله عنه به مدينې ته نږدې شوي و؟

---

(۱) الحاكم، المستدرک (۳/۸-۹).

(۲) البخاری (۳/۷۰-۷۱) د حديث شميره ده (۳۶۰۶).

**ښوونکی:** هو، او د مدینې خلکو د پیغمبر ﷺ راتګ ته لوی او ستر تیاری نیولی وې.

## مدینې ته د ننوتلو پر وخت له هرکلي ډک مراسم:

**ښوونکی:** د مدینې خلکو ته خبر رسیدلی و، چې پیغمبر ﷺ له مکې څخه د مدینې په لور راوتلی دی، هغوی ډېر خوشحاله شول، هره ورځ به له خپلو کورونو څخه حرې (کارجنې ځمکې) ته وتل، او د پیغمبر د راتلو انتظار به یې کولو، تر دې پورې چې غرمه به شوه؛ نو بیرته به خپلو کورونو ته لاړل. یوه ورځ دې خپلو کورونو لاړل، په همدغه وخت کې پیغمبر ﷺ مدینې ته راداخل شو، چې یو یهودي ولید، یهودي په لوړ غږ یې وویل: "اې عربو! دا ستاسو ملګری دی چې تاسو یې انتظار کولو"[١].

له دې معلومیږي چې د مدینې خلکو د پیغمبر د لیدو شوق لرو، او د هغې سره یې مینه وه، پیغمبر ﷺ د هغه قوم نه چې سره دښمني وسره کوله اذیت یې ورکولو، هغه قوم ته راغې چې ملاتړ یې کوي، او محبت ورسره لري، چې په دې سره مدینه د خیر او ایمان ښار شو.

**زده کوونکی:** د یهودي سړی وینا: "دا ستاسو جد دی چې انتظار مو کولو" د دې جملې په معنا ونه پوهیدم.

**ښوونکی:** ښه پوښتنه دې وکړه. د دې جملې مطلب دا دی چې هغه ستاسو بخت او صاحب، چې تاسو یې انتظار کوو. د جد کلمه دلته د بخت په معنی ده.

**زده کوونکی:** ستاسو په خبرو کې مو واوریدل چې هغوی هره ورځ له خپلو کورونو څخه حرې ته وتل. د حرې څه معنی ده؟

**ښوونکی:** حره هغه ځمکه ده چې تورې تیږې لري، داسې لکه چې په اور سوځول شوې وي. جمع یې حررات دي.

**زده کوونکی:** دا یوه هیښوونکې صحنه ده، خو مسلمانانو څه وکړل کله چې یهودي هغوی ته د پیغمبر ﷺ د راتګ خبر ورکړ؟

**ښوونکی:** مسلمانان د وسلو سره راووتل، یعني خپلې وسلې یې راواخیستې ترڅو چې د رسول الله ﷺ هرکلی وکړي، او تود هرکلی ورته ووایي چې د د پیغمبر په راتک سره هغوی

---

(١) البخاری (٣/٧٠-٧١) د حدیث شمیره ده (٣٦٠۶). د حدیث لنډیز راخستل شوی.

د خپلې مينې او خوشحالۍ څرګندونه وکړي. پيغمبر ﷺ د بنی عمرو بن عوف قبلې په لور چې قباء کې وه، لاړ، دا د ربيع الاول د مياشتې د دوشنبې ورځ وه. د قباء مسجد يې جوړ کړ، هلته يې لمونځ وکړ، قباء کې يې نږدې څوارلس شپې تېرې کړې[1].

د قباء مسجد جوړول د مسجد اهميت راښايي، ځکه چې پيغمبر ﷺ کله قباء ته ورسيد، لومړی يې هلته مسجد جوړ کړ، د مسجد په جوړولو کې يې د خپلو ملګرو سره تيږې راوړلې، د دې سترې په جوړولو کې يې ګډون وکړ.

**زده کوونکی:** ښوونکيه! ولې پيغمبر ﷺ له قباء پيل وکړ؟

**ښوونکی:** اول: قباء د مدينې داخل پورې پيوستنه نه وه، ځکه د خلکو شمير کم و، مدينه د نن ورځې په څېر نه وه چې ودانۍ او کورونه سره نښتي و.

دويم: پيغمبر ﷺ چې مدينې راتلو، د عير غره شاته لار، چې د قباء په لور وه راغلی، او پيغمبر ﷺ په خپل چلند کې هوښيار و، نو هغه غوره لاره پېژندله، نو الله ورته د بهترين کار دترسره کولو هدايت او توفيق ورکړو.

**زده کوونکی:** ښوونکيه! دا ستا له لورې موږ ښکلې لارښوونه ده، او داسې زده کړه ده چې پرې وياړو، مننه زموږ ګران ښوونکيه!

**ښوونکی:** پيغمبر ﷺ خپل اوښ ته پورته شو، خلک ورسره روان و، د انصارو سړي، ښځې او ماشومان ډېر زيات خوشحاله و، د کورنو چتونو ته پورته شوي و، واړه هلکان او خادمان يې په لارو کې خپاره شول، چيغې يې وهلې: "يا محمد! يا رسول الله!" او ترانې يې ويلې:

طلع البدر علينا من ثنيات الوداع***وجب الشكر علينا ما دعا لله داع

أيها المبعوث فينا جئت بالأمر المطاع*** جئت شرفت المدينة جئت يا خير داع

**زده کوونکی:** والله دا يو لويه خوشحالي ده، موږ اوس هم احساس کوو، نو انصارو او د هغوی ماشومان په څومره خوشاله و.

**ښوونکی:** هو، دا خو داسې خوشحالي ده چې زړونه د خوشالۍ ډکوي! څنګه به نه وي، راتلونکی کس (پيغمبر) غوره کس دی چې راځي، مدينې ته دخليږي، او هلته ژوند تيروي، مونځ کوي، خوراک کوي، خوب کوي، او هتله دفن شوی دی.

(١) البخاری (٣/٧٠-٧١) د حديث شميره ده (٣۶٠۶).

**زده کوونکی:** بيا له دې وروسته څه وشول ښوونکیه؟

**ښوونکی:** کله چې پيغمبر ﷺ مدينې ته ننووت، خلک ورسره روان و تر هغې چې د هغه اوښ په هغه ځای کې ودرېده په کوم ځای کې چې بيا مسجد نبوی جوړ شو. پيغمبر ﷺ وويل: (اوښه چې چيرته کيناسته( هغه ځای به زموږ استوګنځای وي).

# څلورم څپرکی

# د اسلامي دولت جوړول

# څلورم څپرکی: د اسلامي حکومت جوړول

## په مدینه کې ټولنیز ژوند

**ښوونکي:** د ټولنیز ژوند څخه موخه، د پیغمبر ﷺ په وخت کې په مدینه کې د خلکو ژوند دی. پیغمبر ﷺ چې کله مدینې ته ورسېد، مسجد یې جوړ کړ، ددې لپاره چې په ورځ کې پنځه ځله د لمونځ لپاره ورکې خلک راټولیږي، او له دې ځایه به د دولت مشري هم کوي. همدارنګه پیغمبر ﷺ په مدینه کې د مهاجرینو او انصارو تر منځ ورورولي راوسته، د مدینې د اوسیدونکو چې هغه که مسلمانان وو او که مسلمانان نه وو، یو تړون رامینځ ته کړ، چې وضاحت به یې ان شاء الله راتلونکې کې وشي، په دې سره د اسلام اغیز او اثر په ټولنیز ژوند کې راڅرګند شو.

**زده کوونکی:** دا ډېره ښایسته خبره ده چې مسلمانان خپل ځانګړی ژوند ولري.

## د مسجد جوړول:

**ښوونکي:** کله چې پیغمبر ﷺ مدینې ته داخل شو، د مدینې خلک ورسره روان وو تر هغې چې پیغمبر د اوښه په هغه ځای کې کیناسته چې اوس ورکې مسجد جوړ دی. کله چې اوښه کیناسته پیغمبر ﷺ وویل: (دا زموږ ځای دی ان شاءالله ).

په دغه ځای د مدینې د مسلمانانو یو شمېر خلکو لمونځ کاوه. د سهل او سهیل په نوم د دوه یتیمو هلکانو ځای و، چې خرما به یې دلته وچولې.

پیغمبر ﷺ دغه دواړه هلکان راوغوښتل او دغه د خرما د وچولو ځای یې ترې اخیستلو، چې مسجد پرې جوړ کړي. هغوی انکار وکړ، او ویې وویل: اې د الله رسوله! موږ دا ځای تا ته دربښوو؛ خو پیغمبر ﷺ له هغوی څخه دا ځای په تحفه کې قبول نه کړ او په پیسو یې ترې واخیست، او بیا یې مسجد پرې جوړ کړ.

**زده کوونکی:** د دې هلکانو د خپل پیغمبر سره ډېر کریمانه دریځ او موقف غوره کړ.

**ښوونکي:** هو، د هلکانو له لورې دا د ادب او کرم دریځ و؛ خو پیغمبر ﷺ د هغوی کرم په کرم سره جواب کړ، پیسې یې ورکړې، دا برکتي پیسې وې ځکه چې د پیغمبر له لورې څخه وې.

**زده کوونکی:** پیغمبر ﷺ څه ډول دغه مسجد جوړ کړ؟

**ښوونکي:** مسجد يې د تيږو، خټو، د خرما د ونو له پاڼو (جريد النخل) او تنو (جذغ) څخه جوړ کړ.

**زده کوونکی:** جريد النخل او جذع څخه معنا لري؟

**ښوونکي:** الجريد: کوم څه چې چې د ونې په سر کې د څانگو په بڼه وينئ، او (جذع) تنې ته وايي، کومه چې د ځمکې څخه تر ونې سر پورې غځېدلې وي، بيا وروبانديې پاڼې راشنې کيږي، هره څانگه بيا له يو شمير پاڼو څخه جوړه وي، چې دا په ونو کې د پاڼو په شکل کې وي.

**زده کوونکی:** د مسجد آبادي چا جوړوله؟

**ښوونکي:** هغه وخت د اوسنی وخت په څېر نه و، چې کارگران، شرکتونه او د بارولو ماشينونه دي، موجود وي. صحابه کرام رضی الله عنهم پخپله د جوړولو کار کاوه. پيغمبر ﷺ پخپله د خپل مسجد په جوړولو کې برخه اخيسته[1].

مدينې ته د راتگ سره سم د رسول الله ﷺ د مسجد جوړول، په اسلام کې د مسجد اهميت په گوته کوي، مسجد مسلمانو د راغونډېدو او د پيغمبر ﷺ سره د ملاقات ځای و، چې هلته به يې د دين اړوند مسائل زده کول، له همدې امله، مسجد تر نن ورځې پورې د تعليم، عبادت او د مسلمانو د يوالي مرکز پاتې دی.

مسلمانان د لمونځ په وخت کې مسجد ته راځي او مسجد ته په راتلو کې ډېره هڅه کوي، بيا کوم اذان چې نن ورځ تاسې اورئ او زده کړی مو دی، الله فرض کړ، بلال بن رباح رضی الله عنه په مسجد نبوي کې د رسول الله ﷺ مؤذن و[2].

## په مدينه کې د پيغمبر ﷺ د اوسېدو ځای:

**ښوونکي:** کله چې پيغمبر ﷺ مدينې ته راغی، د ابو ايوب انصاري رضی الله عنه په کور کې اوسېد، کور يې دوه پوړه درلود، پيغمبر ﷺ په لومړي پوړ کې، او ابو ايوب انصاري رضی الله عنه په دوهم پوړ کې اوسيده.

---

(١) ابن حجر، فتح البارى (٢٤٦/٧)

(٢) الترمذي (٣٥٨/١-٣٥٩) د حديث شميره ده (١٨٩)

**زده کوونکی:** دا د ابو ایوب انصاري رضی الله عنه لپاره ډېر لوی شرف دی چې پیغمبر ﷺ په کور کې یې اوسېد.

**ښوونکي:** هو، په حقیقت کې دا ډېر لوی شرف دی. خو ابو ایوب انصاري رضی الله عنه، کله چې په دوهم پوړ کې اوسېد، د پیغمبر ﷺ مقام او فضل یې احساس کړ، نو وې ویل: موږ د رسول الله ﷺ له سر څخه پورته تګ کوو؟ دوی یوې خوا ته لاړل او هلته ویده شول، او هغه شپه یې د کور په اړخونو کې قدم نه اخېست، له دې وېرې چې د خپل پیغمبر ﷺ څخه د پاسه نه شي. سهار یې پیغمبر ﷺ په دې خبر کړ، پیغمبر ﷺ ورته وویل: (لومړی پوړ اسانه دی). ابو ایوب انصاري رضی الله عنه وویل: زه به په هغه بام پورته نه شم چې ته یې د لاندې یې. پیغمبر ﷺ بیا دوهم پوړ ته پورته شو[1].

دا د کار د هغوی په زړه کې د پیغمبر سره د ډېرې مینې او درناوي روښانه کوي، چې د خپل پیغمبر ﷺ ډېر احترام او درناوی کوي.

**زده کوونکی:** په حقیقت کې دا له پیغمبر ﷺ سره ډېر لوی ادب دی. موږ باید د ابو ایوب انصاري رضی الله عنه په څېر له پیغمبر ﷺ سره مینه وکړو او سنتو ته یې احترام وکړو.

**ښوونکي:** ابو ایوب انصاري رضی الله عنه د پیغمبر ﷺ د خوښې په شیانو باندې ډېر حرص کولو، حتې په خوراکي شیانو کې به یې هغه خوراک تیارولو چې د پیغمبر ﷺ به ډېر خوښ و، کوم خواړه به چې پاتې شول، ابو ایوب انصاري رضي الله عنه به د پیغمبر ﷺ د ګوتو ځایونه لټول او له هغه ځای نه به یې خوراک کولو[2]، دا کار یې د پیغمبر ﷺ سره له ډېرې مینې کوو. موږ هم باید پیغمبر ﷺ سره ډېرې مینه وکړو او د سنتو پیروي یې وکړو.

## د مهاجرینو او انصارو تر منځ د ورورولۍ تړون:

**ښوونکي:** د مدینې مسلمانان انصار وګڼل شو، کومو چې د پیغمبر ﷺ او د هغه د صحابه وو هجرت ته ښه راغلاست وویلو؛ او مهاجر هغه خلکو ته وویل شول کوم چې له مکې څخه مدینې ته هجرت وکړ، خپل مالونه، کورونه، او سامانونه پرېښودل او یوازې له خپل اسلام سره مدینې ته راغلل، الله په قرآن کریم کې دا حالت داسې تشریح کړی دی: ﴿لِلۡفُقَرَآءِ

(۱) مسلم (۳/۱۶۲۳-۱۶۲۴) د حدیث شمیره ده (۲۰۵۳)

(۲) مسلم (۳/۱۶۲۳-۱۶۲۴) د حدیث شمیره ده (۲۰۵۳)

﴿لِلْفُقَرَآءِ ٱلْمُهَـٰجِرِينَ ٱلَّذِينَ أُخْرِجُوا۟ مِن دِيَـٰرِهِمْ وَأَمْوَٰلِهِمْ يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِّنَ ٱللَّهِ وَرِضْوَٰنًا وَيَنصُرُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓ ۚ أُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلصَّـٰدِقُونَ ۝٨ وَٱلَّذِينَ تَبَوَّءُو ٱلدَّارَ وَٱلْإِيمَـٰنَ مِن قَبْلِهِمْ يُحِبُّونَ مَنْ هَاجَرَ إِلَيْهِمْ وَلَا يَجِدُونَ فِى صُدُورِهِمْ حَاجَةً مِّمَّآ أُوتُوا۟ وَيُؤْثِرُونَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ۚ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِۦ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ﴾ [الحشر: ٨-٩].

**ژباړه:** (دغه مالونه) د هغو فقیرو هجرت کوونکو لپاره دی چی له خپلو کورونو او خپلو مالونو نه ایستل شوی دی، په داسی حال کی چی دوی د الله فضل او رضامندی لټوی او د الله او د هغه د رسول مدد کوی ـ، همدغه کسان رښتینی دی، او د هغو کسانو لپاره دی چی دوی له دغو (مهاجرینو) نه مخکی په دغه کور (مدینه) کی او په ایمان کی ځای نیولی دی ـ، دوی له هغو کسانو سره مینه کوی چی دوی ته یی هجرت کړی دی ـ او دوی په خپلو سینو (زړونو) کی هیڅ غصه (او حسد) نه مومی د هغه (مال) په وجه چی دغو (مهاجرینو) ته ورکړی شو او دوی په خپلو ځانونو باندی (هجرت کوونکو ته) ترجیح ورکوی اګر که په دوی باندی تنګی (او حاجت مندی) وی او هر هغه څوك چې د خپل نفس له بخیلی نه بچ کړی شو، نو همدغه کسان کامیاب (او په مراد رسېدلي) دي.

**زده کوونکی:** ښوونکیه! د مهاجرینو لپاره دا ډېر دردونکی حالت و، هغوی ژوند څنګه کاوه، په داسې حال کې چې هیڅ څه ورسره نه و؟

**ښوونکي:** په رښتیا هم دا د مهاجرینو لپاره دردونکی حالت و، په ځانګړې توګه چې مدینې ته راغلل، د مدینې د خلکو شغل کرنه وه، مهاجرینو سره د کرنې تجربه لږه؛ ځکه چې د هغوی زیاتر تجربه په تجارت کې وه، سربیره پر دې، د مکې له ښار څخه هم لرې وو، چې هلته یې ژوند کړی و؛ نو د ډیرې پاملرنې او توجه اړتیا یې لرله.

**زده کوونکی:** په رښتیا چې حالت به یې ډېر سخت و. ښوونکیه! امید دی چې الله به یې حالت اسانه کړی وي. د مهاجرینو سره زموږ مینه نوره هم زیاته شوه، ځکه چې د الله په لار کې یې ډېر څه قرباني کړل.

**ښوونکي:** دا دین چې الله په خپل پیغمبر محمد ﷺ باندې نازل کړی دی، د مینې، یوالي، په خیر کې د یو بل مرسته کولو دین دی، دا داسې دین دی چې انسان هڅوي چې له خپل ورور سره ودریږي.

**د انصارو د خپلو مهاجرینو وروڼو سره په دې لار کې د پام وړ بیلګې دي، ان شاء الله چې ډېر ژر به پرې پوهه شئ. لیکن اوس راځئ چې ددې مشکل د حل لپاره د پیغمبر ﷺ طریقه وپېژنو.**

**لومړی:** پيغمبر ﷺ د هغوی د مکې سره مينه او محبت لپاره دعا وکړه، پيغمبر ﷺ وفرمايل: (اللهم حبب إلينا المدينة كحبنا مكة أو أشد، وصححها، وبارك لنا في صاعها ومدها)[١] نو مهاجرينو په زړه کې د مکې سره د مينې او محبت د راټوکيدو لپاره پيغمبر ﷺ دعا وکړه، چې مدينه ورته لکه د مکې په څېر يا تر دې زيات محبوبه کړي.

کومې ناروغۍ چې مهاجرينو ته پيدا شوې وې، هغه هم د پيغمبر ﷺ د دعا په وسيله ختمې شوې؛ چې اې الله مدينه له ناروغيو څخه پاکه کړي، او د مدينې وزنونو کې برکت واچوې، چې هغه د "صاع" او "مد" وزنونه دي، لکه څنګه چې نن ورځ موږ "کيلو" او د کيلو برخې کاروو، همدغه شان صاع او مد د هغوی وزنونه و.

**زده کوونکی:** آيا د مهاجرينو بيا د مدينې سره مينه پيدا شوه؟

**ښوونکی:** هو، د مدينې سره يې مينه پيدا شوه، ناروغي يې ختمې شوې. تر نن ورځې پورې مدينه او د مدينې رزقونه د پيغمبر ﷺ د دعا په برکت برکتمن شول.

**دوهم:** د ژوند د نورو اړخونو سمولو لپاره يې د مهاجرينو او انصارو ترمنځ وروګلوي راوسته، علما وايي چې دوی يې سره ورونه کړل تر څو د پرديسۍ وحشت ورڅخه لرې کړي، د کورنۍ او د خپلوانو جدايۍ پر ځای له دويو سره اشنا شي، د يو بل مرسته وکړي[٢]؛ نو موږ ته پکار دي چې د نورو مسلمانانو سره د ورونو په څېر چلند وکړو[٣].

**زده کوونکی:** ښوونکيه! انصارو دا وروګلوي په ډول سره ومنله؟

**ښوونکی:** انصار د الله او رسول لپاره ډېر مخلص و، انصار د کرم څښتنان، وفادار او د پيغمبر د ملګرو سره مينه لرونکي خلک وو. مهاجرينو ته يې د خپلې کورنيو په ځای ډېر محبت، احترام او مرسته ورکړه. الله مهاجرينو ته د هغه څه په بدل کې ښه ورکړل کوم يې چې پريښودل. الله د انصارو په صفت کې فرمايي: ﴿وَٱلَّذِينَ تَبَوَّءُو ٱلدَّارَ وَٱلْإِيمَٰنَ مِن قَبْلِهِمْ يُحِبُّونَ مَنْ هَاجَرَ إِلَيْهِمْ وَلَا يَجِدُونَ فِى صُدُورِهِمْ حَاجَةً مِّمَّآ أُوتُوا۟ وَيُؤْثِرُونَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ۚ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِۦ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ﴾ [الحشر: ٩].

---

(١) البخاري (٧٦/٣) د حديث شميره ده (٣٩٢٦)

(٢) ابن حجر، فتح الباري (٢٧٠/٧)

(٣) ښوونکې دې د اسلامي وروروګلوی اهميت زده کوونکو ته روښانه کړي، هغه د يو بل سره احسان کول، پوښتنه يې کول، د خپل توان برابر ورسره مرسته کول.

**ژباړه:** همدغه کسان رښتيني دي، او د هغو کسانو لپاره دي چې دوی له دغو (مهاجرينو) نه مخکې په دغه کور (مدينه) کې او په ايمان کې ځای نيولی دی ـ، دوی له هغو کسانو سره مينه کوي چې دوی ته يې هجرت کړی دی ـ او دوی په خپلو سينو (زړونو) کې هېڅ غصه (او حسد) نه مومي د هغه (مال) په وجه چې دغو (مهاجرينو) ته ورکړی شو او دوی په خپلو ځانونو باندې (هجرت کوونکو ته) ترجيح ورکوي اګر که په دوی باندې تنګې (او حاجت مندي) وي او هر هغه څوک چې د خپل نفس له بخيلۍ نه بچ کړی شو، نو همدغه کسان کامياب (او په مراد رسېدلي) دي.

**زده کوونکی:** په الله قسم چې زموږ په زړونو کې د انصارو سره ډېره مينه را پيدا شوه.

**ښوونکی:** د انصارو د وفادارۍ او مينې يو مثال دا دی چې پيغمبر ﷺ عبدالرحمن بن عوف د مهاجرينو څخه او سعد بن ربيع د انصارو څخه ورونه کړل. انصاري سعد بن ربيع عبدالرحمن بن عوف ته وويل: زه په انصارو شتمن يم، زه به نيم مال تا ته درکړم[1].

**زده کوونکی:** دا سعد بن ربيع ډېره ښکلې او لوی سخاوت دی.

**ښوونکی:** الله انصارو توصيف په دې ډول وکړ: ﴿وَيُؤْثِرُونَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ﴾ [الحشر: ۹].

**ژباړه:** او دوی په خپلو ځانونو باندې (هجرت کوونکو ته) ترجيح ورکوي اګر که په دوی باندې تنګي (او حاجت مندي) وي.

مګر عبدالرحمن بن عوف دا سخاوت او کرم د خپل انصاري ورور څخه قبول نه کړ، بلکه ورته ويې ويل: الله دې ستا په کورنۍ او مال کې برکت واچوي. بازار چېرته دی؟ هغه بازار ته لاړ او سوداګري يې پيل کړه چې ډېر مال يې ترلاسه کړ.

**زده کوونکی:** دا د عبدالرحمن بن عوف ښکلی دريځ دی، په الله قسم چې موږ ته د کرم او اخلاقو عجيب مثالونه وړاندې کوي.

**ښوونکی:** هو، دوی زموږ لپاره د ښوونځي په څېر دي، موږ ته ښوونه کوي چې څنګه د يو بل سره ژوند وکړو، څنګه يو په بل شفقت وکړو، او څنګه يو د بل مال وساتو او هغې ته په طمع کې نشو.

په مدينه کې د مسلمانانو ټولنه د رسول الله په وخت کې په دې ډول وه، د يو بل سره يې د محبت او ورورګلوی په فضا کې ژوند کاوه، ترمينځ يې د ښمني او کينه نه وه، دوی په

(۱) البخاري (۸۳/۳) د حديث شميره ده (۳۷۸۰)

حقیقت کې د رسول الله د ملګرتوب مستحق وو. موږ ته هم پکار دي چې د ټولو سره مینه ولرو.

## نبوي وثیقه:

**ښوونکی:** په مدینه کې د اوسېدونکو یهودانو او د اوس او خزرجو مسلمانانو او مهاجرینو ترمنځ د رسول الله ﷺ د واکمنۍ په نتیجه کې، رسول الله ﷺ یوه سند (وثیقه) ولیکله، چې پکې یې د یهودانو حقوق خوندي کړي وو او د دوی د شر څخه یې ځان خوندي کړی و.

**نو پیغمبر ﷺ یو لیک د مهاجرینو او انصارو ترمنځ ولیکه، چې په کې راغلي وو:**

- بې شکه مؤمنان متقیان که یو په بل زیاتۍ وکړي، که هغه انصاری وي، او که مهاجر؛ نو هیڅ کافر به یې د بل مسلمان په وړاندې مرسته نه کوي، مقصد دا چې هیڅ مؤمن به د بل مؤمن په مقابل کې د کافر څخه مرسته نه غواړي، اګر که دغه کافر یې خپلوان ولې نه، ځکه چې ټول خپلوان مسلمانان نه وي.

- بل یو سند یې د یهودیانو سره ولیکه، ترڅو د دوی د شر څخه په امن کې شي، او هغوی ته خپل حقونه پوره ورکړي، ترڅو په مدینه کې ښه او ارامه ژوند وي. په سند کې راغلي وو:

- د یهودانو خپل دین دی، او د مسلمانانو خپل دی، ددې معنا دا چې بیغمبر ﷺ په اسلام کې په داخلیدو مجبور نه کړل، او نه یې د جنګ او اسلام کې د یو په منلو مجبور کړل، بلکې په خپل دین یې پرېښودل، مګر که یو تن په خپله خوښه اسلام مني؛ نو کولی شی، دا د پیغمبر د هغوی سره عدل او انصاف و.

- هېڅوک به له مدینې څخه د محمد ﷺ له اجازې پرته نه وځي، ددې ګټه دا وه چې د یهودو له شر څخه په امن کې شي، او هر هغه څوک چې مدینې ته داخلیږي او یا بهر کیږي چې هغه وپیژني.

- څوک چې له مدینې وځي، او که په مدینه کې پاتې کیږي، هغوی به په امن کې وي، پرته له هغه تن څخه چې ظلم وکړي.

معنا دا چې هر تن چې د مدینې څخه د امن په حال کې ووتلو، هیڅ تن به د هغې په مال او بچیانو تیری نه کوي، که کوم تن په امن سره مدینه کې اوسیږي هیڅ تن به ورباندې

تيرى نه كوي، پرته له هغه تن څخه چې ظلم وكړي، هغې ته به امن نه وي، ځكه چې هغه د ظلم له امله مطلوب دى.

**زده كوونكى:** دا يوه ښه تړون وه، په دې كې په هيڅا ظلم نشته.

**ښوونكى:** هو، اسلام كې د هر چا سره ظلم كول حرام دي، رسول الله ﷺ دا دين له الله څخه راوړى ترڅو خلک له كفر څخه اسلام ته راوباسي، او په امن سره جنت ته لاړ شي، او د خلكو ترمينځ يې دښمني او جنګ كول هدف نه دى.

**زده كوونكى:** اسلام ډېر ښكلى دين دى، موږ د الله شكر اداء كو كوو چې مسلمانان يو، آيا دا تړون څنګه چې رسول الله ﷺ ليكلى و، همغسې پاتې شو او كنه چا يې مخالفت وكړ؟

**ښوونكى:** كه څه هم په سند كې د يهودانو حقوق خوندي شوي وو، عدل او انصاف وركې و؛ خو هغوى هغه مات كړ، او د مكې له مشركينو سره يې د رسول الله ﷺ پر خلاف ملګرتيا وكړه، خيانت يې وكړ او په مدينه كې يې ګډوډي راوستله؛ نو رسول الله ﷺ هغوى وشړل. ان شاء الله په دې اړه به وروسته وضاحت وشي.

## د پيغمبر ﷺ كور:

**ښوونكي:** د ابو ايوب انصاري رضي الله عنه په كې د رسول الله ﷺ د دېره كيدو وروسته يې خپل كور جوړ كړ. د كور دروازه يې مسجد نبوي ته خلاصه وه، او هلته يې له عايشې رضى الله تعالى عنها سره واده هم وكړ[1]، د پيغمبر ﷺ كور له يوې كوټې څخه عبارت و.

كله چې پيغمبر ﷺ مدينې ته راغلى، له څو ښځو سره يې ودونه وكړل، چې د بيبيانو ټول شمېر يې نهه وو، رضى الله تعالى عنهن. ترتيب يې په دې ډول دى: سوده، عائشه، حفصه، ام سلمه، زينب بنت جحش، ام حبيبه، جويريه، صفيه او ميمونه رضي الله عنهن، پيغمبر ﷺ له دوى نه مخكې وفات شو[2]. دا د مؤمنانو ميندې دي، يو سړي ته يوازې د څلورو ښځو سره واده كول روا دي، مګر پيغمبر ﷺ ته له دې نه زيات سره واده كول روا وو، دا د پيغمبر ﷺ له خصوصياتو څخه دى چې الله هغه ته د خپل فضل او مهربانى څخه وركړى و.

(١) ابن سعد، الطبقات الكبرى (١/٢٤٠)

(٢) ابن حجر، فتح الباري (٩/١١٣)

**زده کوونکی:** د پیغمبر ﷺ میرمنې چېرته اوسیدلې؟

**ښوونکي:** هغوی به په کوټو کې اوسیدلې، هرې یوې به خپله کوټه لرله، کله به یې چې له یوې سره واده کاوه؛ نو هغې ته به یې کوټه جوړوله، اوس د هغوی د کوټو ځای د پیغمبر ﷺ د قبر ترځنګ دی.

**زده کوونکی:** مونږ مخکې د پیغمبر ﷺ د اولادونو په اړه پوه شوو، چې له خدیجې رضی الله عنها څخه و، آیا نور اولادونه یې لرل؟

**ښوونکي:** ښه پوښتنه مو وکړه. پیغمبر ﷺ له خدیجې رضی الله تعالی عنها پرته له بلې ښځې اولاد نه درلود، مګر هغه ته د مصر پاچا مقوقس ماریه القبطیه هدیه کړې وه، چې له هغې څخه یې د هجرت په اتم کال کې ابراهیم زوی وزیږید، هغه بیا د کوچنیوالي په حال د مور له شیدو له پرې کیدو مخکې وفات شو[1]. فطام: کله چې مور خپل ماشوم د شیدو رودولو څخه منع کړي.

## د صُفې والا:

**ښوونکي:** صفه د مسجد نبوي په آخر کې یو ځای وو، چې یو شمېر مسلمانان چې په عبادت او د قرآن او سنت په زده کړې به مشغوله وو، اوسیدل، چې شاوخوا اویا کسان وو، دوی سره له دې چې په عبادت او زده کړه بوخت وو، بیا به یې هم په جهاد کې ګډون کاوه، چې یو د هغوی له ډلې څخه ابو هریره رضی الله تعالی عنه وو.

## وفودونو ته زده کړه او تعلیم:

**ښوونکي:** ځینې قبایل به مدینې ته د پیغمبر ﷺ د لیدو لپاره راتلل، او ځینې به اسلام کې داخلیدل.

**زده کوونکی:** ښوونکیه! وفود څه معنی لري؟

**ښوونکي:** څوک به چې مدینې ته راشي، یا بل هر ځای ته لاړ شی، هغه ته وافد وایي، وفود د وافد جمع ده، د خلکو یوه ډله چې د خپلې قبیلې یا ډله نمایندګي کوي وفد بلل کیږي.

---

(١) ابن هشام، السیرة النبویة (٢٠٢/١)، ابن سعد، الطبقات الکبری (١٩/٨-٣٩)

پيغمبر ﷺ ته به وفودونه راتلل، هغوی ته به يې د دين مسائل ښودل، چې بيا به هغوی خپلو خلکو ته تلل، څه به يې چې له پيغمبر ﷺ زده کړي وو، خپل قوم ته به يې ښودل. له دغو وفودو څخه يو د مالک بن الحويرث وفد دی، هغه وايي: زه له خپل قوم سره پيغمبر ﷺ ته راغلم، او شل ورځې مو د پيغمبر سره تيرې کړې، هغه رحيم او مهربانه وو، کله چې په موږ پوه شو، چې کور ته تلل غواړو؛ نو ويې ويل: "بېرته خپلو خلکو ته لاړ شئ، او هغوی ته تعليم ورکړئ او لمونځ وکړئ.[۱] پيغمبر ﷺ د عبد القيس وفد ته هم وويل: "بېرته خپلو خلکو ته لاړ شئ او هغوی ته تعليم ورکړئ[۲]."

**زده کوونکی:** ښوونکيه! زما پام د صحابي په خبرو راواوښت چې رسول الله ﷺ رحيم او مهربان وو. دا دوه ښايسته صفتونه دي.

**ښوونکي:** هو، بېشکه رسول الله ﷺ سره به چې څوک کيناسته، يا به يې ليدلو؛ نو هغه مهربان، رحيم، او ښه چلند درلود، هغه به خلکو ته د خير په رسولو کې حرص کوو، کله به چې وپوهيده چې راغلی تن د اسلام شرايع زده کړل، ورته ويل به يې: بيرته خپل قوم او کور ته لاړ شه او هغوی ته دا وروښايه. پوهېده چې خلک خپل کور پسې ارمانجن کيږي، هلته يې مصلحتونه او روزګار دي؛ نو هغه به له هغوی سره صبرناک او مهربان و، عليه الصلاة والسلام.

دا موږ ته د نورو سره چلند ښايي، د هغوی حالت بايد وپېژنو، نرمي ورسره وکړو، او مهربان اوسو، لکه څنګه چې رسول الله ﷺ له هغوی سره کول.

## د خلکو ته دين ورزده کول:

**ښوونکي:** د اسلام څخه مخکې د لوست او ليک تنانو شمېر ډېر لږ و، په مکه کې يوازې اووه لس تنه وو، او په مدينه کې يې شمير کم و[۳].

**زده کوونکی:** پوهه به ډېره کمزورې وه.

**ښوونکي:** هو، پوهه ډېره کمزورې وه، مګر کله چې اسلام د پيغمبر ﷺ په بعثت سره راغی، پوهه خپره شوه، او ډېر کسان په لوست او ليک پوه شول. ځکه چې اسلام به په زده کړو

(۱) البخاری (۲۱۱/۱) دحديث شميره ده (۶۲۸)

(۲) البخاری (۴۸/۱) د باب شميره ده (۲۵)

(۳) البلاذري، فتوح البلدان (۶۶۰-۶۶۳)

**کولو هڅول، الله فرمايلي دي:** ﴿ٱقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلَّذِي خَلَقَ ۝١ خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِنۡ عَلَقٍ ۝٢ ٱقۡرَأۡ وَرَبُّكَ ٱلۡأَكۡرَمُ ۝٣ ٱلَّذِي عَلَّمَ بِٱلۡقَلَمِ ۝٤ عَلَّمَ ٱلۡإِنسَٰنَ مَا لَمۡ يَعۡلَمۡ﴾ [العلق: ١-٥].

**ژباړه:** ته د خپل هغه رب په نامه سره ولوله چې پيدا کړی يې دی (ټول مخلوقات)، ده انسان له يرنی (ټوټی) وينی نه پيدا کړی دی، ته ولوله، په داسی حال کی چې ستا رب تر ټولو لوی کريم دی، هغه چې په قلم سره يې ښوونه کړې ده، انسان ته يې هغه څه ښودلي دي چې دی پرې نه پوهېده.

**او پيغمبر ﷺ فرمايلي دي:** (چا چې د علم لاره ونيوله، الله به ورته د جنت لاره اسانه کړي[1]).

**زده کوونکی:** دا لوی ثواب خلک پوهې ته هڅول، ښوونکيه! آيا داسې نه ده؟

**ښوونکي:** هو، د زده کوونکې لپاره د الله په وړاندې لوی مقام دی، ځکه عالم خلکو ته خير ښايي، او انسان عالم کيدی نشي، ترڅو چې د علماو څخه علم زده نه کړي؛ نو تاسې هم د علم ترلاسه کولو کې کوښښ وکړئ، الله فرمايلي دي: ﴿يَرۡفَعِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡ وَٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ دَرَجَٰتٖۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٞ﴾ [المجادلة: ١١].

**ژباړه:** الله به په تاسو کی هغه کسان په درجو کی اوچت کړی چې ايمان يی راوړی دی او هغه کسان چې هغوی ته علم ورکړی شوی دی، او الله په هغو کارونو چې تاسو يې کوئ ښه خبردار دی.

**او رسول الله ﷺ به خلکو ته د ديني امور زده کړه ورکوله، ډېر به يې نه اوږدوله او نه به يې زياتوله؛ تر څو هغوی ستړي نه شي. هغه په خپل چلند کې حکيم و. عبدالله بن مسعود رضي الله عنه به خلکو ته وعظ کاوه او ويل يې: زه تاسو ته په مناسب وخت کې وعظ کوم، لکه څنګه چې به رسول الله ﷺ موږ ته په مناسب وخت کې وعظ کاوه، له دې وېرې چې موږ ستړې نه شو[2]. يعنې زه د مناسب فرصت په لټه کې يم، چې تاسو ته وعظ وکړم؛ او ډېر به يې نه زياتوله. لکه څنګه چې رسول الله ﷺ هم داسې کول؛ د فرصتونو څخه په ګټې سره به يې موږ ته تعليم راکاوه چې موږ ستړي نه شو.**

---

(١) أبوداود (٤/٥٧-٥٨) د حديث شميره ده (٣۶۴١)

(٢) البخاری (١/۴٢)

## په نيزو او غشو لوبې کول:

**ښوونکي:** صحابه کرام به په نيزو او غشو لوبې کولې، چې دا د جګړې وسايل وو. هغوی به په غشو ويشتلو کې تمرين کاوه؛ تر څو په جګړو کې د اسلام او خپلو ځانونو دفاع وکړي.

عايشه رضي الله عنها وايي: ما د خپلې کوټې په دروازه کې رسول الله ﷺ وليد او حبشيانو په مسجد کې لوبې کولې. يعنې د جګړې په وسايلو يې لوبې کولې. حبشيان هغه صحابه دي چې نسلا د حبشې څخه دي.

## په ماشومانو د پيغمبر ﷺ پاملرنه:

**ښوونکي:** رسول الله ﷺ به په ماشومانو پاملرنه کوله، هغوی سره به يې مينه، لوبې، نرمې کوله او په خپلې سورلې به يې سپره ول.

**زده کوونکی:** ښوونکيه!، آيا ماشومان به لوبې ورسره کولې؟

**ښوونکي:** هو، ماشومان به لوبې کولې، بلکې رسول الله ﷺ به هم کله کله ورسره خپله لوبې کولې.

**زده کوونکی:** ښوونکيه! دا خو ډېره ښکلې ده، څنګه لوبې به يې وسره کولې؟

**ښوونکي:** رسول الله ﷺ به ماشومان ډېر خوښول، کله به يې چې په لار کې کوم ماشوم وموند، هغه به يې نازاوه او ورسره به يې لوبې کولې. او په خپل سورلی به يې سپروه.

**زده کوونکی:** ښوونکيه! دا خو ډېره ښکلې، پيغمبر ﷺ ډېر عاجزه و، موږ ته د هغه په اړه نور څه ووايه.

**ښوونکي:** سمه ده. پيغمبر ﷺ د بنوعباس دوه ماشومان عبدالله، عبيدالله يو صف کې ودرول، بيا به يې ورته وويل: څوک چې ما ته مخکې راشي، هغه ته به دا او دا (ډالۍ) ورکوم. هغوی به په منډه راتلل، او د پيغمبر ﷺ په ملا او سينه باندې راپرېوتل، پيغمبر ﷺ به هغوی ښکل کړل[۱].

---

(۱) أحمد (۲۱۴/۱)

**زده کوونکی:** دا څومره ښکلې کار دی، مور د پیغمبر ﷺ عاجزي خوښه شوه.

**ښوونکي:** له دې امله تاسو ته هم پکار دي چې د ځان څخه په کشرانو عاجزي کوئ، په هغوی کبر مه کوئ، بلکې لوبې ورسره کوئ، مه يې خفه کوئ، څنګه به چې پیغمبر ﷺ ماشومان خوشاله کول.

**زده کوونکی:** ډېره ښه ښوونکيه! دا یو ګټور نصیحت دی.

**ښوونکي:** پیغمبر ﷺ به ماشومانو سره لوبې کولې، په شا کول به يې، او کله به په سورلۍ سپرول، دابه: هغه حیوان دی چې انسان پرې سورلي کوي، لکه اس، قچر، اوښ، او یا خر. الله فرمايلي دی: ﴿وَٱلۡخَيۡلَ وَٱلۡبِغَالَ وَٱلۡحَمِيرَ لِتَرۡكَبُوهَا وَزِينَةٗۚ وَيَخۡلُقُ مَا لَا تَعۡلَمُونَ﴾ [النحل: ٨].

**ژباړه:** او اسونه او قچر او خره (یې پیدا کړی دی.) د دې لپاره چې تاسو په دغو باندې سواره شئ او د زینت لپاره او پیدا کوي هغه څه چې تاسو يې نه پېژنئ.

ماشومانو به پیغمبر ﷺ سره مينه کوله، او هغې به هم وسره مينه کوله، کله به پیغمبر ﷺ له سفر څخه راغلی، یا به ماشومانو لاره کې ولید؛ ماشومان به هغه ته ورتلل، په خپل سورلۍ به يې سپرول. عبدالله بن جعفر وايي: کله چې پیغمبر ﷺ له سفر څخه راغلی، مور به مخې ته ورغلو، کله به زه او حسن و او کله به او حسين و، مور به يې سورلۍ ته پورته کړو، یو به يې مخې ته او بل به يې شاته کېنولو[1]، او رسول الله ﷺ به په مینځ کې و.

**زده کوونکی:** ډېر ښکلي، د رسول الله ﷺ مقام او درجه ډېره لوړه ده، مګر بيا هم ماشومانو ته هرکلی وايي، هغوی هم ورته هرکلی کوي، او په خپل سورلۍ يې سپروي، دا ستره او لويه خوشالي ده.

**ښوونکي:** هو، دا یو لویه خوشالي ده، چې د پیغمبر ﷺ ورسره مينه لري، او پاملرنه يې کوي. مور باید د هغه منهج او اسلوب څخه ګټه واخلو، ماشومانو سره مینه وکړو، عزت ورکړو، لوبې ورسره وکړو، او هغوی خفه نه کړو.

پیغمبر ﷺ یوه ورځ له خپلو صحابه کرامو سره د یوې مېلمستيا لپاره روان و، حسين يې په لاره کې ولید چې لوبې کوي؛ نو پیغمبر ﷺ خپلو اصحابو په مخکې تیز لاړ، یعنې د هغوی څخه مخکې شو، خپل لاس يې د حسين په لورې اوږد کړ، او هغه ترې یوې او بلې

(١) مسلم (١٨٨٥/٤) د حديث شميره ده (١٤٢٨)

**لورې منډې وهلې، پيغمبر ﷺ يې په خندا کړو، تر دې پورې چې پيغمبر ﷺ هغه په غيږ کې راونيوه، يعنې حسين يې غيږ ته پورته کړ. او ويې ويل: اې الله! څوک چې د حسين سره مينه کوي، ته ورسره مينه وکړې[1]، حسين د پيغمبر ﷺ د لور فاطمې رضي الله عنها زوی و، چې د علی بن ابی طالب ميرمن وه.**

**نو وګورئ چې پيغمبر ﷺ څنګه دې ماشوم سره مينه کوي، په لاره کې وسره لوبې کوي، بيا يې غيږ ته پورته کوي، موږ هم بايد د ماشومانو سره مينه وکړو، څکه چې پيغمبر ﷺ ورسره مينه کوله، د حسين سره مينه وکړ، څکه چې پيغمبر ﷺ ورسره مينه کوله، او د پيغمبر ﷺ د ټولو صحابه وو سره مينه کوو.**

**زده کوونکی: ښوونکيه! آيا ماشومان به مسجد ته هم تلل، لکه نن چې زموږ په مسجدونو کې وي؟**

**ښوونکي: هو، ماشومان به مسجد ته تلل، د حقيقت پيژندلو لپاره په دې واقعه کې فکر وکړئ.**

**ابو قتاده وايي: موږ په مسجد کې ناست وو چې پيغمبر ﷺ راغی، امامه د ابو العاص بن الربيع لور، چې د رسول الله ﷺ د لور زينب رضي الله عنها لور وه، په غيږ کې نيولې وه، چې ماشومه وه، او په خپلو اوږو يې کينولې وه. رسول الله ﷺ لمونځ وکړ او هغه يې په غيږ کې وه. کله به چې رکوع ته لاړ، هغې به يې کينوله، او کله به چې ودريدو هغه به يې بيا په غيږ کې نيوله، دا کار يې تر هغې کولو چې لمونځ يې ختم کړ[2].**

**زده کوونکی: ښوونکيه! دا ډير ښکلی او حيرانوونکی کار دی، د "په غيږ کې نيول" معنی څه ده؟**

**ښوونکي: عاتق: هغه ځای دی چې د اوږو د پاسه او د سر نه لاندې ځای ته وايي.**

**بريدة رضی الله عنه وايي: رسول الله ﷺ موږ ته خطبه کوله. حسن او حسين په سره کميسونو کې راغلل، روان وو او پر مخه ځغاستل، رسول الله ﷺ له منبر څخه کوز شو، هغوی يې پورته کړل او مخې ته يې کينول، بيا يې وويل: الله ريښتيا ويلي دي: ﴿إِنَّمَآ أَمۡوَٰلُكُمۡ وَأَوۡلَٰدُكُمۡ فِتۡنَةٞ﴾ [التغابن: ١٥].**

**ژباړه:** ببشکه هم دا خبره ده چې ستاسو مالونه او ستاسو اولادونه ازموينه (او فتنه) ده.

---

(١) البخاری، الأدب المفرد (١/٤٥٩-٤٦٠) د حديث شميره ده (٥٦٣)

(٢) الترمذي ٣٧٧٤

ما دې ماشومانو ته وکتل چې روان وو او پر مخه ځغاستل، نو صبر مې ونه شو تر څو مې خپل خبرې پرېکړې او هغوی مې پورته کړل.

نو وګورئ چې پیغمبر ﷺ څنګه په خپلو لمونځونو او خطبو کې ماشومانو ته پاملرنه کوله. د مونځ او خطبې حالت یې هم د هغوی د پاملرنې او رحمت څخه منع نه کړل[1].

پیغمبر ﷺ ته ماشومانو راوستلی شول، هغوی ته به یې د برکت دعا کوله، او په سر به یې ورته لاس راتیراوه، سائب بن یزید وايي: زه له خپلې خاله سره رسول الله ﷺ ته لاړم. هغې وویل: یا رسول الله! د خور زوی مې ناروغ دی. سائب بن یزید وویل: رسول الله ﷺ زما په سر یې لاس راتیر کړو او د برکت دعا یې راته وکړه.

د پیغمبر ﷺ له لورې د ماشومانو سره د مهربانۍ دا خورې چلند ښايي چې د ماشومانو سره یې ډېره مینه کوله، لوبې به یې وسره کولې، خوشالول به ې، علیه الصلاة والسلام.

**زده کوونکی:** هرڅومره چې موږ د پیغمبر ﷺ په سیرت کې زیات پوهیږو، هغومره وسره محبت زیاتیږي.

**ښوونکي:** زموږ به مؤمنان نه یو، تر څو چې پیغمبر ﷺ سره له خپل ځانه زیات محبت ونه لرو. څنګه به ورسره محبت نه لرو، حال دا چې الله هغه زموږ لپاره رحمت ګرځولی دی، بلکې د ټولې نړۍ لپاره رحمت دی، یعنې د هر څه لپاره رحمت دی.

(١) البخراى (١٦٣/٤) د حدیث شمیره ده (٦٣٥٥)

# پنځم څپرکی

# د پیغمبر ﷺ غزاګانې

# پنځم څپرکی: د پیغمبر ﷺ غزاګانې

## د پیغمبر ﷺ غزاګانې:

**ښوونکی:** غزوات هغو جګړو ته وايي چې پيغمبر ﷺ پکې برخه اخيستې وي . او سَريّه بيا هغه جنط ته وايي چې پيغمبر ﷺ پکې برخه نه اخيستې نه وي، او يو صحابي يې مشري کړې وي.

پيغمبر ﷺ ته د کفارو سره د جګړې اجازه تر هجرت وروسته په مدينه کې ورکړل شوه[1]، چې د الله په لار کې جهاد دی.

**زده کوونکی:** ښوونکيه! ولې د جهاد اجازت ورکړل شو؟

**ښوونکی:** د الله له خوا پيغمبر ﷺ ته د ظلم د مخنيوي لپاره د جنګ کولو اجازه ورکړل شوه چې د دين د دښمنانو لخوا شوې وي، او يا کيدای وشي. الله د مجاهدينو په واسطه د کفارو ضرر دفع کوي. تاسو ته د پيغمبر ﷺ غزوات او سريې روښانه شي، چې دا د دښمنانو د دوکې د دفع لپاره وې، د ظلم او تجاوز لپاره نه وې.

اسلام ظلم نه خوښوي، او د ظلم کولو منع کوي. اسلام مسلمانان منع کوي چې د خلکو سره د ظلم، او د هغوی د مالونو د اخيستلو لپاره جهاد وکړي. الله فرمايلي دي: ﴿وَقَٰتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱلَّذِينَ يُقَٰتِلُونَكُمۡ وَلَا تَعۡتَدُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُعۡتَدِينَ﴾ [البقرة: ۱۹۰].

**ژباړه:** او د الله په لاره کې له هغو کسانو سره جنګ کوئ چې له تاسو سره جنګيږي، او له حد نه مه تيريږئ، يقينًا الله له حد لا تيريدونکي نه خوښوي.

**زده کوونکی:** ښوونکيه! اسلام ډير ښکلی دين دی، (الله تيری کوونکي نه خوښوي).

**ښوونکی:** هو، د اسلام اخلاق، اوامرو او نواهي ډير ښکلی دي، چې په راتلونکي کې به يې تاسو په غزواتو او سريو کې وګورئ، اسلام ظالمان او متجاوزين نه خوښوي چې د خپلو حقوقو په ترلاسه کولو کې په خلکو تيری او ظلم وکړي.

**زده کوونکی:** د پيغمبر ﷺ د غزواتو شمير څومره دی؟

---

(۱) ابن القيم، زاد المعاد (۷۱/۳)

**ښوونکی:** د پیغمبر ﷺ د غزواتو شمیر اوه ویشت (۲۷) دی، او څلور اویا (۴۷) سریې دي[۱].

غزوات او سریې یې ډېر دي، نو ځینې به یې موږ ان شاء الله بیان کړو.

## د بدر غزا:

**ښوونکی:** له شام څخه مکې مکرمې ته تلونکی کاروان به مدینې له لارې تللو، قریشو د پیغمبر ﷺ او د هغه اصحابو سره ظلم کړی و، تر دې چې له مکې څخه ووتل او خپل مالونه، کورونه او هر څه یې پرېښودل. مسلمانانو انتظار وکړ تر څو د قریشو تجارتي کاروان مدینې ته نږدې شي، کوم تاوان چې صحابو ته ورسید، د هغې په بدله کې ترې دا تجارتي کاروان ونیسي.

مسلمانانو چې د قریشو تجارتي کاروان خبر شول، چې له شام څخه را روان دی، پیغمبر ﷺ وویل: دا د قریشو کاروان دی په دې کې د هغوی مالونه دی، ورته ورووځئ[۲].

**زده کوونکی:** ښوونکیه! د "عیر قریش" معنی څه ده؟

**ښوونکی:** عیر معنی اوښان دی، او د مسافرانو هغه کاروان ته هم وایي چې له اوښانو او سوداګریزو توکو څخه جوړ وي.

مسلمانان د بدر په لور روان شول، چیرې چې د قریشو تجارتي کاروان تېرېده، پیغمبر ﷺ، علي بن ابي طالب او ابو لبابة په یو اوښ باندې به نوبتي سپریدل، یعنې یو به مزل کاوه، بیا به بل راکښته کېده او بل به پورته کېده، تر څو بدر ته ورسېدل.

**زده کوونکی:** ښوونکیه! والله، دا خو ډېر سخت او د ډېرې ستړیا کار دی.

**ښوونکی:** هو، دا یو لوی مشقت و، خو دا مشقت د الله په لار کې و، تر څو اسلام خپور شي او خلک د الله دین ته داخل شي. موږ باید له دې څخه زده کړه وکړو چې په دې لار کې د کار هڅې وکړو، او هر څه په برداشت کړو، د تعلیم له تکلیفونه وزغمو، ترڅو له موږ داسې خلک جوړ شي، چې خپل دین، ملت ته په ټولو برخو کې خدمت وکړو.

**زده کوونکی:** ښوونکیه! د قریشو د کاروان په اړه بیا څه وشول؟

---

(۱) ابن سعد، الطبقات الكبرى (۲/۶۰۵)

(۲) ابن هشام، السيرة النبوية (۲/۲۵۸)

**ښوونکی:** د قریشو د هغه سوداګریز قافلې مشر ابو سفیان و، مخکې له دې چې اسلام ومني. هغه هوښیار سړی و، ځکه چې هغه به د مدینې د مسلمانانو په اړه پوښتنې کولې، تر څو یې د هغوی په اړه معلومات ترلاسه کړل، چې هغوی غواړي د قریشو تجارتي کاروان ونیسي؛ نو هغه یو سړی، چې ضمضم بن عمرو الغفاري نومیده، مکې ته واستاوه چې هغوی ته ددې خبرې خبر ورکړي، او له هغوی څخه وغواړي چې بدر ته ورشي[١].

**زده کوونکی:** ښوونکیه! آیا هغه بدر ته له رسیدو وروسته قریشو ته خبر ورکړ؟

**ښوونکی:** نه. هغه د مدینې په لاره کې و، چې خبر یې ورکړ، تر څو قریش خپلې وسلې واخلي او بدر ته ورشي.

**زده کوونکی:** آیا مسلمانانو د ابو سفیان ددې کار په اړه خبر شو، او کنه؟

**ښوونکی:** نه، مسلمانانو د ابو سفیان ددې کار په اړه هیڅ خبر نه درلود، چې هغه ضمضم خپل قوم ته استولی و چې هغوی خبر کړي. کله چې پیغمبر ﷺ ووت، هغه د جګړې لپاره ونه وتو، بلکې یوازې د قریشو کاروان نیول یې غوښتل، د مسلمانانو تعداد درې سوه او نولس کسان و.

**زده کوونکی:** دا ډیره ویرونکې حالت ده، آیا ضمضم ژر قریشو ته ورسید؟

**ښوونکی:** هو، ضمضم ژر مکې ته ورسید؛ او هغوی یې له دې پلان څخه خبر کړل، قریشو یو لوی پوځ راویست، چې د هغوی مشرانو او لویانو یې مشرې کوله، یوازې ابو لهب نه و راغلی؛ نور ټول هغه څوک چې پیغمبر ﷺ او د هغه اصحابو سره به یې بد چلند کاوه، راغلل[٢].

**زده کوونکی:** آیا مسلمانانو د قریشو د راتګ خبر ترلاسه کړ چې هغوی ته تیاری ونیسي؟

**ښوونکی:** هو، پیغمبر ﷺ خبر ترلاسه کړ چې قریش د هغوی په لور روان دي؛ نو د صحابوو سره یې مشوره وکړه، ټولو صحابوو وویل: خیر دی. د صحابوو څخه ابوبکر، عمر او مقداد خبرې وکړې او ټول موافق شول چې که قریش راشي؛ نو له هغوی سره به جګړه کوي[٣].

---

(١) ابن هشام، السيرة النبوية (٢/٢٦١)

(٢) ابن هشام، السيرة النبوية (٢/٢٦٦)

(٣) ابن هشام، السيرة النبوية (٢/٢٦٨-٢٦٩)

کله چې پيغمبر ﷺ بدر ته ورسيد، ځينې صحابه يې د بدر اوبو ته واستول، چې د قريشو په اړه معلومات ترلاسه کړي، دغلته يې دوه هلکان پيدا کړل، پيغمبر ﷺ له هغوی څخه د قريشو د ځای پوښتنه وکړه، هغوی وويل چې هغوی د مسلمانانو ځای ته نږدې د ډير شګو شاته دي، هغه ځای ته العدوة القصوی ويل کيږي، چې هغه د مکې لورې ته د درې اخير و، مسلمانان د العدوة الدنيا خواته و، يعنې د مدينې لورې ته د دره په اخير کې و.

بيا پيغمبر ﷺ له هغوی څخه د مشرکانو د تعداد پوښتنه وکړه، هغوی وويل چې نه پوهيږي، خو هغوی ډير دي، پيغمبر ﷺ تري وپوښتل چې هره ورځ څو څاروي ذبح کوي، هغوی وويل، يو ځل نهه او بل ځل لس؛ نو پيغمبر ﷺ وويل: د نهه سوه او زرو کسانو ترمنځ تعداد يې دی.

**زده کوونکی:** پيغمبر ﷺ څنګه د هغوی تعداد معلوم کړ؟

**ښوونکی:** ښه پوښتنه دې وکړه. پيغمبر ﷺ پوهيده چې يو اوښ تقريبا د سلو کسانو لپاره بسنه کوي؛ نو که هغوی هره ورځ لس اوښان ذبح کوي، نو دا معنی لري چې لس اوښان زر کسانو ته کفايت کوي، او نهه اوښان نهه سوه کسانو ته کفايت کوي؛ نو د هغوی تعداد د نهه سوه او زر کسانو ترمنځ دی.

دا د پيغمبر ﷺ هوښياري ده چې په دې اړه يې فکر وکړ او معلومات يې ترلاسه کړل. موږ هم بايد سم فکر کولو کې د پيغمبر ﷺ پيروي وکړو، چې په دې سره په ټولو چارو کې حقيقتونه معلوم کړو، د خپلو ذهنونو ودې ته پام وکړو او په نيکۍ او پوهې کې يې روزنه وکړو.

**زده کوونکی:** دا يو ښکلی او لوی درس دی چې له پيغمبر ﷺ څخه مو زده کړو، خو آيا مسلمانان د خپل لږ تعداد له امله د هغوی د دې لوی تعداد څخه وويريدل؟

**ښوونکی:** نه، مسلمانان له دې نه ويريدل. ځکه چې پيغمبر ﷺ د بريا اميد ورکړی و، چې ورته ويلي و: (دا مکه ده چې تاسو ته يې د زړه ټوټې راويستلي دي)[1].

د "أفلاذ" کلمه د ځيګر ټوټه يا هغه غوښه ده چې اوږده پرې کيږي. ځيګر ذکر شوی دی ځکه چې دا د اوښانو خورا خوندورې غوښې دي؛ نو داسې ښکاري چې هغه کسان چې راغلي دي د مکې غوره مشران دي. لکه څنګه چې د اوښانو ځيګر غوره غوښه ده. د "أفلاذ أكبادها" معنی دا ده چې د مکې مشران راغلي دي، او تاسو ته يې راوړل، او دا شايد د دوی د ماتې

(١) ابن هشام، السيرة النبوية (٢/٢٦٨-٢٦٩)

لپاره د خوښۍ نښه وي. د صحابو شجاعت، په خپل رب باور، او د پیغمبر محمد ﷺ سره په څنګ کې وو، دې یې زړونه د ایمان څخه ډک کړي وو.

**زده کوونکی:** نو دا معنا چی امید ډیر مهم دی.

**ښوونکی:** هو، امید ډیر مهم دی، په ځانګړې توګه په سختو حالاتو کې، کله چې یو انسان ناروغه وي، د روغتیا امید باید ولري، ترڅو د علاج څخه ګټه پورته کړي، همدارنګه زده کوونکی امید لري چې درس زده کولی شم، او پرې پوهه شوم؛ نوکوښښ کوي، ترڅو په دې توګه د لاسته راوړنې لپاره هڅه وکړي، او کله چې څوک چې د نه پوهیدو یا د نه یادولو دعوی کوي؛ نو هغه خپل ځان تېر باسي، او کیدای شي، چې په دغه کې واقع شي.

**زده کوونکی:** پیغمبر ﷺ له قریش څخه د معلوماتو ترلاسه کولو وروسته بیا څه وکړل؟

**ښوونکی:** کله چی پیغمبر ﷺ د قریشو څخه معلومات ترلاسه کړل؛ نو الله ته په دعا شو. موږ هم باید د امید سره دعا وکړو؛ بیا کار او هڅه وکړو، لکه څنګه چې پیغمبر ﷺ وکړل. عمر بن الخطاب رضی الله عنه وايي: کله چې د بدر ورځ وه؛ پیغمبر ﷺ قریشو ته وکتل چې زر کسان وو، او خپل ملګري یې درې سوه نولس کسان وو؛ نو پیغمبر ﷺ قبلې ته مخ کړ، بیا یې خپل لاسونه پورته کړل، او خپل رب ته یې غږ وکړ: "یا الله، هغه څه چې ما ته دې وعده کړې وه، هغه پوره کړه..."[1].

**زده کوونکی:** د قریشو کاروان، چې د دوی تجارتي مالونه ورکې و، بیا څه وشول کله چې قریش راغلل؟

**ښوونکی:** ښه ده چې تاسو د دې پېښو تفصیلات تعقیبوئ، کله چې ابو سفیان پوه شو چې مسلمانان د کاروان په لور راروان دي، د کاروان لاره یې بدل کړه ترڅو ساحل ته لاړ شي، او له مسلمانانو یې مخه واړوله، مګر په دې کې لوی حکمت او لویه ګټه وه چې مسلمانانو دا کاروان له لاسه ورکړ، او د دښمن سره مخامخ شول، لکه څنګه چې تاسو ته به وروسته څرګنده شي، ان شاء الله.

**زده کوونکی:** دا ښه ده! مسلمانانو ته د قریشو د تجارتي کاروان د ترلاسه کولو، څخه د دښمن سره مخامخ کیدلو کې ډیر خیر و، الله پاک زموږ څخه زیات زموږ په خیر ښه پوهیږي.

(١) البخاری (٣/٩٠-٩١) د حدیث شمیره ده (٣٩٩٥)

**ښوونکی:** ستاسو له خوا هم ډېره ښه ده چې تاسو دا غوره پوهه ولرئ، زه به تاسو ته ووایم چې مسلمانانو ته څه وشول. الله مسلمانانو ته زر ملائکې راولیږلي چې د دښمن سره وجنګیږي.

**زده کوونکی:** ما شاء الله! په دې سره به مسلمانان د الله په اجازه بریالي کیدل.

**ښوونکی:** وروسته د پیغمبر او مسلمانانو له دعا څخه، الله هغوی ته ملائکې راولیږلې، الله مسلمانانو ته وفرمایل: ﴿إِذۡ تَسۡتَغِيثُونَ رَبَّكُمۡ فَٱسۡتَجَابَ لَكُمۡ أَنِّي مُمِدُّكُم بِأَلۡفٖ مِّنَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ مُرۡدِفِينَ ﴾ [الأنفال: ٩].

**ژباړه:** کله چې تاسو له خپل رب نه مدد غوښتلو، نو هغه ستاسو دعا قبوله کړه چې بېشکه زه مدد کوونکی یم له تاسو سره په زرو ملایکو سره، چې په یو بل پسې به راتلونکي وي.

**زده کوونکی:** ښوونکیه! مهرباني وکړئ موږ ته یې تشریح وکړئ.

**ښوونکی:** "إذ تستغیثون" یعني: کله چې تاسو د الله څخه د نصرت غوښتنه کوله، نو الله ستاسو دعا قبوله کړه، او تاسو ته یې زر ملائکې په پرله پسې ډول ولیږلې، ترڅو تاسو ته خوشحالي درکړي، او ستاسو زړونه په دې ویرونکي حالت کې مطمئن کړي. پوه شئ چې نصرت د جنګیالیو په څواک پورې تړلی نه دی، بلکې دا د الله او د جنګیالیو په مرسته او توفیق کې دی.

**زده کوونکی:** آیا مسلمانانو ملائکې په جنګ کې لیدلې؟

**ښوونکی:** شاید مسلمانانو ملائکې په جنګ کې نه وي لیدلې، مګر د دوی د جګړې او ګډون نښې او علامې یې لیدلې وي. پیغمبر ﷺ په بدر جګړه کې فرمایي: "دا جبرائیل دی چې خپل آس یې له سر څخه نیولی، او د جګړې سامان ورسره دی[1]." پیغمبر ﷺ جبرائیل ولید، لکه څنګه چې په دې حدیث کې دی. او په بل حدیث کې راغلي چې یو مسلمان په بدر جګړه کې جنګیږي، او غوښتل یې چې د مشرکینو یو سړی ووژني چې د هغه مخې ته و، نو یې د قمیچینې غږ یې واورېد، چې یو شاهسوار خپل آس ته وویل: "اقدم حیزوم" حیزوم د آس نوم و، مسلمان چې کافر ته وکتل، کافر یې مخې ته څمکه راپریوت. صحابی پیغمبر ﷺ ته خبر ورکړ، پیغمبر ﷺ وفرمایل: "ته رښتیا وایې. دا د اسمان څخه مرسته ده." یعني یو ملائکه د مسلمانانو سره په جګړه کې مرسته کوي، په دې توګه مسلمانان په بدر جګړه کې په مشرکینو بریالي شول.

---

(١) البخاری (٣/٩٠-٩١) د حدیث شمیره ده (٣٩٩٥)

**زده کوونکی:** سبحان الله القدير العظيم، چې له اسمان څخه يې ملائکې د رسول الله ﷺ او د هغه د ملګرو سره په جګړه کې د مرستې لپاره ولیږلې.

**ښوونکی:** پيغمبر ﷺ خپلو ملګرو ته د د جګړې له پیل څخه د مخه د ځینو قریش کافرو د وژنې ځایونه وښودل: "دا د پلاني د مرګ ځای دی" خپل لاس به يې په ځمکه کيښود، او "دا د پلاني د مرګ ځای دی" خپل لاس به يې په ځمکه کيښود. انس رضی الله عنه وايي: "هيڅوک له هغه ځای څخه چې رسول الله ﷺ خپل لاس کېښود بل ځای ته نه دې تللې[۱]."

**زده کوونکی:** الله اکبر. دا د پيغمبر ﷺ معجزه وه.

**ښوونکی:** هو، الله خپل پيغمبر ﷺ ته په وحي سره خبر ورکوي، لکه څنګه چې يې هغوی ته د جګړې لپاره د ملائکو د نزول په هکله خبر ورکړ. په دې جګړه کې هغه کسان مړه شول چې پيغمبر ﷺ او د هغه ملګري يې آزارول، لکه ابو جهل، او اميه بن خلف، چې ټول اويا تنه وژل شوي وو، بيا پيغمبر ﷺ امر وکړ چې د قريشو ۲۴ سرسخت کسان په يوه خرابه شوي څاه کې وغورځوي، او پاتې يې په نورو ځايونو کې وغورځوی[۲].

د بنديانو شمېر هم اويا تنه وو، پيغمبر ﷺ له هغوی څخه فديه واخيسته، چا چې فديه نشوه ورکولی، هغه به د مسلمانانو ماشومانو ته د لوست او ليک درسونه ورکوي، بيا به خوشې کيږي.

**زده کوونکی:** ښوونکيه! آيا د مسلمانانو کوم تن شهيد شو؟

**ښوونکی:** دا د مسلمانانو لومړی غزوه ګڼل کيږي، د دې بريالیتوب لويې ګټې وې چې د قريشو له تجارت څخه غوره وې.

- د قريشو د سترو ځواکمنو کسانو وژل چې پيغمبر ﷺ او د هغه ملګري يې آزارول.
- عربانو د مسلمانانو ځواک وپېژاند، او په ويره کې شول.
- مسلمانانو وپوهيدل چې د لږ شمير تعداد سره يې الله څه ډول مرسته وکړه.
- مسلمانانو ته د مشرکينو څخه ډېرې غنيمتونه په لاس ورتلل.
- شهيدان ورکول، چې دا د شهيد لپاره لويه ګټه ده.

(۱) مسلم (۳/۱۴۰۳-۱۴۰۴) د حديث شميره ده (۱۷۷۹)

(۲) مسلم (۳/۱۳۸۳-۱۳۸۵) د حديث شميره ده (۱۷۶۳)

ـ کومو صحابو چې په دې مبارکه جګړه کې برخه اخیستې وه، هغوی ته لوی ثواب او لوړه مرتبه ترلاسه کیدل، په ورځ دې قیامت د بدر والا ښنل شوي دی.

## د احد غزا:

**ښوونکی:** کله چې قریش په بدر کې ماته وخوړه، هغوی غوښتل چې خپل ځواک او حیثیت په عربو قبایلو کې بیا ترلاسه کړي. نو قریش د درې زرو کسانو سره یو پوځ تیار کړ[1]. دا غزوه د شوال میاشتې په اوومه نیټه، د هجرت نه دوه دیرش میاشتې وروسته[2]، یعني په دریم کال کې وشوه.

**زده کوونکی:** آیا رسول الله ﷺ د قریش د دې کار په اړه خبر شو؟

**ښوونکی:** هو، پیغمبر ﷺ له قریشو خبر شو، چې د مدینې په لور د جګړې لپاره راځي، پیغمبر ﷺ صحابو سره مشوره وکړه چې جګړې ته ووځي یا که په مدینه کې پاتې شي[3]. دلته موږ ګورو چې پیغمبر ﷺ خپلو اصحابو سره مشوره وکړه او یوازې پریکړه یې ونه کړه. ترڅو موږ ته وښایي چې څنګه په ټولنیزو مسایلو کې یو بل سره مشوره ورکړو. موږ د پیغمبر ﷺ له طریقې څخه زده کړه وکړو چې په ډله ییزو چارو کې مشوره وکړو او یوازې پریکړه ونه کړو.

**زده کوونکی:** پیغمبر ﷺ عاجز او خپلو اصحابو ته درناوی کاوه.

**ښوونکی:** هو، هغه ﷺ عاجز و، خپلو اصحابو ته درناوی کاوه او هغوی سره یې مینه لرله. او په همدې ډول موږ باید عاجز شو، خپلو اصحابو ته درناوی وکړو، هغوی سره مینه وکړو او همکاري وکړو.

**زده کوونکی:** ښوونکیه! بیا څه وشول؟

**ښوونکی:** پیغمبر ﷺ د مسلمانانو پوځ تیار کړ چې شمیر یې زر صحابه وو، په داسې حال کې چې د مشرکینو شمیر درې زره وو[4].

---

(۱) ابن هشام، السیرة النبویة (۷۰/۳)
(۲) ابن سعد، الطبقات الکبری (۳۶/۲)
(۳) ابن هشام، السیرة النبویة (۶۷/۳)
(٤) ابن هشام، السیرة النبویة (۶۸/۳)

**زده کوونکی:** د مسلمانانو شمیر د مشرکینو په پرتله لږ دی؟

**ښوونکی:** دا رښتیا ده، مګر الله مسلمانان د دوی د شمېر نه، بلکې د دوی په ایمان او صبر سره یې بریالي کوي، الله څرګنده کړې ده چې شل صبر کوونکی مسلمانان به دوه سوه کسانو ته ماتې ورکړي، او سل صابر کوونکي مسلمانان به د الله په اراده دوه زره کسانو ته ماتې ورکړي. لکه څنګه چې په قرآن کریم کې راغلي دي: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ حَرِّضِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ عَلَى ٱلۡقِتَالِۚ إِن يَكُن مِّنكُمۡ عِشۡرُونَ صَٰبِرُونَ يَغۡلِبُواْ مِاْئَتَيۡنِۚ وَإِن يَكُن مِّنكُم مِّاْئَةٞ يَغۡلِبُوٓاْ أَلۡفٗا مِّنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِأَنَّهُمۡ قَوۡمٞ لَّا يَفۡقَهُونَ﴾ [الأنفال: ٦٥].

**ژباړه:** ای نبی! ته مومنان (له کفارو سره) په جنګ کولو باندی تېز کړه، که چېرې په تاسو کې شل تنه صبر کوونکی وی، نو په دوه سوه کسانو به غالبه شی او که چېرې په تاسو کې سل تنه صبر کوونکی وی (، نو) په هغو زرو کسانو به غالبه شي چې کافر شوي دي، ځکه چې یقینًا هغوی داسې قوم دی چې نه پوهېږي.

**زده کوونکی:** دا د الله له خوا مسلمانانو سره مرسته ده، چې د دوی ځواک یې په صبر کې ایښی دی، ښوونکیه! دا د صبر په اهمیت دلالت کوي، آیا داسې نه ده؟

**ښوونکی:** هو، تاسو اوس ډېر ښه پوهه شوئ.

**زده کوونکی:** بیا څه وشول؟

**ښوونکی:** پیغمبر ﷺ د پوځ سره د اُحد غره په لور روان شو، په لار کې عبدالله بن اُبي بن سلول دریمه برخه خلک مدینې ته راوګرځول.

**زده کوونکی:** ولې یې دا خطرناک کار وکړ؟

**ښوونکی:** هلته منافقان وو. منافق هغه څوک دی چې په ښکاره مسلمان وي، خو په زړه کې یې کفر وي. د منافقانو مشر عبدالله بن اُبي بن سلول و، مګر د الله فضل پر مسلمانانو وو چې ځینې یې د ایمان په واسطه بیرته د مسلمانانو پوځ ته ور وګرځېدل.

د مسلمانانو سره ځینې کم عمره ځوانان وو، غوښتل یې چې له پیغمبر ﷺ سره په جنګ کې ګډون وکړي چې د ځینو عمرونه یې تر پنځلس کلنۍ کم وو.

**زده کوونکی:** ښوونکیه! آیا دوی زړور وو؟

**ښوونکی:** هو، دوی زړور وو، او د رسول الله ﷺ سره یې لوی مینه لرله، غوښتل یې چې هغه ژوندی پاتې شي او دوی د هغه پر ځای مړه شي.

**زده کوونکی: پیغمبر ﷺ د دوی سره څه وکړل؟**

**ښوونکی: پیغمبر ﷺ هغه کسان ومنل چې عمر یې پنځلس کاله و، او د چا عمر چې کم وو، هغه یې ونه منل، تر څو خطر سره مخامخ نشي. پیغمبر ﷺ سمره بن جندب الفزاري او رافع بن خدیج ومنل، دوی پنځلس کلن وو؛ او اسامه بن زید، عبدالله بن عمر بن الخطاب، زید بن ثابت، البراء بن عازب، عمرو بن حزم او اسید بن ظهیر ونه منل، دوی یې بیا د خندق په غزا کې ومنل کله چې پنځلس کلن شوي وو[1].**

**زده کوونکی:** ښوونکیه! بیا څه وشول؟

**ښوونکی: د اُحد غره سره مسلمانان له کافرانو سره مخامخ شول، هلته یو کوچنی لوړ غر و، د اُحد غره سره نږدې، پیغمبر ﷺ هلته یو شمېر غشي ویشتونکو ځای پر ځای کړل، او دوی ته یې امر وکړ چې له دې غره به نه کوزېږئ، اگر که مسلمانان یا مشرکان بریالي شي، خو تاسې به نه راکوزیږئ[2]، چې وروسته بیا دا غر د غشي ویشتونکو غر (جبل رماة) په نامه یاد شو.**

**زده کوونکی:** ښوونیکه! آیا موږ کولی شو د دې په سبب پوه شو؟

**ښوونکی: هو، دا غر لوی اهمیت لري، ځکه چې له دې ځایه په جگړه څارنه کیدله، او دواړه پوځونه د دې غره لاندې وو، او غشي ویشتونکي کولی شول له دې غره څخه مشرکان په نښه کړي؛ ځکه چې دا د دوی پر سر لوړ و. همدارنگه، د دې غره پر سر د غشي ویشتونکو شتون د مشرکانو څخه دا مهمه سیمه ساتله.**

**زده کوونکی:** دا د پیغمبر ﷺ ښه انتخاب و.

**ښوونکی: هو، دا د الله لخوا د خپل پیغمبر لپاره یو ښه انتخاب و، د جگړې په پیل کې مسلمانان بریالي شول، مگر کله چې غشي ویشتونکو د مسلمانانو بریا ولیده نو له غره کوز شول، خالد بن ولید، چې د مشرکانو د پوځ مشر و مخکې له دې چې مسلمان شي، له مسلمانانو څخه شاته دې غره ته لاړ، او له غره څخه یې په مسلمانانو باندې غشي وویشتل، ابن عباس رضي الله عنه وایي: کله چې غشي ویشتونکو دا غلطي وکړه، چې غر**

(١) ابن هشام، السیرة النبویة (٧٠/٣)

(٢) البخاري (١٠٢/٣-١٠٣)

يې پرېښود، او ښکته راکوز شول، د مشرکانو اسونه له دې ځای څخه د صحابه کرامو په منځ کې ننوتل، او ځينې يې يو بل ووهل، او ډېرى مسلمانان ووژل شول[١].

**زده کوونکی:** دا د جګړې په جريان کې د دې غره اهميت ښايي.

**ښوونکی:** هو، دا غر لوی اهميت درلود لکه څنګه چې تاسو مخکې پوهېدلي ياست. نو پيغمبر ﷺ دوی ته امر کړی و چې غر مه پرېږدئ حتى که مسلمانان بريالي هم شي، دا د پيغمبر ﷺ د خبرو په اهميت دلالت کوي، او له هغه څخه سرغړونه د هر څه په اړه په دې دنيا او اخرت دواړو کې د ماتې سبب دی؛ نو مسلمان ته لازمه ده چې چې په هر امر کې د الله او د هغه د رسول ﷺ اطاعت وکړي ترڅو په خپل ټول ژوند کې بريالی شي. همدارنګه، په يوه ډله کې د مشر او مدير اطاعت هم اړين دی ترڅو په خپلو چارو کې بريالي شي.

**زده کوونکی:** ښوونکيه! بيا څه وشول؟

**ښوونکی:** په دې جګړه کې پيغمبر ﷺ ټپي شو، غاښ يې مات شو، د رسول الله ﷺ څخه وينه روانه وه، فاطمه د رسول الله ﷺ لور، هغه وينه مينځله، او خاوند يې علي بن ابي طالب به په ټپی ځايونو اوبه تويولې[٢]، ځينې صحابه کرام د رسول الله ﷺ شاوخوا و چې د مشرکانو غشي يې پر هغه د راغورځيدو ته نه پرېښودل، اووه تنه يې شهيدان شول، چې دغه ټول صحابه د انصارو څخه وو[٣].

**زده کوونکی:** دا لوی مصيبت وو، چې پيغمبر ﷺ ته د داسې لوی حادثې سره مخ شو.

**ښوونکی:** هو، دا لوی مصيبت وو، چې پيغمبر ﷺ او د هغه صحابه کرام ورسره مخ شول، بلکې په مسلمانانو کې دا خبر خپور شو چې پيغمبر ﷺ وژل شوی دی؛ نو دا په جګړه کې مسلمانانو ته لوی غم و، د ماتې، وژل کېدو او د پيغمبر ﷺ ټپي کېدو او د هغه د مرګ د اشاعې له کبله، مسلمانان د لوی آزمايش سره مخ شول، حقيقت کې دا ستر کار وو، مګر الله هغوی او موږ لپاره دا درس وګرځولو، نن ورځ تاسې د دغې جګړې څخه درسونه اخلئ، او صحابه کرامو هم د دې واقعې څخه درسونه واخيستل.

---

(١) ابن حجر، فتح الباري (٧/٣٥٠-٣٥١)

(٢) البخاري (٣/١٠٩) د حديث شميره ده (٥٠٧٥)

(٣) مسلم (٣/١٤١٥) د حديث شميره ده (١٧٨٩)

**کله چې مسلمانانو پوه شول چې پیغمبر ﷺ ژوندی دی، نو خوشحاله شول او هغه څه يې هېر کړل چې دوی ته د وژل کېدو او ټپي کېدو او نورو شيانو له امله رسېدلي وو؛ نو د هغه ژوند د مسلمانانو لپاره یو غنیمت و چې بېرته مدينې ته راغلل.**

**زده کوونکی: هو، دا وېرونکي، خفه کوونکي او دردناک حالت وو، او په عين حال کې خوشالي ورکوونکی هم دي، ځکه چې الله زموږ پيغمبر محمد ﷺ وساتلو، او بېرته مدينې ته راغلی.**

**ښوونکی: الله په قرآن کريم کې مسلمانانو ته ډېرى شيان څرګند کړي دي ﴿وَلَا تَهِنُواْ وَلَا تَحْزَنُواْ وَأَنتُمُ ٱلْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ١٣٩ إِن يَمْسَسْكُمْ قَرْحٌ فَقَدْ مَسَّ ٱلْقَوْمَ قَرْحٌ مِّثْلُهُۥ وَتِلْكَ ٱلْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ ٱلنَّاسِ وَلِيَعْلَمَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَيَتَّخِذَ مِنكُمْ شُهَدَآءَ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٤٠ وَلِيُمَحِّصَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَيَمْحَقَ ٱلْكَٰفِرِينَ ١٤١ أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تَدْخُلُواْ ٱلْجَنَّةَ وَلَمَّا يَعْلَمِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ مِنكُمْ وَيَعْلَمَ ٱلصَّٰبِرِينَ﴾ [آل عمران: 139-١٤٢].**

**ژباړه:** او تاسو مه کمزوري کېږئ او مه غمژن کېږئ، په دې حال کې چې هم تاسو به غالبه يئ، (خو) که تاسو مومنان يئ، که چېرى تاسو ته څه زخم رسېږى، نو يقينًا (کافر) قوم ته (هم) د دې په شان زخم رسېدلى دى او دا ورځى (حادثى) دى چې مونږه يې د خلقو په مينځ کې په وار سره اړوو راړوو او لپاره د دې چې الله مومنان معلوم کړى او له تاسو څخه شهيدان واخلى او الله له ظالمانو سره مينه نه کوى، او لپاره د دې چې الله مومنان ښه پاك کړى او کافران ختم (او) نابوده کړى، ايا تاسو دا ګمان کوئ چې تاسو به جنت ته داخل شئ، حال دا چې لا تر اوسه الله په تاسو کې هغه کسان نه دي معلوم (څرګند) کړي چې جهاد يې کړى دى، او د دې لپاره چې هغه صبر کوونکي معلوم کړي.

**الله دوی د خفګان او ضعف څخه منع کړي دي، او ورته يې ويلي دي چې دوی به پر کافرانو غالب وي، هغه څه چې تاسو ته د وژل کېدو او ټپي کېدو له امله رسېدلي دي، هغه مشرکانو ته هم رسېدلي دي. او الله روښانه کړه چې کله به بريا او کله به ماتې وي.**

**الله غوښتل چې کوم څخه صحابه کرامو ته د مرګ له امله ورسيدل، له دوی څخه شهيدان ونيسي، کله څنګه چې د پيغمبر ﷺ تره حمزه او مصعب بن عمير رضی الله عنهما، او نور صحابه کرام شهيدان شول چې شمېر يې اويا شهيدانو ته رسېده[1].**

---

(۱) البخاری (۲/۱۱۰) د حديث شميره ده (۴۰۷۹)

## د بنو نضير غزا:

**ښوونکی:** په مدينه کې ځينې عرب يهوديان وو، لکه بنو نضير او بنو قريظه، پيغمبر ﷺ له يهوديانو سره يوه تړون ليکلي وه لکه څنګه چې يې مخکې موږ يادونه وکړه، په دې تړون سره يې د ښه ژوند حقوق او د دين ازادي تضمين کړې وه، ليکن د تړون په خلاف کړنې به يې بيا بيا کولې.

**زده کوونکی:** ښوونکيه! دوی ولې د هغه تړون خلاف کاوه چې د پيغمبر ﷺ سره يې کړی وو؟

**ښوونکی:** دا ځکه چې دوی په زړونو کې د پيغمبر ﷺ سره حسد لرلو، او له دې امله يې د پيغمبر ﷺ د خيانت کولو هڅه کوله، پيغمبر ﷺ له دوی څخه د دوه کسانو د ديت په ورکړه کې مرسته وغوښته. دوی وويل چې موږ به درسره مرسته وکړو، او پيغمبر ﷺ د دوی علاقې ته راغی او د يو ديوال څنګ کې کيناسته، دوی خپلو کې سره موافقه وکړه چې د کور د پاسه نه به په پيغمبر ﷺ يوه تيږه راوغورځوي، خو الله پيغمبر ﷺ ته د وحې له لارې خبر چې دوی څه پلان لري، پيغمبر ﷺ له دوی څخه لاړ[1].

**زده کوونکی:** الحمد لله رب العالمين چې زموږ پيغمبر محمد ﷺ يې له د دوی د خيانت او دوکې څخه وژغوره.

**ښوونکی:** هو، الله خپل پيغمبر ﷺ سره مرسته وکړه او هغه يې وژغوره، موږ بايد له الله څخه مرسته او ساتنه وغواړو، ځکه هغه خپل بندګان له شرونو څخه ساتي.

يوه وخت قريشو يهوديانو ته تهديد ورکړ، که چيرې له پيغمبر ﷺ سره جګړه ونه کړي، د يهوديانو ته پکار وه چې پيغمبر ﷺ د دې خبرې څخه خبر کړي، مګر يهودو د قريشو غوښتنه ومنله، او د پيغمبر ﷺ سره يې د خيانت کولو پلان جوړ کړ، پيغمبر ﷺ له دې پلان څخه خبر شو، د بنو نضير سره يې جنګ وکړ، تر دې چې له مدينې څخه يې وباسل[2]،خيبر ته لاړل، او ځينې يې شام ته لاړل[3].

**زده کوونکی:** د بنو قريظه سره څه وشول؟ آيا پيغمبر ﷺ هغوی پرېښودل؟

---

(١) ابن هشام، السيرة النبوية (٣/١٩٩-٢٠٠)

(٢) أبوداود (٣/٤٠٤-٤٠٧) د حديث شميره ده (٣٠٠٤) د حديث لنډيز راخيستل شوی.

(٣) ابن هشام، السيرة النبوية (٣/٢٠١)

**ښوونکی:** نه، هغوی يې هم پرې نه ښودل، بلکې د تړون بلنه يې ورکړه، چې خيانت او جنګ به نه کوئ، دويو ته يې څه ونه ويل[1]، ليکن دوی هم دغه تړون مات کړ، پيغمبر ﷺ ورسره جګړه وکړه، چې بيان به يې راشي ان شاءالله.

**زده کوونکی:** دا يو بد انجام وو چې دوی وسره مخ شول، ليکن دوی يې مستحق وو.

**ښوونکی:** هو، دا يو بد انجام وو چې دوی يې مستحق وو، په ځانګړې توګه ځکه چې پيغمبر ﷺ هغوی ته هيڅ ضرر نه دی رسولی، بلکې د دوی حقوق يې ساتلي دي، او بيا به هم دوی د پيغمبر ﷺ سره خيانت کوو، تاسو به فکر وي چې پيغمبر ﷺ هيڅکله په چا بريد نه دی کړی، بلکې د جګړو پيل د کافرانو لخوا شوی، لکه څنګه چې تاسو مخکې پوهه شوی، او په راتلونکو جګړو کې به روښانه شي، ان شاء الله .

## د خندق غزا:

**ښوونکی:** د احزابو غزوه د هجرت په پنځم کال کې وشوه[2].

د دې غزوې د پېښيدو لامل دا وو چې يو شمېر يهوديان د بنو نضير او بنو وائل قبيلو چې پيغمبر ﷺ له مدينې څخه ويستلي وو له قريشو سره يوځای شول او هغوی يې د پيغمبر ﷺ په خلاف جګړې ته وهڅول، د مرستې او ملاتړ وعده يې ورکړه، بيا غطفان قبيلې ته ولاړل، او د پيغمبر په خلاف د جګړې کولو بلنه يې ورکړه، چې هغوی هم ورسره ومنله.

نو قريش او ملګري يې چې ټول لس زره کسان شول؛ چې مشري يې ابو سفيان کوله، چې دغه وخت مسلمان شوی نه وو[3].

د يهوديانو او مشرکانو د مسلمانانو پر ضد يوځای کيدل او يو بل سره مرسته کولو ته تحزب وايي، يعنې د مسلمانانو سره په جنګ کولو يې توافق وکړ،له همدې امله دې غزوې ته د احزابو غزوه ويل کيږي.

**زده کوونکی:** آيا د مسلمانانو په خلاف دې يوځای کيدو او د يو بل ملاتړ کولو څخه پيغمبر ﷺ خبر و؟

---

(۱) أبوداود (۳/۴۰۴-۴۰۷) د حديث شميره ده (۳۰۰۴) د حديث لنډيز راخيستل شوی.

(۲) ابن هشام، السيرة النبوية (۳/۲۲۴)

(۳) ابن هشام، السيرة النبوية (۳/۲۲۶)

**ښوونکی:** هو، پیغمبر ﷺ خبر شو، د خپل عادت په څیر یې د صحابو سره مشوره وکړه، سلمان فارسی رضی الله عنه ورته مشوره ورکړه چې د مدینې شاوخوا به خندق وکنو[1].

**زده کوونکی:** ښوونکیه! خندق څه شی دی؟

**ښوونکی:** په مدینه کې کاڼرجن ځایونه وو، دا هغه لویې سیمې وې چې ډبرې په کې ډېرې وې، انسانان او څاروي ورکې په ارامه نشي ګرځیدلی، کې ګرځیدل ورکې اسان نه وي.

د مدینې شاوخوا ځایونه کاڼرجن وو، پرته له شمالي لویدیځې خوا څخه چې هغه کاڼرجن نه وو؛ نو مدینه له ټولو خواوو خوندي وه، پرته له دغې یوې خوا څخه، له همدې امله په دې خوا کې یې خندق جوړ کړ، خندق یوه ژوره او اوږده کنده وه چې کوم کسان غواړي چې مدینې ته ننوځي، د خندق له امله منع شي، ځکه په دې خوا کې کارجن ځایونه نه وو.

**زده کوونکی:** ښوونکیه! د سلمان فارسی رضی الله عنه له لوري دا ډېر ښه کار او ښه نظر وو.

**ښوونکی:** هو، دا یو غوره نظر و، چې د مشورې اهمیت څرګندوي. انسان باید له خپلو ملګرو او هغو کسانو سره مشوره وکړي چې ورسره کار کوي، ځکه ممکن یو له هغوی څخه داسې نظر یا نظرونه ولري چې ګټه ورڅخه واخیستل شي. له همدې امله باید موږ د مشورې زده کړه وکړو او په خپلو ځانګړو چارو کې له خپلو کورنیو او استادانو سره مشوره وکړو. او په هغو چارو کې چې موږ ته د نظر اخیستلو اړتیا وي، له دې کاره شرم ونه کړو.

قریش چې کله راغلل، د دې خلاقانه کار په لیدو حیران او په تعجب کې شول.

**زده کوونکی:** ښوونکیه! دوی دا خندق څنګه وکنستو؟

**ښوونکی:** تاسو پوهیږئ چې پخوا دلته د کنستلو وسایل او شرکتونه او کارګران نه وو لکه نن چې شته دي، بلکې دوی به پخپله کار کاوه او ساده وسایل یې کارول؛ لکه: بېلونه او کلنګونه، چې دا د لاس پخلي کولو وسایل دي، دوی خاوره پورته کوله او له خندق څخه یې ایستله، پیغمبر ﷺ هم له خپلو صحابو سره په کنستلو او خاوره پورته کولو کې برخه

---

(۱) ابن سعد، الطبقات الکبری (۲/٦٦)

اخیسته، تر دې چې ګېډه یې په خاورو ککړه شوې وه، هغه خپل صحابه تشویقول او شعرونه یې ورته ویل: "اللهم لولا أنت ما اهتدینا ولا تصدقنا ولا صلینا[۱]".

**زده کوونکی:** دا څومره ښکلي کار و، ښوونکیه! چې پیغمبر ﷺ له خپلو صحابو سره په خندق کیندلو کې برخه اخیسته، او څومره خوندر حالت به وو چې له صحابو سره دوی په ښکلو الفاظو کې شعر ویلو.

**ښوونکی:** هو، دا ښه او غوره کار دی، چې موږ ته د پیغمبر ﷺ په ګډ کار کولو کې د تقلید اهمیت راښایي. او باید له ټولو سره کار وکړو؛ او سستي ونه کړو، بلکه برخه واخلو او زیار وګالو لکه څنګه چې پیغمبر ﷺ زیار وګاله، انسان کولای شي چې د کار په وخت کې شعر ووایي ترڅو خپل ځان د ستړیا او تکلیف څخه خلاص کړي، خو باید ښکلې او خواږه الفاظ وي.

**زده کوونکی:** آیا دوی به خپلو کورونو ته تلل؟

**ښوونکی:** دوی خپلو کورونو ته نه تلل، بلکې کار یې کاوه، مګر که چا ته ضرورت او حاجت ، هغه به له پیغمبر ﷺ څخه اجازه غوښتله، بیا بیرته په چټکۍ سره راګرځېده، ځکه دوی د الله له لوري ثواب او اجر غوښتو، نو له پیغمبر ﷺ څخه به یوازې د ضرورت په وخت کې لرې کېدل، مګر دلته یو شمېر منافقان وو چې ساده کارونه به یې کول او په پټه له پیغمبر ﷺ څخه خپلو کورونو ته تلل[۲].

**زده کوونکی:** ښوونکیه! دوی به خواړه څنګه ترلاسه کول؟

**ښوونکی:** هغه وخت ژوند ډېر سخت شو، خو د هغوی قوي ایمان له امله دوی به د لوږې په وړاندې صبر کاوه، چا به د خپل لاس په اندازه اوربشې راوړې او ورته به یې خواړه تیار کړل، ان پیغمبر ﷺ به د سختې لوږې له امله په خپله ګېډه کوچنۍ ډبره تړلې وه[۳].

موږ باید د کار په وخت کې د صبر اهمیت او د پیغمبر ﷺ او صحابه کرامو صبر په یاد ولرو، موږ باید د الله په ورکړو نعمتونو شکر وباسو او الله ته شکر وکړو چې موږ ته یې د خیر او رزق مختلف ډولونه راکړي دي.

---

(۱) البخاری، (۱۱۶/۳-۱۱۷) د حدیث شمیره ده (۴۱۰۶)

(۲) ابن هشام، السیرة النبویة (۲۲۶/۳-۲۲۷)

(۳) البخاري (۱۱۵/۳-۱۱۶) د حدیث شمیره ده (۴۱۰۱)

**زده کوونکی:** رښتيا ښوونکيه! موږ په يوه لوی او عظيم نعمت کې يو، موږ بايد په هغه فضل او کرم چې په موږ يې کړی، د الله شکر وباسو.

**ښوونکی:** دغه ځای کې له پيغمبر ﷺ څخه يوه معجزه رابرسيره شوه، کله چې جابر بن عبدالله رضي الله عنهما د پيغمبر ﷺ د لوږې شدت وليد، دوی درې ورځې وې چې خواړه يې نه خوړلي وو، جابر رضی الله عنه له پيغمبر ﷺ څخه اجازه وغوښته او کور ته ولاړ، هلته يې اوربشې او يوه کوچنۍ وزه پيدا کړه، وزه يې حلاله کړه او اوربشې يې وټکولې او پخې يې کړې، بيا يې پيغمبر ﷺ ته خبر ورکړ او ويې ويل: اې د الله رسوله! ته او يو او يا دوه تنه راشئ.

خواړه يوازې درې يا څلورو کسانو ته بسنه کوله، ځکه خواړه کم و، پيغمبر ﷺ وويل: دا خواړه ډېر دي، او ښه دي، بيا يې خپل ټول صحابه کوم مهاجرين او انصار چې ورسره وو، ورته وويل: راځئ، دوی د جابر رضي الله عنهما کور ته ولاړل، پيغمبر ﷺ خپلو صحابو ته خواړه ورکول تر څو چې ټول ماړه شول، خواړه کم نشول، د دوی شمير زر تنه وو[1].

نو د دې معجزې په اړه فکر وکړئ، د الله له لوري پيغمبر ﷺ ته د خوړو زياتوالی معجزه چې ټولو ته يې خواړه ورکړل، خواړه بيا هم هيڅ کم نه شول. بيا پيغمبر ﷺ وويل: دا خواړه ډېر دي، او ښه دي، دا د اميد يو اصل دی، موږ بايد لږ څه ډېر وګڼو ترڅو د الله له لوري برکت ترلاسه کړو.

**زده کوونکی:** ښوونکيه! دا ډېرلوی کار شوی.

**ښوونکی:** هو، دا لوی کار و، خو ته الله اسان دي؛ نو موږ بايد له الله څخه په هر څه کې برکت وغواړو. که الله په يو څه کې برکت واچوي، نو هغه لوی او ډېر خير دی. نو د روغتيا، وخت، علم، مال او په هر څه کې د الله برکت وغواړئ ترڅو چې ژوند مو د الله له لوري برکتي شي.

**زده کوونکی:** والله دا لوی لوی پيښې او حالتونه دي، او د عزت دروسونه دي، لوی او سخت مشکلات او تکاليف يې وزغمل، خو ايا دوی خندق بشپړ کړ، او له هغو کفارو څه وشول چې د پيغمبر ﷺ سره يې جنګ کول غوښتل؟

**ښوونکی:** هو، دوی د خندق کيندنه يې بشپړه کړه، د مشرکانو پوځ راغی او خندق سره يې وليد چې د ورتګ لاره يې بنده ده، دوی لس زره کسان وو، او د مسلمانانو پوځ درې زره کسان وو، مدينه يې شاوخوا څخه له شل ورځو څخه ډېرې ورځې محاصره کړه، يعنې دوی

---

(۱) البخاری (۱۱۱۵/۳-۱۱۶) د حديث شميره ده (۴۱۰۲)

**د خندق په خوا کې شل ورځې تېرې کړې، هغه يې کوله چې مدينې ته ننوځي، يا ورته مسلمانان راووځي.**

**په دې سختو شرايطو کې بنو قريظه له پيغمبر ﷺ سره تړون او ميثاق مات کړ، بنو قريظه يهود په مدينه کې په عوالي کې اوسېدل.**

**زده کوونکی:** **ددې څه معنا پوه نشوم؟**

**ښوونکی:** **مسلمانان له مشرکانو سره په جګړه کې بوخت وو، او بنو قريظه د ښار دننه وو، نو احتمال و چې د مدينې په مسلمانانو، د هغوی په ښځو، ماشومانو او شتمنيو بريد وکړي. حالت ډېر حساس او سخت و. ستاسو دښمن له بهر څخه د خندق په دروازو کې و، او ستاسو دښمن له داخله يهودان وو چې د بنو قريظه له قبيلې څخه په مدينه کې و. الله د مؤمنانو حالت په سورة الأحزاب کې تشريح کړی دی، چې د دې غزا نوم دی:** ﴿إِذْ جَآءُوكُم مِّن فَوْقِكُمْ وَمِنْ أَسْفَلَ مِنكُمْ وَإِذْ زَاغَتِ ٱلْأَبْصَٰرُ وَبَلَغَتِ ٱلْقُلُوبُ ٱلْحَنَاجِرَ وَتَظُنُّونَ بِٱللَّهِ ٱلظُّنُونَا۠﴾ [الأحزاب: ۱۰].

**ژباړه:** کله چې دوی په تاسو راغلل، ستاسو له بره اړخ نه او ستاسو نه له لاندې اړخ نه او کله چې سترګې کږې او زړونه چنغړکو ته ورسېدل او تاسو په الله ګمانونه کول، قسم قسم ګمانونه.

**د پورته لورې څخه احزاب راغلل، او د لاندې لورې څخه بنو قريظه راغلل، مسلمان ددې سخت حالت څخه په ويره او پريشانۍ کې پريوتل.**

**دا ابتلاء موږ ته ښايي چې مؤمن او د هغه ايمان به ازمايل کېږي، لکه څنګه چې الله مؤمنان په دې غزا وازمايل، خو الله د مؤمنانو سره دی، کفارو ته به يې پرېنږدي، اخيري نتيجه يوازې الله ته معلومه ده.**

**پيغمبر ﷺ دعا وکړه او ويې ويل: (اللهم منزل الكتاب، سريع الحساب، اهزم الأحزاب، اللهم اهزمهم وزلزلهم)[۱].**

**ژباړه: اې الله! د کتاب نازلوونکی، چټک حساب کوونکی، دا لښکرې ناکامه کړه، اې الله ته يې ناکامه کړه، او ويې لړزوه.**

**زده کوونکی:** **دا دعا د پيغمبر ﷺ لومړۍ وسله ده، تا موږ رایاد کړل چې پيغمبر ﷺ په بدر کې هم دعا وکړه او بيا مسلمانان بريالي شول.**

---

(۱) البخاری (۱/۱۱۸) د حديث شميره ده (۴۱۱۵)

**ښوونکی:** هو، دعا د مؤمن لومړۍ وسله ده، چې په هغې سره به په دښمنانو، شیطان او هر څه باندې بریالی کیږي، نو موږ باید په هر کار کې دعا هېره نه کړو که هغه کار موږ غواړو، او یا د هغه کار څخه ویره لرو، چې هغه واقع نشي.

**ښوونکی:** پیغمبر ﷺ د بنی قریظه مسئله داسې حل کړه چې سلمه بن اسلم یې د دوه سوه کسانو سره ولیږو، او زید بن حارثه یې د درې سوه کسانو سره ولیږه، ترڅو مدینه وساتي او تکبیر ووایي[1].

کومې ډلې چې له خندق څخه شا ته وو، الله پرې ډېر سخت باد ولېږه، نو دوی نه شوای کولای چې پاتې شي، د هغوی زړونو ته ویره او ډار ورسېد، او د دوی دیگونه واوښتل، اورونه یې مړه شول د سخت باد له امله، او باد یې خیمې هم له منځه یوړې، دوی مدینه پرېښوده او وتښتېدل، الله خپل رسول او مؤمنان د باد په واسطه چې د الله له لښکرو څخه و، بریالي کړل، الله په سورة الأحزاب کې فرمايي: ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱذْكُرُواْ نِعْمَةَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ جَآءَتْكُمْ جُنُودٌ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا وَجُنُودًا لَّمْ تَرَوْهَا ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرًا﴾ [الأحزاب: ٩].

**ژباړه:** ای هغو کسانو چی ایمان یی راوړی دی! تاسو د الله هغه نعمت رایاد کړئ چی پر تاسو شوی دی، کله چی په تاسو لښکری راغلی، نو مونږ پر هغوی باندی باد او داسې لښکرې راخوشې کړې چې تاسو نه لیدلې او الله هغو کارونو لره چې تاسو یې کوئ ښه لیدونکی دی.

پیغمبر ﷺ به ویل: (لا إله إلا الله وحده، أعز جنده ونصر عبده وغلب الأحزاب وحده، فلا شيء بعده)[2].

## د بنو قريظه غزا:

**ښوونکی:** کله چې پیغمبر ﷺ له غزوه احزاب څخه راوګرځېد، خپل وسله یې کېښوده او غسل یې وکړ؛ نو جبرائیل علیه السلام پیغمبر ﷺ ته راغی او ورته یې وویل: "وسله دې کېښوده؟ په الله قسم چې ما وسله نه ده کېښودلې، ورپسې ووځه." پیغمبر ﷺ وویل: "چرته ووځم؟" جبرائیل وویل: "بنو قریظه پسې ووځه[3]."

(١) ابن سعد، الطبقات الكبرى (٦٧/٢)

(٢) البخاری (١١٨/٣) د حدیث شمیره ده (٤١١٤)

(٣) البخاری (١١٩/٣) د حدیث شمیره ده (٤١٢٢)

**د بنو قریظه غزوه د خندق غزوې وروسته د ذوالقعدې په میاشت، د هجرت په پنځم کال کې واقع شوه[۱].**

**ځینې یې ووژل شول، پیغمبر ﷺ غنیمتونه د مسلمانانو ترمنځ وویشل، ځینو یې پیغمبر ﷺ ته پناه یوړه او مسلمانان شول، او یهودان یې ټول وشړل، یعنی له مدینې څخه یې وایستل[۲].**

**زده کوونکی: دا د پیغمبر ﷺ او مسلمانانو سذره دوی د خیانت سزا وه.**

**ښوونکی: هو، خیانت یوه لویه ګناه ده، ځکه چې دوی الله، د هغه رسول او هغه تړون سره خیانت وکړ چې له پیغمبر ﷺ سره یې کړی وو؛ نو الله د جبریل علیه السلام په ملګرتیا کې د هغوی سره د جګړې امر وکړ.**

## د حدیبیې غزا:

**ښوونکی: حدیبیه د مکې شمال لویدیځ ته دوه ویشت کیلومتره لیرې یو ځاه ده، چې الشمیسي په نامه پیژندل کیږي[۳].**

**د هجرت په شپږم کال د ذي القعدې په میاشت کې، رسول الله ﷺ د عمرې لپاره له خپلو ملګرو سره ووت[٤].**

**زده کوونکی: ښوونیکه! آیا دوی له قریشو نه وېرېدل؟**

**ښوونکی: دوی باید له قریشو وېرېدلی وي، لیکن کله چې د جګړې لپاره وځي، او کله د عمرې لپاره وځي، خو جنګ کول نه غواړوې په دې دواړو کې توپیر دی، خو احتمال وو چې قریش یې بېرته راواستوي، یا ورسره جګړه وکړي، یا یې پریږدي چې بیت الله ته داخل شي. نو دا درې واړه احتمالات ممکن وو.**

**زده کوونکی: قریش څنګه پوه شي چې دوی د عمرې لپاره راځي؟**

---

(۱) ابن سعد، الطبقات الکبری (۷۴/۲)
(۲) البخاری (۹۷/۳) د حدیث شمیره ده (۴۰۲۸)
(۳) أکرم ضیاء العمری، السیرة النبویة الصحیحة (۴۲۴/۲)
(٤) ابن سعد، الطبقات الکبری (۹۵/۲)

**ښوونکی:** قریش پوهیږي چې پیغمبر ﷺ او ملګري یې د عمرې لپاره راځي ځکه چې هغوی احرام اغوستی وو، او د قربانۍ څاروي ورسره وو، چې د حرم غریبانو ته ورکړل شي، حلالیږي او ویشل کیږي. مسلمانان د مکې مکرمې په لورې ووتل چې تعداد یې شاوخوا څوارلس سوه یا لږ ډېر وو[1].

رسول الله ﷺ یو جاسوس واستاوه چې مکې ته لاړ شي او وګوري چې قریش به زموږ په وړاندې څه کوي، دا سړی د خزاعة له قبیلې څخه و، دې قبیلې به د پیغمبر ﷺ سره مرسته کوله، ددغه کس نوم بشر بن سفیان خزاعي و[2].

**زده کوونکی:** دا د پیغمبر ﷺ یو ښه کار و.

**ښوونکی:** هو، دا د احتیاط لپاره یو مهم کار دی، ترڅو د قریشو په نیت پوهه شي، چې جګړه کوي، او یا د بیت الله څخه موږ رامنع کوي. دا موږ ته په هغه کارونو کې چې موږ پرې ویریږو د احتیاط او ساتنې اهمیت ښایي.

بشر بن سفیان خزاعي پیغمبر ﷺ ته په لاره کې راغی او ورته یې وویل: "قریشو ستا په ضد کې ډېر لښکر راټول کړي دي، چې له تاسره جګړه وکړي، او یا تا د بیت الله څخه راوګرځوي[3]." یعنې یا به درسره جګړه کوي، یا به دې مکې ته داخلیدو څخه منع کوي.

**زده کوونکی:** پیغمبر ﷺ څه وکړل؟

**ښوونکی:** پیغمبر ﷺ او د هغه ملګري حدیبیې ته لاړل، او هلته یې پړاو واچولو، هلته یې اوبه وموندې، لیکن ډېرې لږې وې؛ خلکو وکارولې تر هغې چې ختمې شوې. هغوی پیغمبر ﷺ ته د تندې شکایت وکړ، دلته یوه لویه معجزه وشوه، رسول الله ﷺ یوه غشي راوویست او هغوی ته یې امر وکړ چې هغه په هغه ځای کې کېږدي چیرته چې اوبه وې؛ نو له هغه ځای څخه ډېرې اوبه راووتې، ټولو وڅښلې او اوبه یې ترې وساتلې[4].

**زده کوونکی:** دا یوه لویه نعمت وو.

---

(١) البخاری (٣/١٢٧-١٢٨) د حدیث شمیره ده (٤١٥١)

(٢) البخاری (٣/١٣١) د حدیث شمیره ده (٤١٧٨،٤١٧٩)

(٣) البخاری (٣/١٣١) د حدیث شمیره ده (٤١٧٨،٤١٧٩)

(٤) البخاری (٢/٢٧٩-٢٨٤) د حدیث شمیره ده (٢٧٣١، ٢٧٣٢)

**ښوونکی:** هو، دا هغه معجزې دي چې الله له طرفه وي، دا لوی نعمت وو، چې هغوی ته او به برابرې کړې، له ځمکې يې ورته راوويستې؛ يوازې په دې چې صحابه کرامو هغه غشی وکاراوه چې رسول الله ﷺ ورته امر کړی و، دا د الله برکتونه دي په خپل رسول ﷺ باندې چې هغه يې يو برکتناک پيغمبر جوړ کړی وو.

**زده کوونکی:** بيا وروسته څه وشول؟

**ښوونکی:** کله چې پيغمبر ﷺ او ملگري يې په حديبيه کې وو، يو سړی د خزاعة قبيلې څخه، چې بديل بن ورقاء نوميده، راغی او پيغمبر ﷺ ته يې خبر ورکړ چې قريش هم حديبيې ته راغلي دي، او هغوی به ورسره جگړه وکړي او د بيت الله څخه به يې راگرځوي. پيغمبر ﷺ ورته خبر ورکړ چې زه د جگړې لپاره نه يم راغلی، بلکې د بيت الله لپاره راغلی يم چې عمره وکړم. بيا پيغمبر ﷺ ورته وويل چې قريش د جگړې له امله برباد شوي دي، يعنې ډېر خلک يې وژل شوي دي، او هغوی ته يې دوه اختيارونه ورکړل: يا د سولې تړون وکړي او هغه ته اجازه ورکړي چې خلک د الله دين ته دعوت کړي، که دا دين په خلکو کې خپور شي، نو که کوم کسان غواړي چې په اسلام کې داخل شي، هغوی ته اجازه ورکړي، که چيرته خپور نشو، نو دا جگړه د نور لپاره بسنه کوي، او که چيرته قريش په دې اختيار موافق نه وي، نو پيغمبر ﷺ وويل (په هغه ذات مې قسم چې زما نفس يې په لاس کې دی، زه به له دوی سره په دې دين جگړه کوم تر هغې چې زما غاړه له تنې بېله شي، او الله خپل امر پوره کړي)[1]. يعنې پيغمبر ﷺ په خپل رب تبارک وتعالی قسم يادوي چې هغه به خپل دعوت نه پرېږدي، او که دوی يې پرې نه ږدي، جگړه به ورسره وکړي. د سالفتي معنی ده: تر هغه چې قتل شي، ځکه چې وژل شوي کس غاړه د بدن څخه بېله وي، هغه د هغې سالفه ده.

**زده کوونکی:** دا يو ښکلې خبرې دي، په دې کې قريشو لپاره کوم زيان نشته.

**ښوونکی:** بلکل. دا يو ښه او منصفانه وړانديز و، هغه د دې دين ته په زور او جبر باندې داخليدل نه غوښتل، بلکې دوی يې له جگړې څخه لرې کړل، او هغوی ته يې څرگنده کړه چې دې ته فکر او باور ونه کړي چې پيغمبر ﷺ به خپل الله لورې ته دعوت پرېږدي او خلکو ته به دين نه بيانوي، که څه هم دا د هغه د قتل لامل شي، بيا يې هغوی ته څرگنده کړه چې الله به خپل امر چې د هغې اراده يې کړې ده، پوره کوي.

**زده کوونکی:** ښايي قريش به د دې فکرې او وړانديز د پيغمبر ﷺ سره موافقه کړې وي؟

---

(۱) البخاری (۲/۲۷۹-۲۸۴) د حديث شميره ده (۲۷۳۱، ۲۷۳۲)

**ښوونکی:** بدیل الخزاعي هغوی ته لاړ، او د پیغمبر د دې خبرو څخه یې خبر کړل، په دې دوران کې مسلمانانو ته خبر راغی چې عثمان بن عفان رضی الله عنه وژل شوی دی، ځکه چې پیغمبر ﷺ هغه قریشو ته استولی و ترڅو خپل موقف ورته څرګند کړي، دلته د بیعت الرضوان پېښه وشوه، ټول صحابه کرام رضی الله عنهم پیغمبر ﷺ سره بیعت وکړ، پرته له یوه منافق چې له دوی سره و، هغه د خپل اوښ لاندې پټ شو، پیغمبر ﷺ خپل ښی لاس پورته کړ او وویل: دا د عثمان لپاره ده[۱]، یعنې دا د عثمان په نیابت کې بیعت ده. ده. ځکه چې هغه د پیغمبر ﷺ په ماموریت کې تللی و.

تاسو وګورئ چې پیغمبر ﷺ د هغه ملګرو چې له دوی سره به نه وو، څنګه اهتمام او پاملرنه کوله، هغه عثمان بن عفان رضی الله عنه وو چې له دیو سره نه وو، دا یو برکتي بیعت وه، پیغمبر ﷺ وویل (تاسې نن د ځمکې غوره خلک یاست)، دا لوی مقام دی، چې عثمان رضی الله عنه په کې ګډون وکړ، که څه هم هغه په ماموریت کې غائب و. الله په قرآن کې داسې ذکر کړی دی: ﴿لَّقَدْ رَضِىَ ٱللَّهُ عَنِ ٱلْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ ٱلشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِى قُلُوبِهِمْ فَأَنزَلَ ٱلسَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَٰبَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا﴾ [الفتح: ۱۸].

**ژباړه:** یقینًا یقینًا الله له مومنانو نه راضي شو کله چې دوی له تا سره د ونې لاندې بیعت کاوه، پس ده ته هغه څه معلوم وو چې د دوی په زړونو کې وو، بیا هغه په دوی اطمینان نازل کړ او دوی ته یې په عوض کې نژدې بری ورکړ.

**زده کوونکی:** ښایي قریش به د دې فکرې او وړاندیز د پیغمبر ﷺ سره موافقه کړې وي؟

**ښوونکی:** ښکاري چې قریشو دغه وړاندیز نه و منلی، نو ځکه یې عروه بن مسعود ته امر وکړ چې له پیغمبر ﷺ سره خبرې وکړي، بیا هغه خپلو خلکو ته ستون شو او له دوی څخه یې وغوښتل چې د پیغمبر ﷺ وړاندیز ومني، خو هغوی نه و منلی. بیا یوه سړي وویل: اجازه راکړئ چې زه ورشم، هغه ورغی، بیا خپلو خلکو ته ستون شو او ویې ویل: زه فکر نه کوم چې تاسو هغه د بیت الله څخه منع کړئ، قریشو د هغه دغه خبره هم ونه منله. بالاخره سهیل بن عمرو پیغمبر ﷺ ته راغی او ورسره یې خبرې وکړې او د پیغمبر ﷺ او قریشو ترمنځ د سولې تړون بیا ولیکل شو[۲].

**زده کوونکی:** د پیغمبر ﷺ او قریشو ترمنځ د سولې تړون څه و؟

**ښوونکی:** د سولې تړون ډیرې برخې لرلې:

---

(۱) البخاری (۱۹/۳) د حدیث شمیره ده (۳۶۹۸)

(۲) البخاری (۲/۲۷۹-۲۸۴) د حدیث شمیره ده (۲۷۳۱، ۲۷۳۲)

- پیغمبر ﷺ او ملګري به يې مدينې ته ستانه او عمره به نه کوي، خو راتلونکی کال ته به عمره کوي.

- هر څوک چې له قریشو څخه پیغمبر ﷺ ته راشي، حتی که هغه مسلمان هم وي، پیغمبر ﷺ به يې بېرته قریشو ته سپاري.

- هر څوک چې غواړي د پیغمبر ﷺ د تړون لاندې داخل شي، داخل دې شي، او هر څوک چې غواړي د قریشو د تړون لاندې داخل شي، داخل دې شي.

**زده کوونکی:** دا تړون خو عادلانه نه دی.

**ښوونکی:** هو، دا تړون عادلانه نه و، او دې صحابه حیران کړل چې پیغمبر ﷺ دا تړون څنګه ومنو، عمر بن الخطاب هم پیغمبر ﷺ سره په دې اړه بار بار خبرې وکړې، پیغمبر ﷺ ورته ویل: زه د الله رسول یم او د الله نافرماني نه کوم[1].

له دې خبرې څخه پوهیږو چې پیغمبر ﷺ د الله په وحی سره دا منلی و، الله ورسره دی، هغه ته لارښوونه کوي او هغه ته پوهه ورکوي. الله پوهیږي چې دا د قریشو په ګټه نه ده، بلکې د مسلمانانو په ګټه ده، که څه هم زموږ پوهه په دې اړه محدوده ده، موږ فکر کوو چې دا د مسلمانانو په ګټه نه ده.

**زده کوونکی:** ښوونکیه! دا څنګه د مسلمانانو په ګټه دی؟موږ ته يې تشریح کړه.

**ښوونکی:** له دې پرېکړې وروسته به داسې یوه پېښه وشي چې ددې تړون حقیقت به روښانه کړي، قریش به دې ته اړ شي، چې دا تړون پرېږدي، او یا يې مات کړي، کله به چې یو څوک له قریشو څخه مسلمان شو او د دې پرېکړې له امله به يې نشو کولای پیغمبر ﷺ ته لاړ شي، یو په بل پسې رایوځای کېدل، چې یو پیاوړې ډله ترې جوړه شوه، د مکې او مدينې په لار کې به يې د قریشو تجارتي کاروان ته ضرر رسو، قریش له دې کاره پریشانه شول، پیغمبر ﷺ ته راغلل غوښتنه يې ترې وکړه چې دا شرط چې څوک له قریشو څخه مسلمان شي، هغه به بېرته قریشو ته سپاري، دا شرط لرې کړي. قریشو وویل: هغو ته اجازه ورکړئ چې ستاسې سره پاتې شي. ایا دا بریا نه ده؟

**زده کوونکی:** هو، دا د مسلمانانو او د پیغمبر ﷺ بریا ده چې هغوی راغلل او د دې شرط لرې کېدل يې غوښت.

---

(۱) البخاری (۲/۴۷۹-۴۸۴) د حدیث شمیره ده (۲۷۳۱، ۲۷۳۲)

**ښوونکی:** د سولې له تړون وروسته پیغمبر ﷺ خپل سر و خریلو او قرباني یې وکړه، صحابه کرامو هم همداسې وکړل، ځکه هغوی له مدینې څخه د عمرې په نیت احرام تړلی و. بیا هغوی مدینې ته ستانه شول، د حدیبیې صلح د مسلمانانو لپاره بریا وه، ځکه قریشو په دې اړه فکرمند شول، د مسلمانانو شمیر زیات شو او پیغمبر ﷺ له جنګ څخه په امن شو، د سولې په دې موده کې د مسلمانانو شمیر دوه چنده زیات شو[۱]، بلکې کله چې پیغمبر ﷺ مدینې ته راروان و، سورة الفتح نازل شوه: ﴿إِنَّا فَتَحۡنَا لَكَ فَتۡحٗا مُّبِينٗا﴾ [الفتح: ١].

**ژباړه:** بېشکه مونږ تا ته فتح درکړې ده، ښکاره فتح.

**بیا پیغمبر ﷺ دا سورت صحابه کرامو ته ولوست، یو انصاري وپوښتل: ایا دا فتحه ده؟ پیغمبر ﷺ وفرمایل: هو، په هغه ذات قسم چې د محمد ﷺ نفس په لاس کې دی، دا فتحه ده[۲].**

**زده کوونکی:** ډېر ښه او ناشنا ښوونکیه! چې د مسلمانانو شمیر دوه چنده زیات شو.

**ښوونکی:** هو، د مسلمانانو شمیر ډېر زیات شو، او دا زموږ د پیغمبر ﷺ د نبوت دلیل دی، چې زموږ عقلونه هر څه نه شي درک کولی، نو موږ باید له الله څخه مرسته وغواړو، او هغه څخه د پوهي او سمې لار غوښتنه وکړو.

## د خیبر غزا:

**ښوونکی:** بنو النضیر د مدینې څخه د پیغمبر ﷺ لخوا ویستل شوي وو، نو خیبر ته ولاړل، او ځینې یې شام ته لاړل[۳]، خیبر یو لوی ښار وو چې ډېرې کلاګانې او بڼونه یې درلودل.

**زده کوونکی:** ښوونکیه! کلاګانې څه معنی لري؟

**ښوونکی:** کلا لوړ او اوږد دیوال دی چې د ښار شاوخوا جوړ شوی وي، له دې دیوال څخه یواځې د دروازو له لارې دننه کیدای شي، چې دا دروازې د شپې لخوا تړل کیږي، ممکن د یو ښار لپاره څو کلاګانې وي، د ښار هر لورې ته یوه کلا وي چې دیوال ترې راتاو وي، د

---

(١) ابن هشام، السيرة النبوية (٣/٣٣٦-٣٣٧)

(٢) ابن هشام، السيرة النبوية (٣/٣٣٢)

(٣) ابن هشام، السيرة النبوية (٣/٢٠١)

مثال په ډول یو کلا وي چې د ښار یوه برخه یې رانیولې وي، لکه ختیځه برخه، بیا بله کلا وي، چې بله برخه یې رانیولي وي، او همداسې نور.

د اووم کال د محرم په میاشت کې پیغمبر ﷺ خیبر ته ولاړ[1]، یهودانو په غزوه احزاب کې چې د خندق غزوه هم بلل کیږي، مشرکینو ته د مسلمانانو په مقابل کې د جګړې کولو هڅونه ورکړې وه.

**زده کوونکی:** ایا د مسلمانانو او د خیبر اوسیدونکو ترمنځ جګړه وشوه؟

**ښوونکی:** هو. مسلمانان خیبر ته ورسیدل او پیغمبر ﷺ هغوی محاصره کړل[2].

**زده کوونکی:** د محاصرې څه معنی ده؟

**ښوونکی:** محاصره دا معنی لري چې پوځ د ښار یا کلي شاوخوا ودریږي خلکو ته د ښار څخه د وتلو یا دننه کیدو اجازه نه وي.

د خیبر کې کلاګانې ډېرې وې؛ مسلمانانو یو په بل پسې محاصره کولې، کله به یې چې یو کلا فتحه کړه، بلې ته به یې مخه کړه، د یوې کلا فتحه ډېره ستونزمنه شوه؛ نو پیغمبر ﷺ وویل: "سبا دا بیرغ یو داسې سړي ته ورکوم چې الله به پر هغه فتحه راولي، هغه الله او پیغمبر ته ګران دی، او هغه ته هم الله او رسول ګران دي[3]."

**زده کوونکی:** دا ددې صحابي لپاره یو لوی مقام دی چې الله او رسول ورسره محبت کوي.

**ښوونکی:** هو، دا لوی مقام دی او د پیغمبر ﷺ له خوا د هغه صحابي لپاره یو لوی شهادت دي، صحابه په دې شپه فکر کولو چې دا لوی نصیب به د وي، هر یو یې دا ارزو کوله چې دا تن دې زه شم.

**زده کوونکی:** ښوونکیه! نو هغه کوم صحابي و؟

**ښوونکی:** سهار پیغمبر ﷺ وویل: "علي بن ابي طالب چیرته دی؟" چا وویل: "اې د الله رسوله ! د هغه د سترګو تکلیف لري[4]."

**زده کوونکی:** ښوونکیه! بیا څه وشول؟ ایا بل صحابي ته ورکړل شوه؟

---

(۱) ابن هشام، السيرة النبوية (۳/۳۴۲)

(۲) البخاري (۳/۱۳۴-۱۳۵) د حدیث شمیره ده (۴۱۹۶)

(۳) البخاري (۳/۱۳۷-۱۳۸) د حدیث شمیره ده (۴۲۱۰)

(٤) البخاري (۳/۱۳۷-۱۳۸) د حدیث شمیره ده (۴۲۱۰)

**ښوونکی:** پیغمبر ﷺ وویل:"هغه راوغواړئ." کله چې علي بن ابي طالب ﷺ راغی، پیغمبر ﷺ د هغه په سترګو باندې خپلې لاړې ووهلې او دعا يې ورته وکړه؛ نو هغه ورغ شو لکه په سترګو يې چې هيڅ نه وي شوي[۱].

**زده کوونکی:** دا معجزه ده ښوونکیه؟

**ښوونکی:** هو، دا د الله لخوا یوه معجزه وه چې پیغمبر ﷺ ته ورکړل شوه.

**زده کوونکی:** بیا څه وشول؟

**ښوونکی:** علي بن ابي طالب رضي الله عنه د مسلمانانو د پوځ مشري کوله، او هغې کلا ته لاړ، د دښمن سره وجنګيد، د کلا لویه دروازه چې ډېرو خلکو نشوه پورته کولې، هغه يې په یوازې ځان پورته کړه، په داسې حال کې د ښمن په مقابله کې يې د خپل ځانه دفاع هم کوله، تر هغې پورې وجنګيد چې دغه کلا الله ددې په لاسونو فتحه کړه، او دروازه يې په ځمکه وغورځوله[۲].

**زده کوونکی:** دا دا معنی لري چې علي رضي الله عنه ډېر ځواکمن و.

**ښوونکی:** هو، علي رضي الله عنه یو زړور او ځواکمن سړی و، خو الله هغه مهال د هغه ځواک زیات کړ.

موږ باید الله او رسول سره مینه وکړو چې الله او رسول موږ سره مینه وکړي، او که الله موږ سره مینه وکړي نو زموږ زور، اوریدل، ليدل، پوهه، زده کړه بلکې په هر ښه کار کې به مو مرسته کوي.

**زده کوونکی:** ښوونکیه! کله چې پیغمبر ﷺ او مسلمانانو فتحه ترلاسه کړه، بیا څه وشول؟

**ښوونکی:** کله چې د خيبر اوسيدونکې په جګړه کې د شکست سره مخ شول، پیغمبر ﷺ د خيبر څخه ونه ويستل، بلکه پرېښودل يې چې په ښار کې پاتې شي او زراعت وکړي، په دې شرط چې نیمه حاصلات به د مسلمانانو وي.

---

(۱) البخاری (۳/۱۳۷-۱۳۸) د حدیث شمیره ده (۴۲۱۰)

(۲) ابن هشام، السیرة النبویة (۳/۳۴۹-۳۵۰)

کله چې د فدک خلک خبر شول چې د خيبر خلکو سره څه وشول، هغوی له پيغمبر ﷺ څخه وغوښتل چې له دوی سره هم همدا شان معامله وکړي، او پيغمبر ﷺ يې غوښتنه ومنله.

په دې غزوه کې زينب بنت الحارث پيغمبر ﷺ ته يوه پخه شوې پسه ډالۍ کړ او د هغه پسه په لاس کې زهر اچولې وو، هغه پوهه شوې وه چې پيغمبر ﷺ د لاس غوښه خوښوي[۱].

**زده کوونکی:** دا ډېر بد کار دی ښوونکيه! پيغمبر ﷺ ورسره څومره ښه چلند کړی و.

**ښوونکی:** هو، دا ډېر بد کار و چې پيغمبر ﷺ ته يې زهر ورکړل. پيغمبر ﷺ د لاس يوه برخه وخوړله او ناڅاپه يې له خولې څخه واچوله، په دې وخت کې ورسره بشر بن البراء هم و چې هغې وخوړله، پيغمبر ﷺ وويل: "دا هډوکی ما ته وايي چې زه زهرجن يم[۲]."

**زده کوونکی:** الله اکبر. دا لوی کار دی چې هډوکی پيغمبر ﷺ ته وايي چې زه زهرجن يم.

**ښوونکی:** هو، الله دا هډوکی ته الهام ورکړ چې پيغمبر ﷺ ته دا ووايي، خو بشر رضي الله عنه چې دا وخوړو، هغه مړ شو.

**زده کوونکی:** پيغمبر ﷺ له دې ښځې سره بيا څه وکړل؟

**ښوونکی:** پيغمبر ﷺ ښځه راوغوښته او هغې نه يې پوښتنه وکړه چې ولې يې دا کار کړی و. هغې وويل: "ما دا ځکه وکړل چې تا زما قوم سره جګړه کړې، نو که ته يو پاچا يې زه به دې وژنم او که پيغمبر يې نو الله به درته خبر درکړي." پيغمبر ﷺ هغه بيا وبښله.

**زده کوونکی:** پيغمبر ﷺ هغه وبخښله، حال دا چې هغې غوښتل چې هغه د زهرو په واسطه ووژني، دا لوی اخلاق دي.

**ښوونکی:** هو، پيغمبر ﷺ د لوی اخلاقو خاوند و، هغه هر چا ته معافي کوله. موږ هم بايد د پيغمبر ﷺ اخلاق خپل کړو او د هغه لارښوونې تعقيب کړو.

---

(۱) ابن هشام، السيرة النبوية (۳/۳۵۲-۳۵۳)

(۲) ابن هشام، السيرة النبوية (۳/۳۵۲-۳۵۳)

## پاچاهانو او اميرانو ته د پيغمبر ﷺ ليکونه:

**ښوونکی:** کله چې پيغمبر ﷺ د حديبيې له سولې وروسته مدينې ته راستون شو، نو ځينې صحابه کرامو ته يې ليکونه ورکړل چې هغوی يې پاچاهانو او امراء ته ورسوي او هغوی يې اسلام ته راوبلل، له هغو څخه نجاشي د حبشې پاچا، هرقل د روم پاچا، کسری د فارس پاچا، مقوقس د اسکندريې حاکم، او نورو پاچاهانو او امراء ته ليکونه واستول[1].

**زده کوونکی:** ايا هغوی په عربي ژبه خبرې کولی شوې؟

**ښوونکی:** پيغمبر ﷺ ځينې صحابه کرام هغو پاچاهانو او امراء ته واستول، هر يو يې د هغه قوم په ژبه خبرې کولی شوې، دا معنی چې هغوی د هغو سيمو ژبه زده کړې وه، کله چې پيغمبر ﷺ ته وويل شول چې پاچاهان او امراء پرته له مهره ليکونه نه مني، پيغمبر ﷺ د سپينو زرو يو مهر جوړ کړ او په درې کرښو کې يې پرې وليکل"محمد رسول الله"[2].

**زده کوونکی:** دا ډېر ښه وه، چې ځينې صحابه کرامو د هغو سيمو ژبې زده کړې وې.

**ښوونکی:** تاسو مخکې وپوهيدئ چې هغه وخت د ليک او لوست وړ کسان ډېر لږ وو، او وګورئ چې څنګه د پيغمبر ﷺ په وخت کې علم پرمختګ وکړ تر دې چې ځينې صحابه کرامو د هغو سيمو ژبې زده کړې، دا د دې لپاره چې دين اسلام علم ته او د نورو خلکو ژبو زده کولو ته هڅونه کوي، ترڅو هغوی ته دين اسلام د هغوی په ژبه بيان کړو.

## عمرة القضاء:

**ښوونکی:** کله چې په حديبيه کې د پيغمبر ﷺ او د قريشو کافرانو ترمنځ سوله وشوه، توافق وشو چې پيغمبر ﷺ به مدينې ته پرته له عمرې کولو، ستنيږي، او په راتلونکي کال کې به عمره وکړي چې اووم کال و. پيغمبر ﷺ او صحابه کرام هغه عمره ترسره کړه چې ناتمامه پاتې شوې وه، او صحابه کرام چې په حديبيه کې د مشرکينو له خوا منع شوي وو، هغه او نور صحابه هم ورسره وو، چې د دوی شمير دوه زره کسان وو[3].

---

(۱) ابن سعد، الطبقات الکبری (۱/۲۵۸-۲۹۱)

(۲) ابن سعد، الطبقات الکبری (۱/۲۵۸)

(۳) ابن سعد، الطبقات الکبری (۲/۱۲۰) وابن هشام، السيرة النبوية (۴/۱۲)

**زده کوونکی:** سبحان الله! د حدیبیې په سوله کې د صحابه کرامو شمیر څوارلس سوه وو، او په یوه کال کې یې شمیر دوه زره شو، دا د الله مرسته وه.

**ښوونکی:** ښه نتیجه مو ترلاسه کړه، ددې برسیره چې ځینې صحابه وفات شول او ځینې په خیبر کې شهیدان شول.

**زده کوونکی:** ښوونکیه! له دې وروسته بیا څه وشول؟

**ښوونکی:** کله چې قریش له دې خبرې خبر شول، د مسلمانانو په اړه یې وویل: سبا به درته یو قوم راشي چې د تبو په واسطه ضعیف شوي دي، نو د حجر اسود په خوا کې ناست وو. پیغمبر ﷺ صحابه کرامو ته امر وکړ چې درې گردشونه په پهلوانۍ سره وکړئ، او د دوه رکنونو ترمینځ عادي روان شئ[1].

**زده کوونکی:** ښوونکیه! ایا دې پهلوانۍ څه لامل وو؟

**ښوونکی:** هو. تر څو قریش پوه شي چې دوی قوي دي؛ نه لکه څنگه چې وایي: د تبې له امله کمزوري شوي دي. نو د طواف په لومړیو درې گردشونو کې پهلواني کول سنت دي. موږ له دې څخه دا هم زده کولی شو چې باید د دښمن په وړاندې په قوي بڼه راڅرگند شو، ترڅو هغوی وډار شي. همدارنگه موږ باید د خپلو جسمونو ځواکمنتیا ته هم پاملرنه وکړو.

**زده کوونکی:** ایا قریش وفادار وو، پیغمبر ﷺ او صحابه کرامو ته یې کوم زیان ونه رساوه؟

**ښوونکی:** پیغمبر ﷺ درې ورځې په مکه کې پاتې شو، بیا هغوی له پیغمبر ﷺ څخه وغوښتل چې ووځي، نو پیغمبر ﷺ ووت[2]، په دې عمره کې د مسلمانانو او مشرکینو ترمنځ هیڅ هم پیښ نشول.

(۱) مسلم (۹۲۳/۲) د حدیث شمیره ده (۱۲۶۶)

(۲) البخاري (۱۴۴/۳) د حدیث شمیره ده (۴۲۵۲)

## د مکې فتحه:

**ښوونکی:** د حديبيې د سولې په تړون کې يو شرط دا وو، چې څوک غواړي د پيغمبر ﷺ په تړون او عهد کې داخل شي، هغه کولی شي داخل شي، او که څوک غواړي چې د قريشو په تړون او عهد کې داخل شي، هغه هم کولی شي چې داخل شي.

**زده کوونکی:** ښوونکيه! د "دوی په تړون او عهد کې داخل شي" څه معنی لري؟

**ښوونکی:** دا معنی لري: که څوک غواړي چې د پيغمبر ﷺ ملګری شي، د هغه په صف کې شي، د پيغمبر ملګرتيا، مرسته او حمايت کوي، اجازت دی ورته، او څوک غواړي د قريشو سره ملګری شي، هغې ته هم اجازت دی.

بنو بکر قبيله د قريشو، او خزاعه قبيله د پيغمبر ﷺ سره يوځای شوه، په دې منځ کې د بنو بکر قبيله په خزاعه بريد وکړ، چې ځينې قريشيان هم ورسره ملګري وو.

په دې بريد کې د بنو بکر او قريشو له خوا په خزاعه بريد کول د سولې ماتول و، دلته بُديل بن ورقاء د بنو خزاعه له يو هيئت سره پيغمبر ﷺ ته راغی او هغه ته يې د بنو بکر د بريد او د قريشو د ملاتړ په اړه خبر ورکړ[1].

**زده کوونکی:** پيغمبر ﷺ ورته څه وويل؟

**ښوونکی:** پيغمبر ﷺ هغوی ته د ملاتړ او دفاع ژمنه ورکړه، ځکه چې د اسلامي اخلاقو څخه د مواثيقو درناوی دی، چې يو د هغې څخه د سولې ميثاق او تړون دی، همدارنګه د اسلامي اخلاقو څخه د هغو خلکو ملاتړ کول دي چې د مسلمانانو په عهد او تړون کې داخل شوي وي، هيڅکله به يې نه شرموي، ځکه چې اسلام د وفا دين دی، له دې امله موږ بايد د دولت له خوا د مسلمانانو او غير مسلمانانو سره د مواثيقو درناوی وکړو.

**زده کوونکی:** ايا پيغمبر ﷺ له هغوی سره جګړه وکړه؟

**ښوونکی:** پيغمبر ﷺ د وينې تويولو سره مينه نه درلوده، نو قريشو ته يې درې انتخابونه وړاندې کړل. يا به د بنو خزاعه د وژل شويو خلکو ديت ورکوئ، يا به د بنو بکر سره تړون ختموئ، کنه بيا به پيغمبر ﷺ له تاسو سره جګړه کوي؟

---

(١) ابن هشام، السيرة النبوية (٤/٣١-٣٢) وابن حجر، فتح الباری (٧/٥١٩-٥٢٠)

**زده کوونکی:** په الله قسم دا انتخابونه د هغوی او د خزاعه لپاره عادلانه دي، چې د وژل شویو خلکو دیت ورکړي، ښايي دوی د دیت ورکړه ومني ځکه چې دا يې له جګړې څخه منع کوي او هغوی ته سوله راوړي.

**ښوونکی:** دا ستاسو ښه نظر دی، خو قريشو غوښتل چې ځانونه په ځواکمنه ښه وښايي، نو دیت ورکړه يې ونه منله، او د بنو بکر له تړون څخه يې بيرته تګ هم ونه منو، بلکې جګړه يې غوره کړه.

پيغمبر ﷺ خلکو ته امر وکړ چې د قريشو سره د جګړې لپاره چمتو شي، او الله څخه يې دعا وکړه: "ای الله! د قريشو جاسوسان او خبر ورکوونکی ونيسه، ترڅو پخپله سيمه کې پرې موږ غالبه شو" نو خلکو ځانونه چمتو کړل(۱).

**زده کوونکی:** د "خذ العيون والاخبار" څه معنی ده؟

**ښوونکی:** معنی دا ده چې قريشو ته مه پرېږده چې زموږ راتګ وپېژني، د هغوی جاسوسان چې موږ ويني او خبر ورکوي، بند کړه، ترڅو هغوی زموږ له راتګ څخه بې خبره وي.

دا موږ ته د دعا اهميت ښايي، ځکه که زموږ سره د الله مرسته نه وي، موږ هيڅکله نشو کولی کوم څه چې غواړو، ترلاسه يې کړو؛ نو هر څه چې ترلاسه کول يې غواړو، يا له هغې ويريږو، چې ځانونه ترې وساتو، بايد دعا وغواړو.

**زده کوونکی:** پيغمبر ﷺ کله د قريشو سره د جګړې لپاره روان شو؟

**ښوونکی:** پيغمبر ﷺ د هجرت اتم کال پوره شوی وو، په نيمايي کې د رمضان په مياشت کې له مدينې څخه روان شو، چې هجرت نهم کال نيمايي کې و، چې هغه سره لس زره مسلمانان وو(۲).

**زده کوونکی:** ماشاءالله، د مسلمانانو شمير د حديبيې په سولې کې د مسلمانانو د شمير چې شاوخوا يو نيم زر کسان وو، مقايسه شی دا تعداد ډير زيات دی، ښوونکيه! آيا دا سمې سمه نه دی؟

**ښوونکی:** تاسو ښه مقايسه وکړه، د حديبيې په سولې کې د مسلمانانو شمير څه باندې يو نيم زر و، او دا زياتوالی په شاوخوا دوه کلونو کې شوی، ځکه چې د حديبيې سوله د ذی

---

(۱) ابن هشام، السيرة النبوية (۴/۳۹-۴۰)

(۲) ابن القيم الجوزية، زاد المعاد (۳/۴۳۳-۴۳۴)

القعدې میاشتې په په شپږم کال کې شوې وه، دا د دې ثبوت دی چې خلک ډلې ډلې د الله دین ته داخلېدل، کله چې د پیغمبر صداقت، د دین لوی عظمت او ښکلا ویني. موږ ته لازمه ده چې دې دین ته ژمن پاتې شو؛ او په ښه ډول نورو ته وښایو ترڅو دوی په اسلام کې داخل شي او د اسلام ښکلا په عباداتو او اخلاقو کې هم ویني.

**زده کوونکی:** ښوونکیه! مسلمانان په رمضان کې را ووتل، ایا دوی روژه نیولې وه که یې نه وه نیولې؟

**ښوونکی:** ډېر ښه پوښتنه مو وکړه، دا ښایي چې درس ته مو پام دی.

کله چې پیغمبر ﷺ او مسلمانان مکې ته روان شول، او کدید ته ورسیدل، چې دغلته د عسفان او قدید ترمنځ اوبه وې، پیغمبر ﷺ روژه ماته کړه، صحابو هم ورسره روژه ماته کړه[1].

ابن عباس رضی الله عنهما وایي: "رسول الله ﷺ په رمضان کې سفر وکړ تر څو عسفان ته ورسید، بیا یې د اوبو یو لوښی راوغوښت، په رڼا ورځ یې اوپه وڅښلې تر څو صحابه یې ووینې، روژه یې ماته کړه آن تر دې چې مکې ته ورسید[2]."

دا موږ ته ښایي چې مسافر کولی شي روژه ماته کړي، او وروسته به یې قضا راوړي، همدارنګه دا موږ ته ښا یي چې د اسلام دین د رحمت دین دی، نه د سختۍ دین دی. نو ځکه علماء وایي: "سختۍ اسانې راولي." دا قاعده یې له دیني نصوصو څخه استخراج کړې ده.

**زده کوونکی:** په رښتیا ښوونکیه! دا د رحمت دین دی، د سختۍ دین نه دی، زه اسلام دین ډېر خوښوم.

**ښوونکی:** کله چې قریش د پیغمبر ﷺ د راتګ خبر ترلاسه کړ، څه کسان یې ولېږل تر څو خبر راوړي، ابو سفیان بن حرب له یو څو کسانو سره بهر ووت، هڅه یې کوله چې د پیغمبر ﷺ د راتګ خبر ترلاسه کړي، مکې ته نږدې سیمه چې (مر الظهران) نومیږي، هلته ابو سفیان د مسلمانانو د پوځ کمپ ولید.

**زده کوونکی:** کله چې یې د مسلمانانو پوځ ولید، څه یې وکړل؟ ایا بېرته قریشو ته ستون شو چې هغوی ته خبر ورکړي؟

---

(١) البخاری (١٤٨/٣) د حدیث شمیره ده (٤٢٧٦)

(٢) البخاري (١٤٨/٣) د حدیث شمیره ده (٤٢٧٩)

**ښوونکی:** نه، د مسلمانانو د پوځ ساتونکي هلته وو، او د دوی دنده د پوځ ساتنه وه، نو د مسلمانانو د پوځ ساتونکو ابو سفیان او هغه څوک چې ورسره وو ونیول، او دوی یې پیغمبر ﷺ ته بوتلل.

**زده کوونکی:** دا ښه نظم دی، چې ساتونکي یې ټاکلي وو، خو پیغمبر ﷺ له ابو سفیان سره څه وکړل؟ ایا هغه یې وواژه او که بندی یې کړ؟ یا څه یې ورباندې وکړل؟

**ښوونکی:** مور د پیغمبر ﷺ د سیرت څخه زده کړل چې د پیغمبر موخه د خلکو وژل نه دي، او نه هم د هغوی په وړاندې بریا ترلاسه کول دي، بلکې د پیغمبر موخه دا ده چې خلک له کفر او د جهنم له اور څخه وژغوري، ترڅو اسلام ته داخل شي؛ نو ابو سفیان اسلام قبول کړ[1]، کوم کسان چې ورسره وو لکه حکیم بن حزام او بدیل هغوی هم اسلام قبول کړ[2].

پیغمبر ﷺ بیا وویل: "څوک چې د ابو سفیان کور ته ننوځي هغه به په امن کې وي، څوک چې د خپل کور دروازه وتړي او په کور کینې هغه به په امن کې وي، او څوک چې کعبې ته ننوځي هغه به هم په امن کې وي[3]." نو که د پیغمبر ﷺ موخه د خلکو وژل وای، نو دا خبرې به یې نه وې کړې.

**زده کوونکی:** رښتیا ښوونکیه! ټول واقعات چې مور زده کړل، هغه د نبوي منهج او تګلارې تصدیق کوي.

**ښوونکی:** بیا نبوي لارښوونې صادرې شوې چې بیرغ یې په حجون کې ودرول شي[4]، او پیغمبر ﷺ د فتحې په کال کې د مکې له لوړې برخې، له کداء څخه داخل شو[5]، چې دا د مکې مکرمې جنوب ختیځ لورې دی، خپل پوځ ته یې امر وکړ چې خپلې لاسونه بند وساتي، یوازې له هغو کسانو سره جګړه وکړي چې ورسره جګړه کوي[6].

دا کار مور ته ښايي چې د پیغمبر ﷺ موخه جګړه نه ده تر څو چې څوک ورسره جګړه ونه کړي، او جګړه یوازې د هغو کسانو په وړاندې وي چې له مسلمانانو سره جګړه کوي تر څو د خپلو ځانونو څخه دفاع وکړي.

---

(١) البخاري (١٤٩/٣) د حديث شميره ده (٤٢٨٠)

(٢) ابن حجر، فتح الباري (٧/٨)

(٣) ابن هشام، السيرة النبوية (٤٦/٤)

(٤) البخاري (١٤٩/٣) د حديث شميره ده (٤٢٨٠)

(٥) البخاري (١٥١/٣) د حديث شميره ده (٤٢٩٠) او د حديث شميره ده (٤٢٩١)

(٦) ابن حجر، فتح الباري (١٠/٨)

**زده کوونکی:** د اسلام دا لوړ اخلاق ډېر ښکلي دي، خو ایا چا برید وکړ، جګړه وشوه؟

**ښوونکی:** جګړه د جګړې په څېر ونه شوه، بلکې الله قریش له مسلمانانو د پوځ له شمیر څخه وویرول، پیغمبر ﷺ خپلو قوماندانانو ته امر وکړ چې جګړه پیل نه کړي، کله چې پیغمبر ﷺ د وسلو ځلا ولیده، ویې ویل: "ایا تاسې ما د جګړې څخه منع نه کړئ؟" وویل شول: خالد بن الولید جګړه وکړه؛ نو ځکه موږ جګړه وکړه. ویې ویل: "د الله پریکړه غوره دی[1]."له قریشو یوازې څلرویشت کسان وژل شوي وو، او د هذیل قبیلې څخه څلور کسان[2]، او د مسلمانانو څخه یوازې د خالد بن الولید د اسونو څخه یوازې دوه کسان وژل شوي وو[3].

دا ثبوت دی چې د پیغمبر ﷺ موخه د خلکو وژل او د وینو تویول نه دي، بلکه موخه یې د دې دین له لارې په خلکو رحم کول دي، تر څو په دین کې داخل شي، جنت ته لاړ شي.

**زده کوونکی:** پیغمبر ﷺ له قریشو سره څه وکړل کله چې مکې ته داخل شو؟

**ښوونکی:** د مکې خلکو ته یې ښننه وکړه، سره له دې قریشو د پیغمبر او د هغه د ملګرو سره په مکه څه وکړل، او بیا یې په مدینه کې ورسره جګړه وکړه، پیغمبر ﷺ هغوی ته وویل: "اې د قریشو خلکو! تاسو څه فکر کوئ چې زه به له تاسو سره څه وکړم؟" هغوی وویل: "ښه به وکړې، ته زموږ یو ښه ورور یې او د ښه ورور زوی یې." پیغمبر ﷺ ورته وویل: "لاړ شئ، تاسو آزاد یاست[4]."

**زده کوونکی:** ګرانه ښوونکیه! د "تاسو آزاد یاست" څه معنی ده؟

**ښوونکی:** یعنی تاسو آزاد یاست، زه له تاسو څخه هیڅ نه غواړم، پیغمبر ﷺ کولی شول چې څوک ووژني، او له هغوی څخه پیسې وغواړي، لیکن دا د پیغمبر اخلاق نه وو، ځکه چې هغه د رحمت او هدایت پیغمبر دی.

**زده کوونکی:** ښوونکیه! بیا څه وشول؟

**ښوونکی:** خلک د ابو سفیان کور ته لاړل، ځینو خلکو خپلې د کور دروازې وتړلې، ځکه چې پیغمبر ﷺ وویل:"څوک چې د ابو سفیان کور ته ننوځي هغه به په امن کې وي، څوک

---

(١) ابن سعد، الطبقات الكبرى (٢/١٣٦)

(٢) ابن سعد، الطبقات الكبرى (٢/١٣٦) وابن حجر، فتح الباري (٨/١١)

(٣) البخاري (٣/١٤٩) د حديث شميره ده (٤٢٨٠)

(٤) ابن هشام، السيرة النبوية (٣/٥٥)

چې خپل د کور دروازه وتړي هغه به په امن کې وي، او څوک چې کعبې ته ننوځي هغه به په امن کې وي." بيا پيغمبر ﷺ د حجر الاسود پر لور روان شو او په هغه يې لاس کېښود، بيا يې د کعبې څخه طواف وکړ، هغه بت يې مات کړ چې د کعبې تر څنګ و، او ويل يې: "حق راغی او باطل له منځه ولاړ." کله چې يې طواف پای ته ورسيد، د صفا پر سر ته وخوت، کعبې ته يې وکتل، خپل لاسونه يې پورته کړل، او د الله شکر يې ادا کړ او دعا يې وکړه[1].

دا موږ ته د طواف اهميت ښايي، او دا چې کله يو مسلمان مکې ته ننوځي نو بايد طواف پيل کړي، د شکر او دعا اهميت هم ښايي، او د شرک خطر هم چې پيغمبر ﷺ هغه بت مات کړ چې د کعبې تر څنګ و، دا باطل دی، او د الله دين حق دی.

**زده کوونکی:** بيا پيغمبر ﷺ له فتحې وروسته له مکې ووت؟ که په مکه کې پاتې شو؟

**ښوونکی:** پيغمبر ﷺ په شعب ابی طالب کې په يوه خيمه کې پاتې شو، هغه ځای چې قريشو مسلمانان ورسره محاصره کړي وو[2]، پيغمبر ﷺ په مکه کې نولس ورځې پاتې شو، او لمونځ يې قصر کاوه[3].

**زده کوونکی:** ښوونکيه! آيا دوی په سفر کې وو چې لمونځ يې قصر کولو؟

**ښوونکی:** هو. سفر کله د جهاد لپاره وي، يا د تجارت لپاره وي؛ يا د عبادت لپاره وي لکه د حج يا د عمرې سفر، او يا نور مباح کارونه. نو مسلمان لمونځ قصر کوي او يوازې څلور رکعته لمونځ دوه رکعته کوي.

**زده کوونکی:** بيا پيغمبر ﷺ څه وکړل؟

**ښوونکی:** وروسته خلک پيغمبر ﷺ ته راتلل او بيعت يې ورسره کاوه، او اسلام يې قبولو؛ نو خلک به ډلې ډلې د الله دين ته داخلېدل[4]، او دلته سورت النصر نازل شوه: ﴿إِذَا جَآءَ نَصۡرُ ٱللَّهِ وَٱلۡفَتۡحُ ۞ وَرَأَيۡتَ ٱلنَّاسَ يَدۡخُلُونَ فِي دِينِ ٱللَّهِ أَفۡوَاجٗا ۞ فَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ وَٱسۡتَغۡفِرۡهُۚ إِنَّهُۥ كَانَ تَوَّابَۢا﴾ [النصر: ١-٣].

---

(١) مسلم (١٤٠٥/٣-١٤٠٦) د حديث شميره ده (١٧٨٠)

(٢) ابن حجر، فتح الباري (١٩/٨)

(٣) البخاري (١٥٢/٣) د حديث شميره ده (٤٢٩٨)

(٤) البخاري (١٥٦/٣) د حديث شميره ده (٤٢٠٣)

**ژباره:** كله چې د الله مدد راشي او فتح، او ته خلق ووينې چې د الله په دين كې ډلې ډلې داخلېږي، نو ته پاكي بيانوه د خپل رب له ستاينې سره او له ده نه مغفرت غواړه، بېشكه دى تل ښه توبه قبلوونكى دى.

## د حنين غزا:

**ښوونكى: كله چې د هوازن قبيلې د رسول الله ﷺ او د هغه د مكې د فتحې په اړه واورېدل، مالک بن عوف النضري هغوى سره راټول كړل چې د پيغمبر ﷺ سره جګړه وكړي، او د دوى سره د ثقيف[1] او غطفان قبيلې هم راټولې شوې[2].**

**د مسلمانانو تعداد لس زره وو[3]، او ازاد شوو تعداد دوه زره وو[4]، د دښمن تعداد د مسلمانانو د هغې دوه چنده او له هغې هم زيات وو[5].**

**زده كوونكى:** ښوونكيه! **دغه قبيلې ولې د پيغمبر ﷺ سره جنګ كولو، حال دا چې پيغمبر ﷺ د دوى سره جنګ نه دى كړى؟**

**ښوونكى: پوښتنه مو وكړه،! كله چې پيغمبر ﷺ مكه فتح كړه، د طائف قبيلې وېره پيدا شوه چې پيغمبر ﷺ به د دوى لورې ته راشي؛ نو دوى وغوښتل چې د پيغمبر ﷺ سره جنګ وكړي.**

**زده كوونكى:** ښوونكيه! **ولې دا جګړه د حنين په نوم يادېږي؟**

**ښوونكى: دا جګړه د حنين په نوم يادېږي ځكه چې د مسلمانانو او دغو قبيلو ترمنځ جګړه په حنين سيمه كې شوې وه، چې دا د مكې مكرمې او طائف ترمنځ يو خوړګى ده.**

**زده كوونكى: پيغمبر ﷺ د دغو قبيلو د پلان په اړه څنګه خبر شو؟**

---

(١) البخاري (١٥١/٣) د حديث شميره ده (٤٢٩٤)

(٢) ابن هشام، السيرة النبوية (٨٠/٤)

(٣) البخاري (١٥٩/٣) د حديث شميره ده (٤٣٣٧)

(٤) ابن هشام، السيرة النبوية (٨٣/٤)

(٥) ابن حجر، فتح الباري (٢٩/٨)

**ښوونکی:** پیغمبر ﷺ د دغې قبیلې خبرونه ورسیدل چې دوی جگړه کول غواړي؛ نو پیغمبر ﷺ عبدالرحمن بن أبي حدرد الأسلمي ولیږه، ترڅو د خبر د رښتینوالي یقین وکړي، هغه څو ورځې هلته پاتې شو، او بیا راغی او پیغمبر ﷺ ته خبر ورکړ(١).

دا مهمه ده چې د خبر د رښتینوالي یقیني کړو، ترڅو په یو چا تیری ونه کړو او نه پرې ظلم وکړو حتی که دا زموږ دښمنان وي، یا په ټولنیزو مسایلو کې د خپلو مسلمانانو ترمینځ وي، لکه ملگریو ترمینځ د خبر ریښتینوالی یقیني کړو، بلکې په هر کار ددې مراعت وکړ، چې داسې پریکړه ونه کړو چې موږ په هغې کې په ناسمه باندې یو.

**زده کوونکی:** ښوونکیه! دا ښه کار دی، پیغمبر ﷺ بیا څه وکړل کله چې ددې جنگ څخه خبر شو؟

**ښوونکی:** پیغمبر ﷺ د مکې څخه راووت چې د فوځ مشري پخپله کوله، حنین ته د شوال میاشتې په لسمه نیټه ورسیدل(٢).

په لاره کې یو تن وویل: نن ورځ به موږ د زیات تعداد له امله د شکست سره نه مخ کیږو، معنی دا چې دغې قبیلې به په موږ نن ورځ نه غالبه کیږي، دا خبره په پیغمبر ﷺ ډیره گرانه تمامه شوه(٣)، یعنې دغه خبره چې کوم تن وکړه رسول الله ﷺ یې پریشانه کړ، او د دې د بد عاقبت څخه یې ویره محسوسوله.

**زده کوونکی:** ښوونکیه! آیا په دې خبره کې څه غلط وو؟

**ښوونکی:** هو، ځینې خبرې په خوله اسانې دي خو خطرناکې دي، ځکه چې په دې کې ځان ته ډیر اهمیت ورکول او په خپل ځان مغروریدل شامل وو، او الله کبرکوونکي نه خوښوي؛ نو کله چې دا خبره په پیغمبر ﷺ درنه تمامه شوه، ویې ویل: "اللهم بک أحاول، وبک أصاول، وبک أقاتل(٤)."

ژباړه: اې الله زه ستا په مرسته کوښښ کوم، ستا په مرستې سره په دې حمله کوم، او ستا په مرستې سره د دویو سره جنگ کوم.

أصاول او أصول: یعنې زه حمله وروړم، او غالبه کیږم وربانديې، الصولة: حملې او خیز ته وایي.

---

(١) الحاکم، المستدرک (٣/٤٨-٤٩)

(٢) ابن حجر، فتح الباري (٨/٢٧)

(٣) ابن حجر، فتح الباري (٨/٢٧)

(٤) أحمد، المسند (٤/٣٣٣)

**پيغمبر ﷺ اصحابو ته د يوه نبي كيسه وكړه چې د كثرت له امله خوشاله شوي وو. صهيب رضى الله عنه وايي: "رسول الله ﷺ د حنين په ورځ د سهار د لمونځ وروسته د پيغمبر ﷺ شونډو داسې حركت كولو چې مخكې موږ په داسې حركت نه وې، ليدلې. موږ وويل: اې د الله رسوله! ته داسې څه كوې چې مخكې موږ نه يې ليدلې چې تا به كولو. هغه وويل: يو نبي چې له تاسو مخكې و، د خپلې قوم د كثرت له امله خوشحاله شو. هغه وويل: دوى به هيڅ ونه كړي. الله تعالى ما ته وحى وكړه چې خپلې امت ته درې انتخابونه وركړم: يا به پر دوى له بهره داسې دښمن مسلط كړي، چې دوى به ووژني، او يا به وربانديې ولږه راولي. خپلو كې يې مشوره وكړه، هغوى وويل: په دښمن بانديې موږ طاقت نه لرو، او ولږه برداشت كولى نشو، ليكن مرگ ښه دى، الله پرې مرگ راوست، په درې ورځو كې يې اويا زره خلك مړه شول. رسول الله ﷺ وويل: "زه اوس چې د هغوى كثرت وينم، وايم: اللهم بيك احاول وبيك اصاول وبيك اقاتل[1]."**

**ژباړه: اې الله زه ستا په مرسته كوښښ كوم، ستا په مرستې سره په دې حمله كوم، او ستا په مرستې سره د دويو سره جنگ كوم.**

**زده كوونكى:** دا كيسه ډېره گټوره ده ښوونكيه!

**ښوونكى:** هو، په دې كې زموږ لپاره ډيرې گټې دي، په دې كې ويره ده چې انسان د خپل اړتيا، غوښتنو او په زده كړو كې په بريا بلكې په ټول ژوند كې په خپل ځواك، مال، منصب، عقلې ځواك او ملگرو مغروره نشي.

بلكې انسان پوهه شي چې دغه ځواك او ټول اسباب له دې هيڅ هم نشي دفع كولې كه هر څومره دا لوى وي، او يا ډير تعداد ولري، كوم تن چې په اسبابو مغروره وي، او د الله څخه پرته په اسبابو باور لري، الله ورته دا سزا وركوي، چې كوم څه چې  غواړي الله يې ورته نه پوره كوي، يا يې له دغو اسبابو بې برخې كوي، كه هغه مال، منصب، په زده كړه كې عقلې ځواك، ځيركتيا او هوښيارتيا وي او يا داسې نو نعمتونه وي.

بل موږ له دې دا فايده هم ترلاسه كوو چې بېشكه الله هغه انسان نه خوښوي چې په اسبابو باور كوي، بلكې الله هغه انسان خوښوي چې په الله باور كوي او ترڅنگ يې اسباب هم په كار راولي، په دې خبره ځان پوهه كړو چې اسباب د الله د مشيئت پرته نه گټه رسوي او نه تاوان، موږ چې څه ترلاسه كول غواړو بايد چې دعا او په الله توكل وكړو.

---

(١) أحمد، المسند (٣٣٣/۴) د المسند محققين وايي: شعيب آرنؤوط او داسې نور: ددې حديث سند د امام مسلم د شرطونو مطابق صحيح دى (٢٦٢/٣١-٢٦٣)

**موږ ته يې بله فايده دا ده چې اسباب كه كمزوي او يا كم شي، بېشكه يې الله كولی شي چې هغه څه ورته پوره كړي چې لوی لوی اسباب يې نشي پوره كولی، لكه څنگه چې تاسې د بدر په غزا كې ولوستل مسلمانانو ته الله د كم تعداد سره بريا وركړه، بل موږ ته ښايې چې موږ د پيغمبر ﷺ دا وينا ډېره وايو: لا حول ولاقوة الا بالله.**

**زده كوونكی:** ښوونكيه! له دې حالت څخه موږ ډېر څه زده كړل، د جگړې په اړه راته ووایاست، ښوونكيه!

**ښوونكی:** دښمن د حنين په وادۍ كې تيار وو، مسلمانان د جگړې په سهار د هغوي ځواک، او د صفونو ترتيب ته حيران شول.

**د جگړې ميدان ته د مسلمانانو د ښكته كيدو سره ځينې د خپلې اسلحې سره تيار نه، د جگړې په پيل كې مسلمانانو د شكست سره مخ شول، او شا تگ ته مجبور شول[1].**

**په دې كې د الله پاک لوی حكمت وو چې مسلمانانو ته څرگنده كړي، چې بريا په د تعداد په ډېروالي سره نه ده، بلكې بريا د الله له لورې څخه وي، الله د جگړې په پيل كې د مسلمانانو بيان داسې كوي:** ﴿لَقَدۡ نَصَرَكُمُ ٱللَّهُ فِي مَوَاطِنَ كَثِيرَةٖ وَيَوۡمَ حُنَيۡنٍ إِذۡ أَعۡجَبَتۡكُمۡ كَثۡرَتُكُمۡ فَلَمۡ تُغۡنِ عَنكُمۡ شَيۡـٔٗا وَضَاقَتۡ عَلَيۡكُمُ ٱلۡأَرۡضُ بِمَا رَحُبَتۡ ثُمَّ وَلَّيۡتُم مُّدۡبِرِينَ﴾ [التوبة: ٢٥].

**ژباړه:** يقينًا يقينًا الله په ډېرو ځايونو كې ستاسو مدد كړی دی او د حنين په ورځ هم، كله چې خيل ډېر والی تاسو په تعجب كې اچولی وئ، بيا دا (ډېر والی) ستاسو هېڅ په كار رانغی او پر تاسو باندې ځمكه د هغې د ارتوالي باوجود تنگه شوه، بيا تاسو وگرځېدئ، په داسی حال كې چې شا كوونكي وئ.

**په دې آيت كې الله مؤمنانو ته خپل فضل وريادوي، په عزاگانو او سراياو كې الله پاک تاسې په خپل فضل سره بريالي كړي ياست نه په زيات تعداد سره، بريا د الله له لورې څخه وي.**

**د حنين په ورځ هغوی د خپلو تعداد په ډېر والي مغرور شول؛ سره له دې چې په شاتگ يې وكړ، مگر ډېر لږ خلک د پيغمبر ﷺ سره پاتې شول، د پيغمبر ﷺ څخه ثابت دي چې هغه به ويل:: "زه نبی يم، دروغ نه وايم، زه د عبد المطلب زوی يم، اې الله خپل نصرت نازل كړه...[2]" بيا الله خپل نصرت رسول الله ﷺ او مؤمنانو ته نازل كړ، ترڅو پوه شي چې نصرت په كثرت او ځواک سره نه وي، بلكې نصرت يوازې د الله له خوا وي.**

---

(١) أحمد، المسند (٣/٣٧٦-٣٧٧) البخاري (٢/٣٤٠) د حديث شميره ده (٢٩٣٠)

(٢) مسلم (٣/١٤٠١) د حديث شميره ده (٧٩-١٧٧٦)

**زده کوونکی:** ښوونکیه! دا موږ ته د پیغمبر ﷺ ثبات او شجاعت ښایي.

**ښوونکی:** بلکل! پیغمبر ﷺ په شجاعت او ثابت قدمۍ کې یو مثال وو، کله چې جګړه سخته شوه، پیغمبر ﷺ یو موټې خاوره راواخیسته، او د دښمن په مخونو کې یې وویشته، مخونه یې په خاورو ککړ شول، د هر یوتن سترګې الله د دې یو موټي خاورې څخه ډکې کړې، الله ورته شکست ورکړ، پیغمبر ﷺ د جګړې غنیمتونه مسلمانانو ته وویشل(١).

## د طائف غزا:

**ښوونکی:** د حنین له غزوې وروسته د پیغمبر ﷺ پوځ د تېښتې کونکو تعقیب پیل کړ، چې د طائف په لور روان شو، تر دې چې طائف ته نږدې سیمه کې یې پړاو واچو، صحابه د کلا دیوال ته ورنږدې شول، چې د طائف ښار ته د داخلیدو څخه یې مخنیوی کوو، په دغه سیمه کې ځینې صحابه کرام په غشو وویشتل شول او مسلمانانو ونه شوای کولای چې دې کلا ته داخل شي، پیغمبر ﷺ خپل پوځ د یو جومات په نږدې ځای کې ځای په ځای کړ چې پخپله پیغمبر ﷺ جوړ کړی و کله چې دغې ځای ته ورسېد(٢).

د طائف محاصره څلوېښت ورځې روانه وه(٣)، ځینې وایي شل ورځې، او ځینې بیا وایي چې د شلو څخه کمه وه.

**زده کوونکی:** ښوونکیه! دا خو ډېرې ورځې وې!

**ښوونکی:** هو، ډېرې ورځې وې، خو د الله په لاره کې جهاد دغه هڅه او کوشش غواړي، ترڅو خلک اسلام کې داخل شي، تاسو وګورئ، چې پیغمبر ﷺ خپل پوځ د طائف په نږدې سیمه کې ځای په ځای کړ او یو جومات یې جوړ کړ، چې د جومات اهمیت او د لمونځ اهمیت په سختیو او خوشحالیو کې راڅرګندوي.

دغه اوږد محاصره موږ ته د صبر اهمیت هم ښایي، کله چې کوم کارونه ترسره کوو، باید بېړه ونه کړو او نه سستي او بې پروايي رامنځته کړو، بلکې په ټولو کارونو کې باید چالاکي او صبر ولرو، ترڅو الله اجر او ثواب راکړي، په ځینې صحابه کرامو چې د ثقیف

(١) مسلم (١۴٠٢/٣) د حدیث شمیره ده (١٧٧٧)

(٢) ابن هشام، السیرة النبویة (١٢۴/۴-١٢۵)

(٣) مسلم (٧٣٧/٢) د حدیث شمیره ده (١٣۶-١٠۵٩)

قبيلې له لورې غشې ډېر وريدل، ويې ويل: "اې د الله رسوله! ښيرې ورته وکړه." پيغمبر ﷺ وفرمايل: "اى الله، ثقيف ته هدايت ورکړه[١]."

**زده کوونکی:** ما شاء الله تبارک الله. دا د پيغمبر ﷺ ډېره ښه اخلاق وو چې ښيرې يې ورته ونه کړې، بکلې د هدايت دعا يې ورته وکړه، حال دا چې د پيغمبر سره يې جګړه هم کوله.

**ښوونکی:** ډېر ښه، زما بچيانو. ښه مو وکړل چې د پيغمبر ﷺ دغه ښه صفت مو وپېژاند. ځکه زموږ پيغمبر ﷺ د خپلو دښمنانو په وړاندې د بريا هدف نه درلود، بلکې د خلکو په هدايت او له کفر څخه نجات او اسلام ته د داخلېدو هدف يې درلود، چې د جنت او د الله د ښښنې مستحق شي.

همدارنګه موږ هم بايد همداسې واوسو. چې حق او د خلکو د هدايت سره مينه ولرو، او د همدارنګه ګناهګار مسلمانان سره مېنه وکړو چې په سمه لار شي، موږ بايد د خپل ځان لپاره بريا ونه غواړو، بلکې د خير او حق لپاره بريا غواړو.

**زده کوونکی:** بيا د دې محاصره وروسته، څه پېښ شول، ښوونکيه؟

**ښوونکی:** پيغمبر ﷺ له طائف څخه جعرانې ته لاړ، چېرته چې د حنين غنيمتونه وو. پيغمبر ﷺ د غنيمتونو په وېش کې ځنډ وکړ، هيله يې دا وه چې د هوازن قبيله به اسلام ومني؛ او غنيمتونه يې بېرته هغوی ته ورکړي، کله چې هغوی ځنډ وکړ، نو پيغمبر ﷺ غنيمتونه وويشل، بيا د هوازن قبيلې پلاوی راغی، پيغمبر ﷺ هغوی ته د دوی ښځې او ماشومان بېرته ورکړل[٢].

**زده کوونکی:** پيغمبر ﷺ ډېر سخي و.

**ښوونکی:** هو، پيغمبر ﷺ د ټولو خلکو زيات سخي و، هغه د پيسو د اخېستلو هدف نه درلود، بلکې د خلکو د کفر له عذاب څخه د نجات هدف يې درلود، هغه په غنيمتونو وېش کې ځنډ وکړ، په دې هيله چې هغوی به اسلام ومني، او غنيمتونو بېرته هغوی ته ورکړي؛ خو د الله اراده داسې وه چې هغوی وځنډېدل او غنيمتونه وويشل شول، بيا وروسته راغلل، پيغمبر ﷺ هغوی ته د دوی نيول شوي کسان بېرته ورکړل.

---

(١) الترمذي (٦٨٥/٤) د حديث شميره ده (٣٩٤٢)

(٢) البخاري (١٥٥/٣) د حديث شميره ده (٤٣١٨)

همدارنګه د دې غزوې يوه فايده د پيغمبر ﷺ د دعاء قبليدل هم دي ، چې د هوازن لپاره يې دعا وکړه، نو الله د خپل رسول دعا قبوله کړه.

## د تبوک غزا:

**ښوونکی:** د هجرت پّ نهم کال د رجب په مياشت کې د تبوک غزا وشوه[١]، پيغمبر ﷺ ته خبر راغی چې روميانو په شام د ځينو قبيلو په همکارۍ سره ډېر لښکرې راټولې کړې دي[٢]، دغه وخت کې د مسلمانانو پوځ ته د العسرة پوځ نوم ورکړل شو.

**زده کوونکی:** ولې دې پوځ ته د العسرةپوځ نوم ورکړل شو؟ او د العسرة څه معنا ده؟

**ښوونکی:** د العسرة معنا ده: سختي، دا غزوه په ډېرې سختې ګرمۍ کې وشوه، د مسلمانانو سره تيارۍ هم لږ وه، نو ځکه ورته د العسرة پوځ وويل شو، چې د العسرة غزوا هم ورته ويل کيږي، په حديث کې راغلي چې پيغمبر ﷺ وويل: (چا چې د العسرة پوځ تيار کړ، هغه ته جنت دی؛ عثمان بن عفان رضی الله عنه هغه پوځ تيار کړ)[٣].

**زده کوونکی:** عثمان بن عفان رضی الله عنه څخه دې الله راضي شي، چې د مسلمانانو پوځ يې تيار کړ.

**ښوونکی:** هو، هغه جنت په دې نظامي تيارۍ واخيست، نو موږ ته پکار ده چې له دې سخاوت او ښېنې څخه چې د عثمان بن عفان رضی الله عنه ده، زده کړه وکړو او د الله په لاره کې له لګښت کول هېر نه کړو، دا موږ ته دا هم ښايي چې د دعوت، جهاد، او د هر خير په کار کې د مال اهميت څه دی، دا د کار په اهميت دلالت کوي چې انسان کولی شي په خپل مال کې د خير کارونه وکړي، عثمان رضی الله عنه سل اوښان د جګړې لپاره تيار کړل، بيا يې نور خلک هم وهڅول چې مرسته وکړي، هغه بيا دوه سوه اوښان ورکړل، او بيا درې سوه اوښان سره د سامان آلاتو ورکړل[٤].

دا موږ ته ښايي چې سختۍ د دې معنا نه لري چې الله له مسلمانانو يا له يوې مسلمانې ټولنې ناخوښه دی، بلکې دا ازموينه وي ، اجر زياتېدل وي، يا د الله له لوري ازميښت وي.

---

(١) ابن هشام، السيرة النبوية (١٥٩/٤)

(٢) ابن سعد، الطبقات الكبری (١٦٥/٢)

(٣) البخاري (١٨/٣) (٢٩٨/٢-٢٩٩) د حديث شميره ده (٢٧٧٨)

(٤) الترمذي (٥٨٤/٥) د حديث شميره ده (٣٧٠٠)

د رسول الله ﷺ په دغه وخت کې د مسلمانانو پوځ له سختیو سره مخ و، د وخت له امله، د سختې ګرمۍ له امله، او همدارنګه د لږو وسایلو او مال له امله.

**زده کوونکی:** آیا پرته له عثمان رضی الله عنه بل چا مرسته وکړه؟

**ښوونکی:** هو، هر یو مسلمان هغه څه چې یې کولای شول راوړل، ځینو یې نیم صاع راوړي وه، چې تقریباً د نن ورځې په اندازه یو کیلو ګرام دی، چا چې هیڅ نه درلودل، هغوی له پیغمبر ﷺ غوښتنه وکړه چې له هغه سره یو ځای جګړې ته ولاړ شي، ځینې چې څه یې نه درلودل، هغوی پیغمبر ﷺ ته ورغلل چې څه وکړو، مګر پیغمبر ﷺ سره هېڅ نه و چې دوی ته یې ورکړي؛ نو هغوی د اوښکو په ډکو سترګو بېرته لاړل روان شول، ددې له امله هیڅ یې نه درلودل چې له خپلو مسلمانانو ورونو سره برخه واخلي[1]، د دوی صداقت او د الله او د رسول ﷺ سره د مینې له امله، الله په خپل کتاب کې د دوی معذرتونه ومنل.
﴿لَّيۡسَ عَلَى ٱلضُّعَفَآءِ وَلَا عَلَى ٱلۡمَرۡضَىٰ وَلَا عَلَى ٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ مَا يُنفِقُونَ حَرَجٌ إِذَا نَصَحُواْ لِلَّهِ وَرَسُولِهِۦۚ مَا عَلَى ٱلۡمُحۡسِنِينَ مِن سَبِيلٖۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿٩١﴾ وَلَا عَلَى ٱلَّذِينَ إِذَا مَآ أَتَوۡكَ لِتَحۡمِلَهُمۡ قُلۡتَ لَآ أَجِدُ مَآ أَحۡمِلُكُمۡ عَلَيۡهِ تَوَلَّواْ وَّأَعۡيُنُهُمۡ تَفِيضُ مِنَ ٱلدَّمۡعِ حَزَنًا أَلَّا يَجِدُواْ مَا يُنفِقُونَ ﴿٩٢﴾﴾ [التوبة: ٩١-٩٣].

**ژباړه:** هېڅ ګناه او جرم نشته په کمزورو او نه په مریضانو او نه په هغو کسانو چې نه مومي هغه (مال) چې یې ولګوي، کله چې دوی د الله او د هغه د رسول لپاره اخلاص کوي، په نېکی کوونکو باندې هېڅ (د الزام) لار نشته او الله ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی، او نه په هغو کسانو (څه حرج شته) چې هرکله تا ته راغلي دي، د دې لپاره چې ته هغوی ته سورلۍ ورکړې، تا وویل: زه نه مومم هغه (سورلۍ) چې تاسو پر هغې سواره کړم، نو هغوی وګرځي، په داسې حال کې چې د هغوی سترګې په اوښکو سره بهېږي، د دې غم په سبب چې دوی هغه (مال) نه مومي چې دوی یې ولګوي.

**زده کوونکی:** آیا دغو صحابو ته اجر شته، که څه هم دوی له خپلو ورونو سره په غزوه کې ګډون ونه کړ؟

**ښوونکی:** پیغمبر ﷺ د هغوی په اړه ویلي دي: (په مدینه کې داسې خلک شته چې تاسو سره یې هېڅ دره نه ده وهلې، نه مو کومه لار وهلې، مګر هغوی له تاسو سره شریک دي). چا وویل: ایا هغوی په مدینه کې دي؟ پیغمبر ﷺ وویل: هغوی معذرت نیولي دي) [2].

(١) ابن کثیر، تفسیر القرآن العظیم (٢/٣٩٦)
(٢) أحمد، المسند (٣/١٨٢)

**دا ښايي چې که چيرته يو څوک د خير له عمل څخه د عذر له امله منع شي، او په خپله نيت کې صادق وي، الله به يې د دې نيک نيت په اساس اجر ورکړي. موږ بايد په خپلو نيتونو کې پاملرنه وکړو ترڅو چې دا زموږ لپاره د الله سره د خير سرچينه وي.**

**زده کوونکی: آيا مسلمانان تبوک ته لاړل؟**

**ښوونکی: کوم وخت کې چې د پوځ د وتلو اعلان وشو، يعنی د مسلمانانو د تبوک پر لور د حرکت لپاره تيار شول، منافقانو خلکو ته مشوره ورکوله چې له تګ څخه ډډه وکړي، يعنی هڅه يې کوله چې خلک له وتلو څخه را وګرځوي، هغوی پيغمبر ﷺ ته عذرونه وړاندې کول او خلکو ته يې ويل: په ګرمۍ کې مه ځئ. الله چې د خلکو زړونه او نيتونه ښه پيژني، دا ښکاره کړه: ﴿فَرِحَ ٱلۡمُخَلَّفُونَ بِمَقۡعَدِهِمۡ خِلَٰفَ رَسُولِ ٱللَّهِ وَكَرِهُوٓاْ أَن يُجَٰهِدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَقَالُواْ لَا تَنفِرُواْ فِي ٱلۡحَرِّۗ قُلۡ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرّٗاۚ لَّوۡ كَانُواْ يَفۡقَهُونَ ٨١ فَلۡيَضۡحَكُواْ قَلِيلٗا وَلۡيَبۡكُواْ كَثِيرٗا جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ﴾ [التوبة: ٨١-٨٢].**

**ژباړه:** وروسته پاتې کړی شوی خلق، له رسول الله نه شا ته، په خپلو کېناستو باندې خوشحاله شول او دوی بد وګڼل دا چې په خپلو مالونو او ځانونو سره د الله په لاره کې جهاد وکړي او ويې ويل: تاسو په ګرمۍ کې (دې غزا ته) مه وځئ، ته ووايه: بېشکه د جهنم اور د ګرمۍ په لحاظ ډېر سخت دی، که چېرې دوی پوهېدلی، نو دوی دې وخاندې (په دنيا کې) لږ او ودې ژاړي ډېر (په اخرت کې) (دا) جزا ده په سبب د هغو عملونو چې دوی به کول.

**زده کوونکی:** **ښوونکيه! دا منافقان د مسلمانانو په ليکو کې يوه لويه ستونزه ده.**

**ښوونکی: هو، منافقت او منافقين يوه لويه ستونزه ده، ځکه چې هغوی اسلام ښکاره کوي او کفر پټوي. مسلمان بايد له دوی څخه د ساتنې او د دوی له اخلاقو او عاداتو څخه ځان وساتي، لکه د مسلمانانو له خير څخه منع کول، د مسلمانانو ترمنځ بې اتفاقي اچول، يا د الله له طاعت څخه د سستۍ لپاره عذرونه لټول.**

**زده کوونکی:** **ښوونکيه! آيا مسلمانان د منافقينو د خبرو څخه اغېزمن شول؟**

**ښوونکی: مسلمانانو د منافقينو د خبرو څخه اغېزمن نه شول، بلکه هغوی له پيغمبر ﷺ سره د غزوې لپاره لاړل، لکه څنګه چې کعب بن مالک رضی الله عنه بيانوي، هغه وايي: "مسلمانان د رسول الله ﷺ سره ډېر وو، چې د دوی نومونه په يو کتاب کې نه شو ليکلای[1] د هغوی د شمېر د ډېر والي له امله."**

---

(١) البخاري (٣/١٧٦-١٨٠) د حديث شميره ده (٤٤١٨)

**زده کوونکی:** دا ډېر ښه ده چې هېڅوک له پیغمبر ﷺ څخه پاتې نه شول.

**ښوونکی:** هو، یوازې هغه کسان پاتې شول چې د عذر له امله یې نشو تللی، پرته له دې چې کعب بن مالک، هلال بن امیه، او مرارة بن ربیعه العامري رضی الله عنهم له غزوې پاتې شول[۱].

د دوی یوه عجیبه کیسه ده، کله چې پیغمبر ﷺ مدینې ته بېرته راستون شو، هغه کسان چې په غزوه کې یې ګډون نه و، کړی، پیغمبر ﷺ ته یې عذر وړاندې کړل، او د هغوی عذرونه یې ومنل او ښښنه یې ورته وکړه[۲]، مګر دې درې کسانو وویل: موږ له پیغمبر ﷺ سره د تللو څخه د منع کیدوهېڅ عذر نه لرو، کعب بن مالک رضی الله عنه پیغمبر ﷺ ته وویل: "که نن درته دروغ ووایم، ته به پرې راضي شې، نو ژر دی چې الله به دې څخه خفه کړي، په الله قسم چې ما د پاتي کیدو هېڅ عذر نه درلود."[۳]

**زده کوونکی:** قسم په الله ښوونکیه! دا یوه عجیب او ستر موقف دی.

**ښوونکی:** هو، هغه پوهیده چې الله په هر څه پوهیږي، نو دروغ ورته ګټه نه لري، پیغمبر ﷺ دې درې کسانو ته وخت ورکړ، ترڅو چې الله د دوی په اړه پریکړه وکړي، پیغمبر ﷺ دوی ته امر وکړ چې له دوی سره خبرې ونه کړي، دوی له سختۍ سره مخ شول، څلوېښت ورځې وروسته، الله د دوی توبه ومنله او د دوی د صداقت له امله ورته ښښنه وکړه، الله د دوی په اړه آیتونه نازل کړل چې موږ یې په قرآن کې تلاوت کوو: ﴿وَعَلَى ٱلثَّلَٰثَةِ ٱلَّذِينَ خُلِّفُواْ حَتَّىٰٓ إِذَا ضَاقَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلۡأَرۡضُ بِمَا رَحُبَتۡ وَضَاقَتۡ عَلَيۡهِمۡ أَنفُسُهُمۡ وَظَنُّوٓاْ أَن لَّا مَلۡجَأَ مِنَ ٱللَّهِ إِلَّآ إِلَيۡهِ ثُمَّ تَابَ عَلَيۡهِمۡ لِيَتُوبُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ﴾ [التوبة: ۱۱۸].

**ژباړه:** او په هغو درې کسانو باندې چې وروسته کړی شوی وو، تر دې چې په دوی باندې ځمکه، سره د هغې له ارت والي تنګه شوه او په دوی باندې خپل ځانونه (هم) تنګ شول او دوی یقین وکړ چې د الله (له عذاب) نه د پناه هېڅ ځای نشته مګر هم ده ته دی، بیا هغه (الله) په دوی مهرباني وکړه، د دې لپاره چې دوی توبه وباسي ـ، بېشکه چې الله، هم دی ښه توبه قبلوونکی، بې حده مهربان دی.

**زده کوونکی:** غزوه څنګه شوه؟ آیا په تبوک کې جګړه وشوه؟

---

(۱) مسلم (۴/۲۱۲۰-۲۱۲۸) د حدیث شمیره ده (۲۷۶۹)

(۲) مسلم (۴/۲۱۲۰-۲۱۲۸) د حدیث شمیره ده (۲۷۶۹)

(۳) مسلم (۴/۲۱۲۰-۲۱۲۸) د حدیث شمیره ده (۲۷۶۹)

**ښوونکی:** الله خپل رسول ﷺ او صحابه کرامو رضی الله عنهم ته روغ وساتل، هېڅ دښمن یې ونه موند، بیرته په امن او خوشحالۍ سره راستانه شول، د مدینې خلکو پیغمبر ﷺ او صحابه کرامو ته په بېرته راتلو ښه راغلاست وویلو[1].

## د وفدونو کال:

**ښوونکی:** نهم کال د وفدونو د کال په نامه یادیږي، ځکه کله چې مکه فتحه شوه، ثقیف قبیلې اسلام قبول کړ، او د تبوک څخه فارغه شو؛ نو د عربو د مختلفو برخو څخه وفدونه راغلل چې پیغمبر ﷺ سره بیعت وکړي.

**زده کوونکی:** ښوونکیه! آیا وفدونه ډېر وو؟

**ښوونکی:** هو، وفدونه ډېر زیات وو، دا شاوخوا شپېته وفدونه وو[2]، دا ښیاي چې صبر، هڅه او کوښښ خومره مهم دي او باید د پایلو په اړه بیړه ونه کړو، پیغمبر ﷺ د خپل قوم له طرفه په اذیتونو صبر کاوه، بیا یې مدینې ته هجرت وکړ، او له خپل قوم او نورو سره یې جنګونه وکړل، صبر یې وکړ، کوښښ یې وکړ چې خلک اسلام ته دعوت کړي، بیا فتحه وشوه، او خلک په وفدونو کې ورته راغلل چې اسلام قبول کړي او بیعت وکړي.

موږ ته په دې کې دا فایده ده چې زموږ تګلاره په صبراو هر د خیر په کار کې چې موږ یې کوو، د پیغمبر ﷺ تګلاره وي.

## حجة الوداع:

**ښوونکی:** د نهم کال په پای کې الله دا آیت نازل کړ:﴿وَلِلَّهِ عَلَى ٱلنَّاسِ حِجُّ ٱلْبَيْتِ مَنِ ٱسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا ۚ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِىٌّ عَنِ ٱلْعَٰلَمِينَ﴾ [آل عمران: ۹۷].

**ژباړه:** او خاص د الله لپاره په خلقو باندی د (هغه د) کور حج کول فرض دی، په هغه چا باندې چې هغه ته د لارې وسَ ولري او څوك چې کافر شه، نو بېشکه الله له مخلوقاتو نه بېخي پروا دی.

---

(١) البخاري (١٨١/٣) د حديث شميره ده (۴۴۲۷)

(٢) ابن سعد، الطبقات الكبرى ( /٢٩١-٣٥٩)

نو پیغمبر ﷺ حج ونه ځنډاوه[1] او سمدلاسه يې اعلان وکړ، په لسم کال کې يې خلکو ته د حج بلنه ورکړه، نو ډېر خلک مدينې ته راغلل چې د پیغمبر ﷺ پیروي وکړي او همغه ډول عمل وکړي لکه څنګه چې پیغمبر ﷺ عمل کوي[2].

**زده کوونکی:** مسلمانان د پیغمبر ﷺ په پیروي باندې ډېر حرص کولو.

**ښوونکی:** هو، صحابه کرام رضی الله عنهم د پیغمبر ﷺ په هر عمل باندې ډېر حرص کوو، نو هر څه يې چې وليدل يا واوريدل، موږ ته يې نقل کړل. دا ښايي چې زموږ وظيفه ده چې د رسول الله ﷺ پيروي وکړو او له سنتو يې څه زيات يا کم نه کړو او نوي شيان ايجاد نه کړو چې پیغمبر ﷺ او صحابه کرام رضی الله عنهم پرې عمل نه کاوه.

**زده کوونکی:** آيا دا د پیغمبر ﷺ لومړنی حج وو؟

**ښوونکی:** د هجرت نهم کال پورې الله حج فرض کړی نه وو؛ نو پیغمبر ﷺ له دې وړاندې حج نه وو کړی، دا يې لومړنی حج وو، او له دې وروسته يې هم حج نه دی کړی[3]، ځکه وروسته بيا وفات شو. نو دا حج د وداع په نامه ځکه ياديږي.

**زده کوونکی:** ښوونکيه! په دې حج کې څه پيښ شول؟

**ښوونکی:** په عرفه کې الله دا آيت نازل کړو: ﴿أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ وَأَتۡمَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ نِعۡمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلۡإِسۡلَٰمَ دِينٗاۚ فَمَنِ ٱضۡطُرَّ فِي مَخۡمَصَةٍ غَيۡرَ مُتَجَانِفٖ لِّإِثۡمٖ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ﴾ [المائدة: ٣].

**ژباړه:** نن ورځ ما تاسو لپاره ستاسو دين مکمل کړو او ير تاسو باندی می خپل نعمتونه تمام کړل او ما تاسو لپاره اسلام د دين په توګه خوښ کړو، نو څوك چې په سخته لوږه کې مجبور شو، په دې حال کې چې ګناه ته مايل کېدونکی نه وي، بيا نو يقيناً الله ډېر بخښونکی، بې حده مهربان دی.

دا ښايي چې الله موږ ته دا دين مکمل کړی دی، نو موږ بايد څه زيات يا کم نه کړو، دا په هر څه کې بشپړ دی. موږ بايد دا دين زده کړو، پوه شو او پرې عمل وکړو. دا دين لوی نعمت دی، الله دا نعمت بللی دی، نو بايد الله ته د دې نعمت شکر وکړو، او پرې عمل وکړو او دې ته خلک دعوت کړو. پیغمبر ﷺ په دې حج کې خطبه وکړه او ويې ويل: "ستاسو

(١) ابن قيم الجوزية، زاد المعاد (٥٩٥/٣)

(٢) مسلم (٨٨٦/٢-٥٥٧) د حديث شميره ده (١٢١٨)

(٣) البخاري (١٧٤/٣) د حديث شميره ده (٤٤٠٤)

**وينې او مالونه پر تاسو حرام دي لکه څنګه چې دا نن ورځ، دا مياشت او دا ښار حرام دي.[١]"**

**زبير له جابر رضي الله عنه څخه روايت کوي چې : (ما د نحر په ورځ پيغمبر ﷺ وليد چې پر خپله اوښه يې زغلوله، او ويې ويل: "زما څخه د خپل حج مناسک زده کړئ، ځکه زه نه پوهيږم چې زه به له دې حج وروسته بيا حج وکړم او که نه")[٢]. دا د پيغمبر ﷺ د وفات نږدې کيدو اشاره ده او په دې کې د رسول الله ﷺ څخه د زده کړې او پيروي کولو اهميت دی. نو بايد دا دين زده کړو او په دې کې کوښښ وکړو، او د پيغمبر ﷺ پيروي وکړو.**

## شام ته د اسامه بن زيد سريه ليږل:

**ښوونکی: پيغمبر ﷺ د صفر مياشتې په آخر کې خلکو ته د روميانو سره د جګړې کولو بلنه ورکړه، اسامه د پيغمبر ﷺ له وفات څخه دوه ورځې وړاندې د شنبې په ورځ د تللو تياری نيولی و، په دې سريه کې د مهاجرينو او انصارو لوی خلک شامل وو، لکه ابو بکر، عمر او ابو عبيده رضی الله عنهم. دا د رسول الله ﷺ وروستی سريه وه چې هغه جوړه کړې وه[٣].**

**زده کوونکی: د ندب معنی څه ده، ښوونکيه؟**

**ښوونکی: ندب د دې معنی لري چې: خلکو ته يې د روم په وړاندې د جګړې بلنه ورکړه. په دې سريه کې د پيغمبر ﷺ د خپلې امت د ساتنې او دفاع په اړه د هغه پام ښکاري، حتی هغه ناروغ و. دا موږ ته د دې اهميت هم راښايي چې موږ بايد د خپل ژوند تر وروستی شيبې پورې کار وکړو، خپلې امت ته ګټه ورسوو، او د الله رضا ترلاسه کړو.**

**زده کوونکی: دا ډېره مهمه خبره ده، ښوونکيه.**

**ښوونکی: اسامه کم عمره و[٤].**

---

(١) مسلم (٨٨٦/٢-٨٩٢) د حديث شميره ده (١٢١٨)

(٢) مسلم (٩٤٣/٣) د حديث شميره ده (١٤٩٧)

(٣) ابن حجر، فتح الباري (١٥٢/٨)

(٤) ابن سعد، الطبقات الكبرى (١٩٠/٢)

دا ښايي چې مشري بايد د عمر پر اساس نه وي، بلکې د وړتيا او صلاحيت پر اساس وي. لوی خلک له خپل مقام څخه څه له لاسه نه ورکوي، موږ بايد د کوچنيانو وړتياوې ومنو او مرسته يې وکړو چې ښه رهبر شي.

دا ښايي چې ځوانان په ځينو برخو کې ډېرې وړتياوې لري، د موخې د ترلاسه کولو لپاره بايد د هغې مراعات وکړو.

**زده کوونکی:** دا ډېرې ښې ګټې دي، چې موږ د دې سريي د تياری څخه ترلاسه کړې، ښوونکيه! بيا دې سريې سره څه وشول کله چې رسول الله ﷺ وفات شو؟

**ښوونکی:** مسلمانان په جرف کې د شام په لور د تللو لپاره چمتو شوي وو، کله چې پيغمبر ﷺ وفات شو، بېرته مدينې ته راغلل، بيا چې کله ابو بکر صديق رضی الله عنه خليفه شو، د دې سريې چمتو کول او د رسول الله ﷺ امر پوره کول يې اول کار وو. د دې لښکر شمېر درې زره وو[1].

دا ښايي چې خليفه ابوبکر صديق رضی الله عنه د پيغمبر ﷺ امرونه پوره کولو ته څومره اهميت ورکاوه. موږ بايد د پيغمبر ﷺ امرونه په جدي توګه عملي کړو او د هغه له نافرمانۍ څخه ځان وساتو. د رهبر او حاکم امرونه که خير وي، بايد حتی د هغه له وفات وروسته هم عملي شي.

**زده کوونکی:** دا ښې ګټې دي، آيا ټول صحابه له اسامه سره تللي وو؟

**ښوونکی:** لکه څنګه چې تاسو پوهېږئ، په دې سريه کې ابو بکر او عمر رضی الله عنهما ګډون درلود، ابو بکر صديق خليفه شو، نو هغه نشو تللی او د مسلمانانو چارو ساتنه يې کوله، هغه له اسامه بن زيد رضی الله عنه څخه د عمر بن خطاب د پاتې کيدو اجازه وغوښته، اسامه ورته د عمر رضي الله عنه د پاتې کيدو اجازت ورکړو.

**زده کوونکی:** دا ډېره ښکلې خبره ده چې خليفه د سريې له قومندان څخه اجازه غواړي.

**ښوونکی:** هو، اسلام د نظم او احترام دين دی، ابو بکر رضی الله عنه خليفه او حاکم وو، خو بيا يې هم له اسامه بن زيد څخه اجازه وغوښته. دا موږ ته د نورو درناوی او اهميت ښايي، حتی که موږ په لوړ مقام کې هم يو. د نظم او ترتيب اهميت هم موږ ته ښايي، چې موږ بايد د نظم تابع شو، حتی که موږ د تجاوز وړتيا هم ولرو.

**زده کوونکی:** د دې سريې سره بيا څه پيښ شول؟

(١) ابن حجر، فتح الباري (١٥٨/٨)

**نښوونکی:** دا سریه شام ته لاړه او ډېر غنایم یې راوړل، هیڅ یو مسلمان ته زیان ونه رسېد[1].

(۱) ابن سعد، الطبقات الکبری (۱۹۱/۲)

# شپږم څپرکی

# د پیغمبر ﷺ ناورغتیا او وفات

# شپږم څپرکی: د پيغمبر ﷺ ناورغتيا او وفات

## د پيغمبر ﷺ ناروغي او وفات:

**ښوونکی:** دا د الله له رحمتو څخه وه چې د رسول الله ﷺ ملګرو ته يې د هغه د وفات نږدې والی اشاره ورکړه، ځکه د هغه وفات يوه لوی مصيبت وه، رسول الله ﷺ ويلی: (که چېرې يو څوک په کوم مصيبت اخته شي نو زما په مصيبت دې يادونه وکړي، ځکه دا تر ټولو لوی مصيبت دی)[1].

**زده کوونکی:** رښتيا هم د پيغمبر ﷺ وفات د هغه ملګرو لپاره چې ورسره يې ژوند کړی و او ليدلی يې و، يوه لوی مصيبت وه، او دا زموږ لپاره هم يوه مصيبت ده، داسې لکه چې نن وفات شوی وي. خو الله تعالی څه ډول پيغمبر ﷺ او صحابه وو ته د هغه د وفات نږدې والی روښانه کړ؟

**ښوونکی:** صحابه د پيغمبر ﷺ د وفات په نږدې والی له مختلفو اشارو څخه پوهيدلي و. د نصر سورت نزول يو له دې څخه و. په حديث کې راغلي: (...عمر ابن عباس څخه د دې آيت ﴿إِذَا جَآءَ نَصۡرُ ٱللَّهِ وَٱلۡفَتۡحُ﴾ [النصر: ١] په اړه وپوښتل، هغه وويل: دا د رسول الله ﷺ اجل يعنې د مرګ نيټه ده، چې پيغمبر ته يې خبر ورکړ، هغه وويل: څه چې ته وايي زه هم پرې پوهه شوم)[2]. پيغمبر ﷺ په حج کې وويل: "دا د لوی حج ورځ ده. او پيغمبر ﷺ خلکو ته وويل: "اللهم اشهد". او خلکو سره يې خدای پاماني وکړه، خلکو وويل: دا د خدای پاماني حج دی[3]، پيغمبر ﷺ معاذ بن جبل ته وويل کله چې هغه يې يمن ته ولېږه او خدای خدای پاماني يې ورسره وکړه: "يا معاذ! ښايي د دې کال څخه وروسرته ما ونه وينې، ښايي زما په مسجد او قبر به تير شې." معاذ رضي الله عنه د پيغمبر ﷺ په جدايي وژړل[4].

دا د رسول الله ﷺ په کورنۍ او صحابه کرامو د الله مهرباني وه.

**زده کوونکی:** دا واقعا ډېرې لويې او اغيزمنې اشارې دي، ښوونکيه!

---

(١) ابن سعد، الطبقات الكبرى (٢٧٥/٢) دغه الفاظ د هغه دی، مالک، الموطأ (٢٣٦/١) د حديث شميره ده (٤١)

(٢) البخاري (١٨١/٣) د حديث شميره ده (٤٤٣٠)

(٣) البخاري (٥٢٩/١) د حديث شميره ده (١٧٤٢)

(٤) أحمد، المسند (٣٧٦/٣٦) د حديث شميره ده (٣٣٠٥٢)

**ښوونکی:** هو، دا ډېرې اغيزمنې اشارې دي. هغه کسان چې له پيغمبر ﷺ سره يې ژوند کړی و او ليدلی يې و، د هغه څخه جلا کېدل ډېر سخت و. خو الله په هغوی د دې اشارو له لارې رحم وکړ، بيا يې هغوی ته صبر ورکړ.

**زده کوونکی:** پيغمبر ﷺ څنګه ناروغ شو؟

**ښوونکی:** د صفر د مياشتې په وروستيو شپو کې يا د ربيع الاول په پيل کې د پيغمبر ﷺ ناروغي پيل شوه[1]، ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها وايي: کله چې د رسول الله ﷺ ناروغي سخته شوه، هغه له خپلو مېرمنو اجازه وغوښته چې د ناروغۍ ورځې په خپل کور تيرې کړې، هغوی اجازه ورکړه. نو هغه په داسې حالت کې و چې د دوو کسانو تر منځ يې په مځکه باندې پښې لوېدلې وې به بهر ته وتلو[2].

**زده کوونکی:** ولې پيغمبر ﷺ له خپلو مېرمنو اجازه وغوښته؟

**ښوونکی:** دا ښه پوښتنه ده. پيغمبر ﷺ د خپلو مېرمنو ترمينځ انصاف کولو ته ډېر پاملرنه کوله، هرې يوې لپاره يې ځانګړې ورځ ټاکلې وه. کله چې ناروغي سخته شوه، هغه نه شو کولای چې د هغوی تر منځ تګ وکړي. د هغوی حقوقو د ساتنې او د هغوی زړونو د خوشحالۍ لپاره يې له هغوی څخه اجازه وغوښته چې د عائشې رضي الله عنها په کور کې ناروغي تيره کړي، ټولو ورته اجازه ورکړه. فرضي الله تعالی عنهن.

**زده کوونکی:** آيا پيغمبر ﷺ ته کوم ځانګړي ناروغۍ رسيدلې وه؟

**ښوونکی:** هغه څه چې پيغمبر ﷺ ترې شکايت کاوه هغه د زهرو اثر و چې په خيبر کې ورکړل شوی و. عائشې رضي الله عنها ته يې په دې ناروغۍ کې وويل: "زه لا تر اوسه د خيبر دخواړو درد احساسوم"[3].

د ناروغۍ شدت له امله به پيغمبر ﷺ غوښتل چې پر ما اوه بوقي اوبه واړوئ، د دې لپاره چې خلکو ته ووځي، او وصيت ورته وکړي، اوبه به يې ورباندې واړولې، بيا خلکو ته ووتلو، د لمونځ امامت به يې ورته وکړو او وعظ به يې وکړو[4].

---

(١) ابن هشام، السيرة النبوية (٢٩١/٤)

(٢) البخاري (١٨٣/٣-١٨٤) د حديث شميره ده (٤٤٤٢)

(٣) البخاري (١٨١/٣) د حديث شميره ده (٤٤٢٨)

(٤) البخاري (١٨٣/٣-١٨٤) د حديث شميره ده (٤٤٤٢)

**پیغمبر ﷺ به د ناروغۍ د سختۍ له امله خپل کمیس په خپل مخ راچاوه او ویل به یې: "الله دې په یهودو او نصاراو لعنت وکړي، چې د خپلو پیغمبرانو د قبرونو څخه یې مسجدونه جوړ کړي دي[۱].**

**زده کوونکی:** آیا دا معنا لري چې په قبرونو باندې مسجدونه جوړول روا نه دي، ښوونکیه؟

**ښوونکی:** هو، ډېر ښه چې ښه وپوهیدئ، پیغمبر ﷺ د الله توحید راوړی و، چې یوازې د الله عبادت وکړو، او له الله سره هېڅ شی شریک نه کړو، مسجدونه د الله دي لکه څنګه چې الله فرمايي: ﴿وَأَنَّ ٱلْمَسَٰجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدْعُواْ مَعَ ٱللَّهِ أَحَدًا﴾ [الجن: ۱۸].

**ژباړه:** او دا چې یقینًا جوماتونه خاص د الله لپاره دي، نو تاسو له الله سره بل هیڅوك مه بلئ.

**د پیغمبر ﷺ د دې خبرې اهمیت هم په دې کې دی چې دا عمل حرام دی.**

**زده کوونکی:** پیغمبر ﷺ د خپل امت د شرک په وړاندې ډېر حساس و، الله دې موږ ترې وساتي، او همدارنګه د خپل امت د ګټې او نصیحت لپاره حتی په خپلو وروستیو شېبو کې حرصناک و.

**ښوونکی:** هو، پیغمبر ﷺ د خپل امت په اړه ډېر حساس و لکه څنګه چې الله فرمايي: ﴿لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِٱلْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ﴾ [التوبة: ۱۲۸].

**ژباړه:** یقینًا یقینًا تاسو ته له هم ستاسو له جنسه نه رسول راغلی دی، هغه څه چې تاسو یه تکلیف کې اچوی؛ یه ده ډېر سخت (او درانه) دی، ستاسو (د هدایت) لپاره پر تاسو باندې ډېر حرصناك دی، په مومنانو باندې ډېر نرمي کوونکی، ډېر مهربان دی.

**پیغمبر ﷺ په دې ناروغۍ کې ویل: "لمونځ او هغه څه چې ستاسو لاسونه یې مالکان دي[۲]". هغه به دا خبرې پرله پسې تکرارولې. دا د لمانځه اهمیت او د ښځو د حقوقو اهمیت ښايي.**

**پیغمبر ﷺ به خپل لاس په اوبو کې لمدوه او بیا به یې په خپل مخ راښکلو، او ویل به یې: "لا إله إلا الله[۳]". ام المؤمنین عائشه رضي الله عنها وایي: هغې د پیغمبر ﷺ څخه اوریدلي وو او ورته یې غوږ نیولې وه، مخکې له دې چې هغه وفات شي، پیغمبر ﷺ د هغې په شاته**

---

(۱) البخاری (۱۸۳/۳) د حدیث شمیره ده (٤٤٤۱)

(۲) ابن ماجه (٥۱۹/۱) د حدیث شمیره ده (۱٦۲٥)

(۳) البخاري (۱۸٥/۳) د حدیث شمیره ده (٤٤٤۹)

**ته تکیا کړې وه، ویې ویل: "یا الله! ما وبخښه او رحم راباندې وکړه او ما له رفیق اعلی سره مل کړه"[١].**

**پیغمبر ﷺ ویل: "هغه کسان چې الله تعالی پرې خپل نعمتونه لورولي دي[٢]". پیغمبر ﷺ ویل کله چې هغه روغ و: "د هیڅ پیغمبر روح نه اخیستل کیږي تر هغه پورې چې جنت کې خپل ځای ونه ویني، بیا اختیار ورکړل شي." کله چې هغه ناروغه شو، او سر یې زما په ورون باندې و، بې هوشه شو. بیا یې سترګې د کور چت ته واړولې او ویې ویل: "یا الله! رفیق اعلی سره مې مل کړې". نو ما وویل: "هغه به موږ انتخاب نه کړي". او پوه شوم چې پیغمبر هغه خبرې کوي چې موږ ته یې په روغتیا کې ویلې وې. عائشه رضي الله عنه وايي: د هغه وروستۍ خبرې دا وې: "یا الله! رفیق اعلی سره مې مل کړې[٣]". بیا هغه وفات شو ﷺ.**

**زده کوونکی: دا یوه اسانه صحنه نه وه.**

**ښوونکی: هو، دا یو سخت حالت او لویه پېښه وه، نو کله چې صحابه کرامو رضي الله عنهم د پیغمبر ﷺ د وفات خبر واورید، نو دوی حیران شول او په ژړا شول. دوی د رسول الله ﷺ په جومات کې راټول شول، او ابوبکر صدیق رضي الله عنه راغی، د الله حمد او ثناء یې وویله، او وې ویل: هر هغه څوک چې د محمد ﷺ عبادت کوي، نو محمد ﷺ وفات شوی دی، او څوک چې د الله عبادت کوي؛ نو الله ژوندی دی او نه مري. او بیا یې وویل (إنك ميت وإنهم ميتون) او د الله تعالی دا قول یې تلاوت کړ: ﴿وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ ٱلرُّسُلُ ۚ أَفَإِيْن مَّاتَ أَوْ قُتِلَ ٱنقَلَبْتُمْ عَلَىٰٓ أَعْقَـٰبِكُمْ ۚ وَمَن يَنقَلِبْ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ فَلَن يَضُرَّ ٱللَّهَ شَيْـًٔا ۗ وَسَيَجْزِى ٱللَّهُ ٱلشَّـٰكِرِينَ﴾ [آل عمران: ١٤٤]، نو خلکو په ژړا پیل وکړ[٤].**

**د پیغمبر ﷺ د ناروغۍ موده تقریباً دیارلس ورځې وه، او د هغه وفات د ربیع الاول په دولسمه ورځ د دوشنبې په ورځ وشو. هغه ته په خپلو جامو کې د سېشنبې په ورځ غسل ورکړل شو، عباس، علي، فضل، قثم بن عباس، اوس بن خولي او شقران ورته غسل ورکړ[٥]. په درې یماني سپینو جامو کې کفن ورکړل شو، بیا په خپل بستر کې کېښودل شو، نو خلک ډلې ډلې راتلل او لمونځ یې پرې کاوه او بیا وتل، چا یې امامت نه کاوه. قبر یې په هغه ځای**

---

(١) البخاري (١٨٣/٣) د حدیث شمیره ده (٤٤٤٠)

(٢) البخاري (١٨٣/٣) د حدیث شمیره ده (٤٤٣٥)

(٣) البخاري (١٨٧/٣) د حدیث شمیره ده (٤٤٦٣)

(٤) البخاري (١١/٣) د حدیث شمیره ده (٣٦٦٨)

(٥) ابن سعد، الطبقات الکبری (٢٧٤/٢-٢٨٠)

**کې چې وفات شو وکیندل شو چې د عائشې رضي الله عنها کوټه وه[١]، د وفات پر مهال یې عمر درې شپیته کاله و[٢]. هغه په داسې حال کې وفات شو چې د هغه زغره د یو یهودي سره د درویشتو صاعو په بدل کې گاڼه وه[٣]، هغه دینار او درهم پرې نښودل. عمرو بن حارث وایي: رسول الله ﷺ نه دینار پرېښودل، نه درهم، نه غلام او نه وینځه، یوازې ترې خپله سپینه قچر چې هغه پرې سپرېده، پاتې شوه، وسله، او یوه ټوټه ځمکه چې هغه یې د لاروې مسافرو لپاره صدقه کړې وه پاتې شول[٤].**

إنا لله وإنا إليه راجعون، اللهم ارزقنا حبك وحب نبيك محمد صلى الله عليه وسلم والعمل بكتابك وسنة بنبيك وسنة نبيك محمد صلى الله عليه وسلم واجمعنا به أعلى جنة الفردوس، واجعلنا هداة مهتدين، وهادين لكتابك ولسنة نبيك محمد صلى الله عليه وسلم.

---

(١) ابن سعد، الطبقات الكبرى (٢/٢٩٢)

(٢) البخاري (٣/١٨٧) د حديث شميره ده (٤٤٦٦)

(٣) البخاري (٣/١٨٧) د حديث شميره ده (٤٤٦٧)

(٤) البخاري (٣/١٨٦) د حديث شميره ده (٤٤٦١)

## پايله:

الحمدلله الذي تفضل بمنه وتوفيقه على إتمام هذا الكتاب، والصلاة والسلام على نبينا وقدوتنا محمد بن عبدالله أفضل الصلاة والتسليم.

**دا د الله تعالى فضل دی چې زموږ لپاره يې محمد بن عبدالله ﷺ نبی او رسول وټاکه، نو هغه د بهترينو صفاتو او کامل اخلاقو نمونه وه، هغه د نړۍ لپاره رحمت و، لکه څنګه چې زموږ رب غوښتل، الله په هغې سره دين مکمل کړ او د اسلام نعمت يې بشپړ کړ، موږ يې په سپينې لار پرېښودو، او موږ ته يې په عبادت، اخلاقو او معاملاتو کې عملي منهج راښود، د هغه سپېڅلی سيرت د مسلمانانو لپاره د دنيا او آخرت د بريا او کاميابۍ لار ده.**

**زموږ واجب دا دی چې دا سيرت زده کړو، عمل ورباندې وکړو، خپلو بچيانو، اولادونو او ټولومسلمانانو ته يې وښايو، د خلکو په مينځ کې ددې د خپرولو کوښښ وکړو، ترڅو خپل پيغمبر ﷺ وپيژني، د هغې د صفاتو او افعالو څخه اغيزمن شي، او د الله په دين کې داخل شي، هغه دين چې الله د انسانانو د شر، فتنې، څخه وژغورې، او د خير او بريا په لاره يې روان کړي، د اور څخه يې وساتي او جنت ته يې داخل کړي، چې هغې ته يوازې او يوازې يوه لار ده چې هغه د محمد ﷺ تګلاره ده.**

اللهم وفقنا للتأسي برسولك محمد صلى الله عليه وسلم والاقتداء به، والسير وفق سيرته وسنته صلى الله عليه وسلم ومرافقته في أعلى جنة الفردوس، واجعلنا هداة مهتدين، داعين وناشرين لدينك الحنيف، خادمين له بكل مانستطيع، وفي كل وجه من أوجه الخير يا رب العالمين، واختم بالصالحات أعمالنا.

واجمعنا في أعلى جنة الفردوس مع الذين أنعمت عليهم من النبيين والصديقين والشهداء، واجعل اللهم هذا الكتاب مباركًا نافعا وصدقة جارية إلى يوم الدين.

والحمدلله رب العالمين والصلاة والسلام على نبينا محمد وعلى آله وصحابته أجمعين.

# مصادر او مراجع

- القرآن الكريم.
- ابن الأثير، عز الدين أبو الحسن علي بن أبي الكرم: أسد الغابة(د.م): الشعب،١٩٧٠م
- ابن الأثير، مجد الدين المبارك بن محمد الجزري: النهاية في غريب الحديث والأثر، تحقيق طاهر أحمد الزواوي ومحمود أحمد الطناجي، بيروت: دار لفكر
- الأصفهاني، أبو القاسم الحسين بن محمد: المفردات في غريب القرآن، تحقيق محمد سيد كيلاني، بيروت: دار المعرفة ( د.ت)
- الأصفهاني، أبو موسى محمد أبي بكر بن أبي عيسى المديني، المجموع المغيث في غريبي القرآن والحديث، تحقيق عبدالكريم العزباوي، چاپ وار ١، مكة المكرمة مركز البحث العلمي واحياء التراث الإسلامي بجامعة أم القرى ، ١٤٠٦هـ ١٩٨٦م
- أكرم ضياء العمري، السيرة النبوية الصحيحة، المدينة المنورة، مكتبة العلوم والحكم، ١٤١٢هـ ١٩٩٢م
- الألباني، محمد ناصر الدين، صحيح سنن الترمذي، چاپ وار ١، الرياض: مكتب التربية العربي لدول الخليج، ١٤٠٨هـ ١٩٨٨م
- الألباني، محمد ناصر الدين، صحيح سنن أبي داود، چاپ وار ١، الرياض: مكتب التربية العربي لدول الخليج، ١٤٠٩هـ ١٩٨٩م
- الألباني، محمد ناصر الدين، صحيح سنن النسائي، چاپ وار ١، الرياض: مكتب التربية العربي لدول الخليج، ١٤٠٩هـ ١٩٨٨م
- الألباني، محمد ناصر الدين، صحيح سنن ابن ماجه، چاپ وار ٣، الرياض: مكتب التربية العربي لدول الخليج، ١٤٠٨هـ ١٩٨٨م
- البخاري، محمد بن إسماعيل: الجامع الصحيح، شرح وتحقيق محب الدين الخطيب، ترقيم محمد فؤاد عبد الباقي، نشر ومراجعة قصي محب الدين الخطيب، چاپ وار ١، القاهرة: المطبعة السلفية، ١٤٠٠هـ
- البلاذري، فتوح البلدان.
- البيهقي، أبو بكر محمد بن الحسين، دلائل النبوة، تعليق عبد المعطي قلعجي، بيروت: دار الكتب العلمية، ١٩٨٥م

- الترمذي، أبو عيسى محمد بن عيسى بن سورة: الجامع الصحيح، تحقيق أحمد محمد شاكر، مكة المكرمة: دار البار(د.ت)
- ابن الجوزي، زاد المسير في عم التفسير، تحقيق محمد عبدالرحمن عبدالله، بيروت: دار الفكر، ١٤٠٧هـ
- خالد بن حامد الحازمي، الفوائد السنية من السيرة النبوية، المدينة المنورة، دار الزمان، ١٤٢٧هـ ٢٠٠٦م
- الحاكم، أبو عبد الله الحاكم النيسابوري، المستدرك على الصحيحين، وبذيله التلخيص للحافظ الذهبي، إشراف يوسف عبد الرحمن المرعشلي، بيروت: دار المعرفة، ١٤٠٦هـ ١٤١٩٨٦م
- ابن حجر، أحمد بن علي بن حجر العسقلاني: فتح الباري بشرح صحيح البخاري، تعليق عبد العزيز بن باز، تبويب محمد فؤاد عبد الباقي، بيروت: دار المعرفة(د.ت)
- أبو داود،سليمان بن الأشعث الأزدي: سنن أبي داود، إعداد وتعليق عزت عبيد الدعاس،وعادل السيد،ط،١بيروت: دار الحديث،١٣٨٨هـ ١٩٦٩م
- الذهبي، شمس الدين محمد بن أحمد، سير أعلام النبلاء، تحقيق شعيب الأرنؤط وآخرون، چاپ وار ،٦بيروت: مؤسسة الرسالة، ١٤٠٦هـ ١٩٨٦م
- السعدي،عبدالرحمن بن ناصر: تيسير الكريم الرحمن في تفسير كلام المنان،جدة: دار المدني، ١٤٠٨هـ ١٩٨٨م
- ابن سعد، الطبقات الكبرى، بيروت: دار صادر، ١٤٠٥هـ ١٩٨٥م
- أبو الطيب أبادي، عون المعبود شرح سنن أبي داود، تحقيق عبدالرحمن محمد عثمان، مؤسسة قرطبة، القاهرة: چاپ وار ٢، ١٣٨٨ هـ ١٩٦٨ م
- الفيومي، أحمد بن محمد بن على المقري، المصباح المنير في غريب الشرح الكبير للرفاعي، بيروت: دار القلم، (د.ت)
- ابن قيم الجوزية: شمس الدين محمد بن أبي بكر، زاد المعاد في هدي خير العباد، تحقيق شعيب الأرنؤوط، وعبد القادر الأرنؤوط، چاپ وار ،١٣بيروت: مؤسسة الرسالة، ١٤٠٦هـ ١٩٨٦م
- ابن كثير، عماد الدين أبو الفداء إسماعيل: تفسير القرآن العظيم،چاپ وار ،٢بيروت: دار المعرفة،١٤٠٧هـ ١٩٨٧م

- ابن كثير، عماد الدين أبو الفدء إسماعيل، البداية والنهاية، تحقيق أحمد أبو ملحم وآخرون، چاپ وار ،١القاهرة: دار الريان، ١٤٠٨هـ ١٩٨٨م
- ابن ماجة ، محمد بن يزيد القزويني ، سنن ابن ماجة ، تحقيق محمد فؤاد عبد الباقي ( د . م ) دار أحياء التراث العربي ، ( د . ت)
- مالك بن أنس، الموطأ، تحقيق محمد فؤاد عبد الباقي، بيروت: دار إحياء التراث العربي، ١٤٠٦ هـ ١٩٨٦م
- مسلم، ابو الحسين مسلم بن الحجاج القشيري النيسابوري: صحيح مسلم، تحقيق محمد فؤاد عبد الباقي، القاهرة: دار الحديث(د.ت)
- ابن منظور، أبي الفضل جمال الدين محمد بن مكرم: لسان العرب، بيروت: دار صادر (د.ت)
- مهدي رزق الله أحمد، السيرة النبوية في ضوء المصادر الأصلية، الرياض: مركز الملك فيصل، ١٤١٢هـ ١٩٩٢م
- النسائي، أبو عبد الحمن أحمد بن شعيب، سنن النسائي، بشرح الحافظ جلال الدين السيوطي، وحاشية الإمام لسندي، ترقيم عبد الفتاح أبو غدة، چاپ وار ١، بيروت: مكتب لمطبوعات الإسلامية بحلب، ١٤٠٦هـ ١٩٨٦م
- النووي، محيي الدين أبو زكريا يحي بن شرف، المنهاج في شرح صحيح مسلم بن الحجاج، بيروت، دار الكتاب العربي، ١٤٠٧هـ ١٩٨٧م.
- ابن هشام، أبو محمد عبدالملك محمد بن هشام بن أيوب الحميري: السيرة النبوية، تحقيق مصطفى السقا واخرون، بيروت: دار القلم (د.ت).
- الهيثمي، نور الدين علي بن أبي بكر، مجمع الزوائد ومنبع الفوائد، تحير الحافظين العراقي وابن حجر، القاهرة، بيروت: دار الريان، ١٤٠٧هـ ١٩٨٧م
- الواقدي،محمد بن عمر، المغازي، بيروت: عالم الكتب (د.ت)
- أبو يعلى، أحمد بن علي بن المثنى التميمي، المسند، تحقيق حسين سليم أسد، چاپ وار ١، دمشق: دار المأمون للتراث، ١٤٠٧هـ ١٩٨٧م

# فهرس

**سرليک ........................................................... ٣**

لومړی څپرکی.............................................................. ٤

له پيدايښته تر بعثته..................................................... ٤

**لومړی څپرکی: له پيدايښته تر بعثته .............................. ٥**

د رسول الله ﷺ پيدايښت..................................................... ٥

١. د رسول الله ﷺ د پيدايښت ځای:........................................ ٥

٢. د پيغمبر ﷺ د زيږېدو نېټه:............................................... ٦

د پيغمبر محمد ﷺ نسب:........................................................ ٩

د پيغمبر محمد ﷺ يتيم والی:.................................................. ٩

د خپل نيکه عبدالمطلب په سرپرستي کې:................................ ١٣

د خپل تره ابو طالب په سرپرستی کې:..................................... ١٤

عملي ژوند:.................................................................. ١٥

د پيغمبر ﷺ واده:............................................................. ١٦

حلف الفضول:................................................................ ١٧

د کعبې جوړول:.............................................................. ١٨

**دويم څپرکی: له بعثته تر هجرته ..................................... ٢٢**

نبوي بعثت:.................................................................... ٢٢

د دعوت لومړی پړاو (مرحله):................................................ ٢٧

د پيرې مسلمانيدل:........................................................... ٢٨

د دعوت دويم پړاو (مرحله):.................................................. ٢٩

پيغمبر ﷺ ته د اذيت ورکولو طريقې:.......................................... ٣١

هغه صحابو ته د اذيت ورکولو طريقې چې اسلام يې قبول کړی و:............٣٥
د پيغمبر ﷺ د رسالت د بندولو لپاره مذاکرات (مفاوضات)............٣٧
د پيغمبر ﷺ د تره ابو طالب سره مذاکرات............٣٨
د عتبه بن ربيعة سره مذاکرات............٣٩
د معجزاتو غوښتنه:............٤١
حبشې ته هجرت:............٤٣
د هجرت په ځای کې د مسلمانانو تنګول:............٤٤
د حمزه رضي الله عنه مسلمانيدل:............٤٨
د عمر بن الخطاب رضي الله عنه مسلمانيدل:............٤٩
د شعب ابي طالب محاصره:............٥١
د ابو طالب او خديجې رضي الله عنها وفات:............٥٣
د رسول الله ﷺ طائف ته تلل:............٥٤
اسراء او معراج:............٥٩
ټولو قبايلو ته د دعوت منلو وړاندېز يا غوښتنه:............٦١
د لومړنی عقبې بيعت:............٦٤
د دويمې عقبې بيعت:............٦٥
**دريم څپرکی: مدينې ته هجرت ............٦٨**
مدينې ته هجرت:............٦٨
د هجرت مقدمات:............٦٨
د هجرت لپاره چمتووالی:............٦٩
د غار ثور حالت:............٧٣
د غار څخه د ساحلي لارې پر خوا تلل:............٧٤
پيغمبر د يوې ډبرې سيورې ته:............٧٥
سراقه بن مالک د پيغمبر ﷺ په لټون کې:............٧٧

د ام معبد خيمه:............................................................................ ٧٩
هغه شپون چې مسلمان شو:................................................................. ٨٠
په لاره کې کالي ترلاسه کول:............................................................... ٨١
مدينې ته د ننوتلو پر وخت له هرکلي ډک مراسم:.................................. ٨٢
**څلورم څپرکی: د اسلامي حکومت جوړول.................................... ٨٦**
په مدينه کې ټولنيز ژوند...................................................................... ٨٦
د مسجد جوړول:................................................................................ ٨٦
په مدينه کې د پيغمبر ﷺ د اوسېدو ځای:............................................ ٨٧
د مهاجرينو او انصارو تر منځ د ورورولۍ تړون:..................................... ٨٨
نبوي وثيقه:....................................................................................... ٩٢
د پيغمبر ﷺ کور:.............................................................................. ٩٣
د صُفې والا:...................................................................................... ٩٤
وفودونو ته زده کړه او تعليم:............................................................... ٩٤
د خلکو ته دين ورزده کول:................................................................. ٩٥
په نيزو او غشو لوبې کول:.................................................................. ٩٧
په ماشومانو د پيغمبر ﷺ پاملرنه:........................................................ ٩٧
**پنځم څپرکی: د پيغمبر ﷺ غزاګانې .......................................... ١٠٢**
د پيغمبر ﷺ غزاګانې:......................................................................... ١٠٢
د بدر غزا:......................................................................................... ١٠٣
د احد غزا:........................................................................................ ١٠٩
د بنو نضير غزا:................................................................................ ١١٤
د خندق غزا:..................................................................................... ١١٥
د بنو قريظه غزا:................................................................................ ١٢٠
د حديبيې غزا:................................................................................... ١٢١

د خيبر غزا:........................................................................ ۱۲٦
پاچاهانو او اميرانو ته د پيغمبر ﷺ ليکونه:........................................ ۱۳۰
عمرة القضاء:........................................................................ ۱۳۰
د مکې فتحه:........................................................................ ۱۳۲
د حنين غزا:........................................................................ ۱۳۸
د طائف غزا:........................................................................ ۱٤۲
د تبوک غزا:........................................................................ ۱٤٤
د وفدونو کال:........................................................................ ۱٤۸
حجة الوداع:........................................................................ ۱٤۸
شام ته د اسامه بن زيد سريه ليږل:........................................ ۱۵۰
**شپږم څپرکی: د پيغمبر ﷺ ناورغتيا او وفات ........................ ۱۵۴**
د پيغمبر ﷺ ناروغي او وفات:........................................ ۱۵٤
پايله:........................................................................ ۱۵۹
**مصادر او مراجع ........................................................ ۱٦۰**
**فهرس ........................................................................ ۱٦۳**

مختصر

# نبوي سيرت

## الموجز في السيرة النبوية

النسخة البشتو